شهامت

دیارلسم کال، شپږمه، پرلپسې ۸۶مه کڼه،
رمضان المبارک ۱۴۴۲هــ ق، اپریل ۲۰۲۱م

د پاته ځواکونو د وتلو پیل؛ مثبت ګام دی

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت
او د راتلونکي اسلامي نظام مسؤلیت!

- یو څو ټکي، د ترکیې پر غونډه!!
- د ثور اوومه او اتمه د هېرېدو نه دي!!
- هېواد کې پر ولس ستر وحشت او د نړۍ دردونکې چوپتیا
- د اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو ساتونکي ځواک ته اړتیا

جنګ بیست ساله؛
هزینه‌های که سودی نداشت

- هغه د جهاد مجدد عُمر!
- د بې مثله قائد بې مثله ملګري او د قلموالو مسئولیت
- ملا صاحب رښتیا هم افغانانو ته پیغور پرېښود
- ملا صاحب د غیرت او عظمت څلی!
- ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ځینې تاریخي کارنامې
- د مرحوم ملاصاحب په اړه یوه پرتله او یوه خاطره...!!
- د ثالث عمر تر جوړېدو، د سفر خاطره
- هغه امیر چې هېر شوي مفاهیم یې را ژوندي کړل...!!!

د شعر و شاعري اهمیت او ضرورت

د (ثالث عمر) کتاب لیکوال
قاري عبدالستار سعید شهامت سره په مرکه کې:

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د دې عصر یو له تأثیر ګذارو او مهمو شخصیتونو څخه و، چې وروسته له ډېرو کلونو یې د یوه واقعي اسلامي حاکمیت بنسټ کېښود، شرعي قانون یې نافذ کړ او د اسلامي واکمنۍ، دیني اخوت، شریعت او قرآني عدالت مفاهیم یې راژوندي کړل.

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، شپږمه، پرلپسې۸٦ مه گڼه، رمضان المبارک۱۴۴۲هق، اپرېل۲۰۲۱م

لړلیك

گڼه	عــنـوان	مخ
۱	سرليکنه	۱
۲	ملا صاحب رښتيا هم افغانانو ته پيغور پرېښود!	۲
۳	د بې مثله قائد بې مثله ملګري!!	٦
٤	هغه د جهاد مجدد عُمر !	۱۱
٥	ملا صاحب د غيرت او عظمت څلی !	۱۳
٦	د مرحوم ملا صاحب په اړه يوه پرتله او يوه خاطره !!	۱۵
۷	د ثالث عمر تر جونګړې ، د سفر خاطره	۱۷
۸	ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ځينې تاريخي کارنامې	۲۱
۹	هغه امير چې هير شوي مفاهيم يې راژوندي کړل	۲۳
۱۰	اتم تلين يې له يوه مستند تاريخ سره !	۲۴
۱۱	د ثور اومه او اتمه د هېرېدو نه دي!!	۲۵
۱۲	د ثالث عمر کتاب ليکوال قاري سعيد سره د شهامت مجلې مرکه	۲٦
۱۳	جنگ بيست ساله ؛ هزينه های که سودی نداشتند	۳۴
١٤	بايدن بنه پرېکړه وکړه !	۳٦
۱۵	کلورينې پاڼې	۳۸
۱٦	د اسلامي شريعت پېژندګلوي (داسماني شريعتونو متفقه اصول)...	۴۰
۱۷	د شعر او شاعرۍ اهميت او ضرورت !	۴۴
۱۸	راځئ هيواد له قومي او ژبني تفرقو وژغورو	۴۹
۱۹	فکري جګړه (دنړيوالې سياسي واکمنۍ کوښښونه او بګرونه)......	۵۱
۲۰	يو څو تکي د ترکيې پر غونډه !	۵٦
۲۱	د افغانستان استراتيژيک اهميت او د راتلونکي نظام مسئوليت	۵۸
۲۲	هيواد کې پر ولس ستر وحشت او د نړۍ چوپتيا	٦۰
۲۳	د بايدن او د هغه د ادارې د ماتې	٦۳
۲٤	غامديت د اوسني عصر لويه فتنه	٦۸
۲۵	د اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو ساتونکي ځواک ته اړتيا	۷۱
۲٦	عيد اول را به خانهء شهداء ببريم!	۷۲

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدیـر :

ابو ظهير

کتـنـپـلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحيد"
نعيم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبيب

بـيـــــه :

يوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

يـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بـریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د پاته ځواکونو د وتلو پیل ! مثبت ګام دی

هو! د اوږده «شل کلن وحشیانه جنګ او جدال» وروسته دادی ډارن امریکائي ځواکونه خپلې کډې نغاړي او په ډېره ورخطائي سره د بشپړې انخلاء ترخې شیبې لنډوي.

همداراز د اروپایي هیوادونو مربوطه ځواکونو خو له وړاندېنه خپلې کډې اوبارونه تیار بسته کړي او دیته چمتو ولاړدي چې په عاجله او مصؤنه توګه بیرته خپلو، خپلو هیوادونو ته ستانه شي.

رښتیا هم په افغانستان دامریکایانو او اروپایانو لخوا یرغل یوه لویه اشتباه او نه جبرانیدونکې تیروتنه وه، که د امریکا د هغه مهال چارواکو د خپل پرمختللي عصري ځواک پر غرور په بیچاره افغانستان د ظلمانه یرغل کرکجن جسارت نه وای کړی نن به امریکا د۲۰۰۱زکال په مقایسه ګڼ شمیر نورې مهمې عصري اوساینسي پرمختیاوې ترلاسه کړې وې، متل دی چې« د میږي کله اجل راشي نو وزرونه وکړي» د امریکا چې کله زوال راغی د افغانستان د اشغال هوس یې راغی او د ټولو نړیوالو اصولو، مقرراتو او قوانینو څخه په برملا سرغړونه او د کره شواهدو اوقراینو له درلودو پرته د امریکا د هغه مهال ولسمشر بوش زموږ په میړني هیواد د یرغل مردوداعلان وکړ.

د هغه وروسته امریکایانو په لکونو انسانان چې زیاتره یې سپین روږي، میرمنې اوماشومان وو شهیدان او ټپیان کړل، هم یې په زرګونو خلک یې د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ ایستل، بسته کلي اوکورونه یې له خاوروسره ګډ کړل، روغتونونه، جوماتونه اومدرسې یې بمبارد کړې او پخپل ټول سیاسي، پوځي او اقتصادي ځواک یې کوښښ وکړ ، څو افغان ولس خپل مستعمره اوغلام ولس وګرځوي لیکن افغانانو دا ټول مرګونه، ظلمونه او وحشتونه وزغمل، خو د خپل هیواد د حریت او استقلال ګټلو له ارادې څخه په شا نه شول او د یرغلګرو ځواکونو په مقابل کې په نره پورته شول، دجهاد پولادي سنګرونه یې جوړ کړل او پر متجاوزینو یې پراخ تندریز بریدونه شروع کړل تردې چې په لنډ وخت کې د هیواد لویشت خاوره د اشغالګرو لپاره سور تنور وګرځیده او په ترڅ کې په زرهاوو صلیبي عسکر مړه اوټپیان شول همدا راز د جګړې د اوږدیدو په وجه امریکا او ائتلافي هیوادونو ته په ټریلیونو مالي زیانونه واوښتل دکومو له امله چې امریکا او نور اشغالګر هیوادونه له اقتصادي رکود سره مخامخ شول خوبیا هم د جګړې په ډګـر کې یې کوم دپام وړ بری ترلاسه نکړای شو!

اوس دا چې امریکا دشل کلنې اوږدې جګړې د زیانونو په پوره ادراک کولو سره له افغانستانه دخپلو پاته عسکرو د ویستلو پریکړه کړې ده او په ترڅ کې یې دپاته ځواکونو د وتلو پروسه عملاً پیل شوې د افغانستان په ګډون د ټولې سیمې اونړۍ لپاره یو ښه مثبت پیغام دی د سیاسي چاروکتونکو په اند دپاته عسکرو ویستل به د اشغال پای ته رسولو په لور معقول ګام ثابت شي اوهم به یې ډېر ژر په منطقه او نړۍ کې مثبت تاثیرات ولیدل شي.

موږ یوځل بیا د فرصت نه په استفاده ،امریکایي پالیسي جوړوونکوباندې غږ کوو چې نور دې جنګ خبرې ترک کړي او په نړۍ کې دې د ازادو ملیتونو د غلامولو په موخه خیله تیاره کړې مردوده اجنډا لغوه اعلان کړي، هغه پیسې چې تاسو یې د بدو اغراضو لپاره د نورو هیوادونو دننه په جنګونو او د انسانانو په وژلو لګوئ هغه بیرته پخپل هیواد کې پر بې وزلانو او د هیواد په انکشاف او ترقۍ مو ولګوئ، د نړۍ له خپلواکو هیوادونو سره د تجارت او سیاست له لارې خپلې ګټې وټې مطرح کړئ ، نه د جنګونو او یرغلونـو د ګواښـونو دلارې! او مـوږ پـوخ بـاور لـرو چې ستاسـو موجـوده جنګي تګلاره پخپله ستاسو د هیواد په ګډون د ټولې نړۍ دامنیت او استقرار لپاره ګواښ اوخطرده ؛ نوښه داده چې سملاسي یې ترک کړئ! اینده کې د خبرو او مذاکراتو له لارې په نړۍ کې د خپلو سیاسي ترجیحاتو او اقتصادي اهدافو د تقویت مسیر غوره کړئ نه دجنګونو او وحشتونو دزیږولو اوخورولو له لارې...

ملا صاحب

ربنتیا هم افغانانو ته پیغور پرېښود

خلیل ـ عزیز

د مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات اتم تلین دی. تر هر څه وړاندې د رب العزت دربار ته لاسونه لپه کوو چې د اسلام او هېواد هغه لوی سپه سالار، د عزم رزم، عمل او وینا اتل د جنة الفردوس په لویو انعاماتو ونازوي؛ او ټول جهادونه، کارنامې او د د دین او هېواد په لارو کې ګاللي تکلیفونه او قرباني یې قبولې وګرځوي.

لکه لمر روښانه حقیقت دی چې عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د خپل دیانت، تقوا، عدالت، شجاعت، انصاف، ترحم، تواضع، او د اشداء علی الکفر رحماء بینهم په مصداق د مسلمانانو په زړونو او ذهنونو کې د اسلامي تاریخ د درېیم عمر ځای او منزلت خپل کړ. له نېکه مرغه، د مرحوم امیرالمؤمنین په اړه لیکل شوي مستند کتاب ته هم د "ثالث عمر" نوم غوره شوی، چې دا یو بهترین انتخاب دی؛ مرحوم ملا صاحب په دې نوم ارزي. (الله پاک دې د حشر په ورځ موږ له هغوی سره یوځای راپورته کړي).

د ملا صاحب ټول ژوند د دین په تعلیم او جهاد کې تېر شو. په ۱۹۶۰ میلادي کال کې یې د کندهار د خاکرېز ولسوالۍ په یوه علمي او دیندوسته کورنۍ او دهوتکو په قبیله کې دې فاني دنیا ته سترګې وغوړولې. پلرونه او نیکونه یې ټول علماء او مدرسین تېر شوي دي. دی پنځه کلن و چې د خپل پلار له سیورې بې برخې شو، له جوګه کېدو سره سم یې دیني تعلیم ته مخه کړ. کله چې پر هېواد د کمونیزم سره برېوکۍ راوالوته او روسانو پر افغانستان یرغل راوړ، ملا صاحب هغه وخت د اتلسو کلونو په منګ و.

ملا صاحب هم د نورو افغانانو په څېر په وسله وال جهاد لاس پورې کړ. د کندهار په میوند ولسوالۍ کې د مجاهدینو له مشورې جبهې، چې مشري یې حفیظ الله اخندزاده کوله او د حرکت انقلابِ اسلامي له تنظیم سره یې تړاو درلود، یوځای شو. ملا صاحب که څه هم هغه وخت کوم مشهور قومندان نه و، خو د خپل تکتیک او زړورتیا له امله به یې د روسانو او د هغوی د ګوډاګیانو پر کاروانونو او لومړنیو کرښونو د برید مشري پر غاړه وه.

د اسلامي امارت د نورو مشرانو ترڅنګ محترم ملا عبدالغني برادر اخند او شهید ملا عبیدالله اخند هم د ملا

صاحب د تېر جهاد او درس نږدې ملګري پاتې شوي دي. دوی دواړو پر هېواد باندې د امریکا تر یرغل وروسته د ملا صاحب د نائبینو مسؤلیت ادا کړی دی. د دواړو دا وینا وه چې ملا صاحب هغه وخت د روسانو د ټانکونو او وسایطو یو پیاوړی ښکارزن و، هر وخت به د یرغلګرو د کتارونو په نښه کولو ته په کمین کې منتظر ناست و. د دوی په وینا ملا صاحب لسګونه روسي ټانکونه او جنګي وسایط په خپل آر پي جي راکټ ویشتلي دي. مرحوم ملا صاحب د تېر جهاد پر مهال څلور ځله ټپي شوی او یوه سترګه یې هم شهیده شوې وه.

ملا صاحب د روسانو تر وتلو وروسته بېرته مدرسې او د پاتې زده کړو پوره کولو ته مخه کړه. د میوند ولسوالۍ په سنګسار سیمه کې یې کوچنۍ مدرسه جوړه کړه، چې هم پکې مدرس و او هم یې خپل پاتې کتابونه له مشرانو استادانو ویل.

پخپله د ملا صاحب خبره ده چې په هېواد شر و فساد، تنظیمي اخ و ډب، ټانک سالاري او نور فجائع چې به یې لیدل نو سخت به یې پرېشانه کاوه، "هر وخت به مې د مدرسو او حجرو له طالبانو او استادانو سره مشورې کولې او تشویقول به مې چې د مفسدینو او ټاټکیانو پر خلاف راسره ودرېږي، چې باالآخره تر ډېرو منډو ترړو وروسته یو شمېر متدین ملګري راسره مل او اوږه په اوږه ودرېدل".

هغه وخت ولس له بدامنیو، د وسله والو له ظلمونو او د هېواد په اوږدو کې له تنظیمي جګړو تر پزې راغلی و. هېواد له عملي تجزیې سره مخ و. د کابل په شمول په هر ولایت کې څو څو پاچایانې او ملوک الطوایفي موجودې وې. کله چې د ملا صاحب تر مشرۍ لاندې د طالبانو اسلامي تحریک مبارزه پیل کړه، ولس ته د نجات د فرشتو په شکل ښکاره شول؛ طالبان د دوو میاشتو په اوږدو کې د کابل تر دروازو ورسېدل او په یوه کال کې یې د هېواد په تقریبًا ۹۰٪ خاوره کې د امن او سوکالۍ فضا حاکمه کړه، د اسلامي امارت اساس یې کېښود او یو ربښتینی اسلامي نظام یې حاکم کړ.

د ملا صاحب د محبوبیت راز

عالیقدر امیرالمؤمنین او د پاڅون پاک زړي ملګري او عسکر یې د الله تعالی ډېر مخلص بندګان وو. د دوی د اخلاص او دیانت له برکته هېواد له سترې تباهۍ او بربادۍ وژغورل شو؛ د روسانو او کمونستانو پر ضد د څوارلس کلن جهاد ارمانونه، چې د اسلامي نظام ټینګښت، د ملي وحدت خوندیتوب او د افغانستان د ارضي تمامیت ساتنه او دفاع وه، ترلاسه شول. همدا علت و چې د هېواد له هر کونج وکناره او د نړۍ له ګوټ ګوټه د مسلمانانو وفدونه راتلل، د طالبانو حاکمیت او حقپاله پاچایي به یې له نږدې لیده. دوی به د طالبانو په اړه که هر څومره بد تبلیغات اورېدلي وو او ډول ډول پوښتنې به ورسره وې، خو کله چې به یې ملا صاحب، د هغه معاونین، شورا او نور مسؤلین له نږدې ولیدل نو له یو عالم مثبتو تاثراتو سره به بېرته ستانه شول.

د اسلامي امارت یوه مسؤل کیسه کوله چې یو ځل په اسلام آباد کې د فلسطین سفیر کندهار ته له ځان سره د بیت المقدس د امام یو زوی هم راوستی و. کله چې ملا صاحب مجلس ورسره وکړ، د غرمې د قیلولې وخت راغی؛ ملا صاحب ترې ولاړ شو او په دفتر کې له څوځانو په جوړه کوډله کې پرېوت او ویده شو. (د کندهار خلک په اوړي کې د حویلۍ په منځ کې د څوځو کوډله جوړوي، وروسته پر هغو څوځانو اوبه اچوي او پکې ویدېږي. په کوډله کې دننه شمال لګېږي او څوځان دننه هوا یخوي. ملا صاحب هم د کار په دفتر کې دغسې کوډله جوړه کړې وه.)

مسؤل وایي، د بیت المقدس د امام زوی چې د ملا صاحب فقیرانه ژوند او د څوځو په کوډله کې د هغه استراحت ولید، نو له سترګو یې اوښکې روانې شوې. د فلسطین سفیر پوښتنه ترې وکړه چې ولې ژاړې. هغه ورته وویل: د ملا محمد عمر مجاهد مخلصانه مجلس، په اسلام دردمن فکر، او بیا یې داسې ملنګي کوډلې ما ته د حضرت عمر رضي الله عنه او یوه کوچنۍ کیسه رایاد کړه چې یو وخت یو اعرابي حضرت عمر رضي الله عنه ته راغی او خپل مشکل یې ورته راوړ؛ حضرت عمر رضي الله عنه یې مشکل واورېد او فیصله یې ورکړه، وروسته

خوب ورغی – په دېوال یې سر ولګاوه او ویده شو. اعرابي ورته وویل: (حکمتَ، فعدلتَ، أمنتَ فنمتَ یا عمر). یعني: ای عمره، پرېکړه دې وکړه، عدالت دې وکړ، امانتداري دې وکړه او بیا ویده شوې. نو ملا محمد عمر مجاهد هم له موږ سره خوږ مجلس وکړ، زموږ په زړونو یې د مرحمت پټی ولګولې، د څوځو جونګړې ته ورغی، خپل څادر یې پر سر راکش کړ او ویده شو. د بیت المقدس د امام زوی دا جمله ویله او ژړل یې.

شهید شیخ حسن جان نور الله مرقده د علم، تقوا او استغناء لوی منار و؛ په آسانه او بې موجبه به یې د چا صفت نه کاوه. هغه په یوه تقریر کې کندهار ته د خپل سفر کیسه کوله او ویل یې چې د پاکستان د هغه وخت ولسمشر پرویز مشرف موږ د خپل هېواد د مشهورو علماوو په ترکیب کې یو وفد کندهار ته ولېږلو څو ملا محمد عمر مجاهد ته زموږ په خوله ووایي چې د امریکا غوښتنو ته غوږ کېږدي او د اسامه موضوع ته حل لاره پیدا کړي.

شهید شیخ صاحب وایي، موږ چې ملا صاحب په کوم حالت کې ولید، او د اسامه د موضوع په باره کې مو د هغه استدلال او د امریکا د کینه ګر سیاست په باره کې د هغه خبرې واورېدې، نه یوازې موږ یې مطمئن کړو، بلکې ما هلته د وفد علماوو ته وویل چې زما د ملا محمد عمر مجاهد په ولایت کې یوه ذره شک هم نشته، او موږ د ده څخه په الله تعالی د مضبوط توکل درجې ته نشو رسېدلای.

شیخ الحدیث مولانا سیلم الله خان نور الله مرقده د پاکستان او اسلامي امت په کچه ستر عالم، محدث، مؤلف او محقق تېر شوی دی. مرحوم شیخ صاحب د پاکستان د مشهور عالم شیخ الحدیث مولانا منظور مینګل استاد هم و. مولانا منظور مینګل وایي چې د مولانا سلیم الله خان صاحب علمي او روحاني درجه او مقام په خپل ځای د قدر وړ دی، خو که له ملا محمد عمر مجاهد سره مقایسه شي، نو زما نظر دا دی چې زر مولانا سلیم الله خانه د یوه ملا محمد عمر مجاهد ځای ته نشي رسېدلای، ځکه څه چې ملا محمد عمر مجاهد، د دین، امت او اسلام تاریخ ته وکړل او د دې پېرۍ لوی طاغوت یې په خپل سربکفه عزم نسکور کړ، ساری او مثال یې نشته.

کله چې د امت په کچه علماء او مشائخ د ملا صاحب مقام او منزلت ته تر دې اندازې قایل دي، نو خامخا به په مرحوم عالیقدر ملا صاحب الله پاک دومره قوت او صلاحیت لورولی وي چې هېواد رهبري کړي، د امارت د قیادت حق ادا کړي، مذهبي او روحاني قشر په ځان رامات کړي او د اسلامي نظام داسې بنیادونه ټینګ کړي چې پر ضد یې د تولې نړۍ اتحاد پخپله د نړۍ په شرم او شکست تمامېږي. د امریکا، ناټو او ټولې مغرضې نړۍ په مقابل کې د اسلامي امارت جهاد او مقاومت هر چا د سر په سترګو ولید. دښمنانو که هر څومره د امارت د ښویولو او وېشلو لپاره هڅې کړې، تر دې دمه د الله پاک په نصرت نه دي کامیاب شوي؛ د امارت اساس له یوې ورځې بلې ته قوي کېږي – علت یې دا دی چې بنیاد یې ټینګ ایښودل شوی او کرونده یې په پاکو وینو شوې ده.

د ملا صاحب د اسلامي غرور او شفقت یوه بېلګه

کله چې امریکا د افغانستان پر حریم بمبار پیل کړ، د جلال آباد ښار څینې مسکوني سیمې یې هم په نښه کړې. عام خلک د هغو سیمو پرېښودو ته مجبور شول او څینې یې د حصارشاهي کمپ ته ولاړل. د بي بي سي راډیو یو خبریال نوموړي کمپ ته تللی و او له

مهاجرو خلکو سره یې د هغوی د مشکلاتو په اړه خبرې کولې. خبریال له یوې ماشومې، چې عمر یې غالبا د اتو کلونو شاوخوا و، پوښتنه وکړه چې ولې دلته راغلې دې. ماشومې په ځواب کې ورته وویل چې هلته په خپلو ځایونو کې امریکا بمبار راباندې کاوه. خبریال پوښتنه ترې وکړه چې امریکایان وایي موږ بمبار ځکه کوو چې طالبان موږ ته اسامه نه راکوي، نو ملامت څوک دي. ماشومې ورته ویلي و چې اسامه یو مسلمان دی او دلته یې پناه راوړې ده، طالبان به ولې هغه امریکا ته سپاري؟ خبریال ورته ویلي و که ورویې نه سپاري نو بیا خو امریکا بمبار کوي. ماشومې ورته ویلي و چې خیر دی امریکا دې پر موږ بمبار وکړي خو طالبان باید اسامه ورنکړي.

ملا صاحب چې کله د دې ماشومې مرکه اورېدلې وه، ما ته یې حال راولېږه چې ماشومه پیدا کړه او زما له لوري یو لک کلداري انعام ورکړه. بیا موږ هغه ماشومه پیدا کړه، له پلار سره راوستل شوه او د ملا صاحب د شفقت انعام مو ورکړ.

ملا صاحب خپل ټول ژوند د اسلامي غرور، افغاني مېړانې او غیرت په شېبو او پلوشو کې تېر کړ. د روسانو په مقابل کې یې مقدس جهاد وکړ، د خپلو پاک طینته ملګرو او سپېڅلي لښکر په مرسته یې هېواد د شر وفساد له منګولو وژغوره، د الله تعالی په ځمکه یې الهي نظام په واقعي معنا نافذ کړ. کله چې د نړۍ بل طاغوت امریکا، ناټو او ملګرو یې د افغانستان د هضمولو اراده وکړه، نو په ډېره مېړانه او غیرت یې ځواب ورکړ؛ خپله آرګاه بارګاه او قدرت یې ځار کړ خو د غلامۍ او تیتو سترګو ژوند یې ونه مانه - د امریکا او ناټو پر وړاندې یې د مقدس جهاد او حقپالې مبارزې سنګرونه بېرته فعال کړل او خپلې هغې وینا ته یې د عمل جامه ورواغوسته چې ویل به یې: "زه به په تاریخ کې داسې څه پرېنږدم چې افغانانو ته پیغور جوړ شي، نو په داسې عزم کې ستاسې همکاري ضرور ده او باید ویې کړئ".

الله پاک دې د مرحوم ملا صاحب ټول جهادونه، قربانۍ، خدمتونه، فداکارۍ په خپل دربار کې قبولې وګرځوي، او کوم نظام او حرکت چې یې شا ته پرې اېښی دی رب دې یې د تل لپاره سرخرویه او په خپلو پاکو عزائمو کې بریالی لري. آمین

د بې مثله قائد بې مثله ملګري

او د قلموالو مسئولیت

حسن زوی

موږ مسلمانان ټول پدې پوهېږو چې په اسلام کې د مشورې ډېر لوی ارزښت دی؛ دا ارزښت هم د فرد لپاره دی او هم د نظام لپاره.

په سترو چارو کې خو حاکم د ذې رايې خلکو نه په مشورې اخستلو مکلف ګرځول شوی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل هم همداسې و.

سره له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله تعالی له لورې وحي کېدله خو بیا هم ورته خداوندي حکم و چې (و شاورهم فی الامر)

نو ټول ستر هغه امور چې به پکې د الله تعالی له لورې صریح حکم نه و شوی رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې په اړه د اصحاب کرامو نه مشوره اخیستله.

اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین پدې پوهېدل چې په مخلوق کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرتبه او مقام تر بل هر چا او هر شي لوړ دی نو ځکه به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر زیات احترام او ورسره به یې بې کچې مینه کوله خو دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم دیکتاتور حاکم نه بلکې پر مسلمانانو خورا مهربان، رحیم او کریم استاذ، مربي، حاکم او قائد و نو ورسره یې ژوند بې تکلفه، سلوک او رویه یې ډېره کریمانه وه؛ صحابه کرامو ته یې د مشورو پر مهال د خپلې رايې د ښکاره کولو جرأت ورکاوه؛ که سیرت مطالعه کړو وینو چې په ګڼو مواردو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د همدوی د رايو سره سمې پرېکړې هم کړېدې.

او دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د (المستشار مؤتمن) ارشاد د دوی مخې ته و نو په بعضو مواردو کې داسې هم شویدي چې د ځینو صحابه و رايې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رايې خلاف رامخې ته شویدي ځکه چې کومه رایه یې وړاندې کوله په همدې کې یې اجتماعي خیر لیدلو نو د خپل امانت او مسئولیت د اداء کولو په هدف یې داسې کړېدي.

رسول الله صلی الله علیه کله داسې رايې له پامه غورځولې او کله یې په همدې مخالفې رايې باندې په عمل کې مصلحت لیدلی نو ورباندې یې عمل کړېدی.

مثلاً په غزوه بدر کې چې د مسلمانانو په لاس د قریشو ۷۰ تنان قتل او ۷۰ اسیران شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغو اسیرانو په باره کې د صحابه کرامو نه مشوره واخستله چې څه ورسره وکړو؟ خو رسول الله صلی الله علیه

وسلم په (ان الله قد امکنکم منهم) فرمایلو سره له خپلې لورې پر دوئ د ترحم او عفوې طرف ته اشاره کړې وه.

عمر فاروق رضی الله تعالی عنه عرض وکړ: ښه دا ده چې د ټولو سرونه پرې کړای شي. په صحیح مسلم کې د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه په مروي حدیث کې راغلي دي چې عمر فاروق رضی الله تعالی عنه عرض وکړ: یا رسول الله هرڅوک دې خپل قریب قتل کړي؛ علي ته حکم وکړئ چې خپل ورور عقیل ووژني او ماته اجازه راکړئ چې خپل فلانی قریب ووژنم څکه چې دوئ د کفر مخکښان دي.

ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه عرض وکړ: یارسول الله دوئ ستا د خپل قوم خلک دي زما رایه دا ده چې د فدیې په بدل کې آزاد کړای شي، شاید الله تعالی ورته اسلام ته د هدایت توفیق ورکړي او همدوئ د کفارو په مقابله کې زموږ مرستندویه شي؛ د ابوبکر صدیق رایه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رایې سره برابره وه نو یې خوښه کړه؛ په همدې عمل وشو او د بدر اسیران د فدیې په بدل کې خوشې کړای شول.

د فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه هدف دا و چې په جنګ کې د ۷۰ تنانو د قتل سره یوځای د ۷۰ اسیرانو په وژلو د کفر ملا ماتېدله او دا یوه ښه موکه وه نو څکه یې په خپله رایه اصرار وکړ.

خو د ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه منظور نظر هغه څه و کوم یې چې ذکر کړل نورو اکابرو صحابه و چې د فدیې اخستلو مشوره ورکړې وه هدف یې همدا و چې شاید دوئ وروسته مسلمانان او د اسلام او مسلمانانو مددګاران وګرځي او فدیه مسلمانان په جهادي او نورو دیني کارونو کې مصرف کړي خو د فدیې اخستلو په مشوره ورکونکو کې به داسې تنان هم وو چې زیات هدف به یې د مال حصول و اګر چې هغه مال حلال یانې د غنیمت مال و خو دا چې دا د دنیا دمال متاع سره د مینې نښه ده نو الله تعالی ته خوښه نه شوه او له لورې یې په (ما کان لنبی ان یکون له اسری......) په نازلولو عتاب راغلو؛ مفسرین او د سیرت عالمان فرمایي: ددې عتاب اصل مخاطبین هماغه خلک وو کومو چې د خپلو ځانونو لپاره د مال د حصول په هدف د فدیې اخستلو مشوره ورکړې وه.

لنډه دا چې الله تعالی ته پدې ځای کې دا خوښه وه چې قیدیان وژل شوي او د کفر ملا پرې ماته شوې وای لکه د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه چې هم همدا رایه وه خو چې دا اجتهادي خبره وه، د الله تعالی له لورې پکې صریح حکم او د حکم نه مخالفت نه و نو څکه پکې د چا د ګناهګار کېدلو خبره نه وه.

د هجرت په ۳ کال چې د ابو سفیان بن حرب په مشرۍ کې د قریشو ۳ زره کسیز لښکر په بدر کې د مسلمانانو په لاس د خپلو وژل شویو مشرانو د انتقام اخستلو په موخه له مکې مکرمې راروان، مدینې منورې ته رانږدې او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې خبر راورسېد نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشورې لپاره صحابه کرام راټول کړل چې څه وکړو؟

د اکابرو مهاجرینو او انصارو رایه دا وه چې دښمن ته ور ونه وځو او په مدینې منورې کې دننه خپله دفاع قوي کړو.

رئیس المنافقین چې یو تجربه کار سړی و د هغه نه هم رایه واخستل شوه؛ هغه وویل زموږ تجربه دا ده چې د دښمن د حملې پر مهال موږ په مدینه کې دننه پاتې او دفاع مو کړېده، موږ غالب شوي یو او که د دښمن پسې ور وتي یو، نو ناکام شوي یو؛ یا رسول الله له مدینې مه وځه! که دښمن مدینې ته رانئوت موږ به ورسره په تورو مقابله وکړو او زمو کوچنیان او مېرمنې به یې د کوټو له سرونو په کانو ولي او که بیرون یې شکست وخوږ فهو المراد.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په خوب کې ځان په قوي زغره کې لیدلی و په مدینه کې پاتې کېدل او پکې مصئونیت یې تعبیر ګڼلی و نو خوښه یې وه چې په مدینه منوره کې خپله دفاع قوي او د دښمن پسې ونه وځي خو ځیني اکابر او هغه ځوانان چې په بدر کې نه وو شریک شوي دښمن پسې ور وتلو باندې یې اصرار کاوه او ویل یې: یا رسول الله موږ خو د همداسې یوې ورځې په انتظار کې وو؛ الله تعالی هغه ورځ راوسته او مسافه هم قریبه ده.

حمزه، سعد بن عباده او نعمان بن مالک رضی الله تعالی عنهم عرض وکړ که مدینه کې پاتې شو او دښمن پسې ور وه نه وتلو دښمن به پرموږ د بزدلانو گومان وکړي.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جوته شوه چې د ځوانانو تر څنگ ځیني مشران هم د شهادت په شوق کې سخت بې قراره دي او د دښمن مقابلې ته خامخا ور وتل غواړي نو پخپله یې هم د مدینې منورې نه د وتلو عزم وکړ؛ د جمعې د لمانځه نه د فراغت نه پس یې وعظ وفرمایلو؛ د جهاد ترغیب یې ورکړ او مسلمانانو ته یې د تیارۍ حکم وکړ؛ د مازیگر لمانځه نه د فراغت نه پس یې حجرې شریفې ته تشریف یوړلو چې ابو بکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما هم ورسره وو؛ په همدې وخت کې سعد بن معاذ او اسید بن حضیر رضی الله عنهما مسلمانانو ته وویل: تاسې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مدینې نه بیرون وتلو ته اړ کړ حال دا چې پر هغه وحي نازلېږي؛ پکار ده چې هغه خپلې رایې ته پرېښودل شي.

په همدې وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مسلح و او دوه زغرې یې پر تن مبارک وې راووت؛ صحابه و عرض وکړ: یا رسول الله ستاسو د رایې خلاف زموږ اصرار مناسب نه و؛ تاسې هغه وکړئ کومه مو چې رایه وي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یو پیغمبر ته هم نه ښایي چې د مسلح کېدو نه پس وسله کېږدي ترڅو چې د دښمن پر ضد نه وي جنگېدلی اوس د الله تعالی په نوم ځئ! او چې د څه حکم کوم کوئ یې او پوه شئ چې تر څو صابر او ثابت قدم یاست نو د الله تعالی فتح او نصرت به ستاسې په برخه وي.

نو لنډه دا چې د احد غزا کې د گڼو صحابه و د اصرار له امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې رایې خلاف د مدینې منورې نه ووت او د احد ډگر ته یې تشریف یوړو.

گڼ داسې موارد هم شته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو کرامو نه د خفگان اظهار کړی او کم داسې موارد هم شته چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دپرېکړې په اړه ځینو اصحابو خپل طبعي نارضایت ښکاره کړیدی خو بیا رسول الله صلی الله علیه پوه کړیدي او نا رضایت یې په خوښۍ بدل شوی.

د خلورو راشده خلیفه گانو د حاکمیت په وختونو کې خو د دوئ د رایو خلاف د نورو د رایو رامخې ته کېدل، د یو بل تخطئة او تغلیط بیخي معلومه خبره ده؛ بېلگې یې نه شم راوړای ځکه مقدمه اوس هم رانه اوږده شوه.

شوری د اسلامي حاکمیت جزء لاینفک دی نو امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد چې د اسلامي امارت مشر و طبعي ده چې په لویو قضایاو کې به یې له پرېکړو وړاندې له مشرانو ملگرو سره مشورې کړې وي؛ او شاید په ځینو سترو قضایاو کې د شورى د ارکانو او مشرانو ملگرو رایې د ملا صاحب له رایې نه خلاف رامخې ته شوي وي نو که ملا صاحب خپله رایه ترک او د ملگرو د رایې سره سم یې پرېکړه کړی وي او که د ملگرو رایه یې رد کړې او د خپلې رایې سره سم یې پرېکړه کړی وي لیکل یې پکار دي.

که موږ د هغه د ژوند په اړه کتاب یا مقاله لیکو او غواړو چې زموږ راتلونکي نسلونه ورنه ښه الهامات واخلي او د راتلونکي تاریخ لپاره مرجع او اصل وگرځي نو باید کشران له اصل احوالو خبر او په سترو قضایاو کې دخپلو مشرانو ته مراجعه وکړو او ټول حقایق ولیکو البته حساس معلومات او حساسې خبرې به طبعاً مستثنی وي.

که موږ یې نه لیکو یا یې لیکل غواړو خو سبا دا مشران نه وي نو بیا که راپسې خلک دروغ لیکي د ردولو لپاره به یې موږ یا زموږ پلویان په لاس کې څه ونه لري.

دا ډېره د ویاړ خبره ده چې ملا صاحب او د اسلامي امارت قیادت هیڅ داسې اقدام ندی کړی چې د افغان مجاهد ملت لپاره پیغور شي.

که ډېر څه وي هغه به د ملا صاحب یا د ملګرو اجتهادي خطا وي چې په یادولو کې یې هیڅ حرج نشته او نه پدې سره د ملا صاحب یا د ملا صاحب د ملګرو شان کې کمی راځي.

تاسې وګورئ! د بدر د اسیرانو په باره کې د صحابه کرامو دواړه رایې د سیرت کتابونو کې رانقل کېږي او ورسره دا هم ویل کېږي چې د یوې رایې په باره کې لږ عتاب هم راغلی دی خو هیڅوک د سیرت په کتابونو کې ددې خبرې را نقل کېدل د صحابه کرامو د شان تنقیص نه ګڼي.

همدا رنګه د احد د غزا په معامله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رایې خلاف د ځوانو او ځنې مشرانو صحابه کرامو اصرار او بیا په جبل رُماة کې ناست اکثر صحابه کرام چې د اجتهادي خطا په وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم مخالفت کې واقع شول دا هم د سیرت ټول کتابونه رانقلوي او هیڅوک یې د صحابه کرامو د شان تنقیص نه ګڼي.

نو یوه خو دا خبره شوه چې د کومو حقایقو ذکر کول تاواني نه وي نو باید خامخا ترې یادونه وشي.

زما په اند دلته یوه بله خبره هم زیاته مهمه ده چې د لیکنې اصل هدف مې هم همدا دی؛ هغه دا چې بې له شکه چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ډېر ستر رهبر او قائد و؛ د قیادت ډېر لوی صفتونه پکې الله تعالی ایښي وو، اول یې په ډېر حساس وخت کې افغانستان د بحراني حالت نه د راویستلو لپاره حرکت شروع کړ د یو کلي نه پیل شوی حرکت یې په لږ وخت کې ټول هېواد نه خپور او هېواد یې رښتیا چې د بحراني حالت نه راوویست چې دا ډېر لوی کار و او دده د یو ستر، کامیاب او مدبر قائد نښه وه.

بیا یې چې د یوې ختیځې کوټې نه د انساني تاریخ د تر ټولو لوی جنګي اشغالګر زبر ځواک په مقابل کې د جهاد قیادت وکړ نو دا خو خورا حیرانونکې وړتیا او کردار دی چې نړیوال څېړونکي به په راتلونکي کې پدې ډېر څه ولیکي.

خو له دې انکار نه شي کېدای چې د بحران نه د افغانستان راویستل و او که د اشغالګرو په مقابل کې د جهاد پیلول او په پوره کامیابۍ سره یې روان ساتل و دا یو هم ملا صاحب په یواځې ځان نه دي کړي بلکې د حاجي معاون صاحب، ملابورجان، ملا مشر او........ په څېر ددې حرکت د ټولو اکابرو پدې ټولو بریالیتوبونو کې ډېره ستره ونډه ده؛ د الله له قدرت نه لرې نده چې دیو سړي نه ددې نه هم لوی کارونه واخلي خو دا حتی په انبیاؤ کې هم عادت الله ندی. که د انصاف په نظر وکتل شي نو د صحابه کرامو د مبارک قرن نه بعد به د اسلام په ټول تاریخ کې کوم مسلمان قائد ته داسې ملګري نه وي په نصیب شوي لکه ملا صاحب ته چې په نصیب شوي وو.

داسې هیڅ ندي شوي چې په دوئ کې کوم یو ته له خطرونو ډک مسئولیت ورپه غاړه شوی وي او هغه ترې شاته شوی وي.

د بدلونونو په لړ کې به وزیران او والیان د رادیو له لارې د خپل عزل او نصب نه خبر شول؛ سبا به خپل دفتر یا د ولایت مقام ته راغلل او له خپلو کارکونکو ملګرو نه به یې بښنه او رخصت واخیست؛ هیڅکله کوم دا ندي ویلي چې زه ولې معزول شوم؟ او نه به یې دا ویل چې زه به تر کومه په کور ناست یم زما سرنوشت به څه وي؟

د امریکایي یرغل نه پس چې امیرالمؤمنین د ټولو له سترګو پنا و همداسې په یو خط به یې والیان او د کمیسونونو مشران بدلېدل.

نو د امارت دا عظیم او تاریخي پرمختګونه ددې ټولو زمنو، مخلصو، مطیعو مشرانو د ګډوهڅو او قربانیو نتیجه ده.



دا سمه ده چې د امیرالمؤمنین مقام په دوئ ټولو کې لوړ دی؛ پرموږ ټولو یې حق دی چې په هکله یې کتابونه او ښې ډېرې مقالې ولیکو خو د دې حرکت نور اکابر هم باید هېر نکړو؛ د اسلامي امارت او خصوصاً د فرهنګي کمیسون مسئولیت دی چې د حاجي معاون صاحب په څېر د مهمو مشرانو په اړه معلومات راټول او په هر یو خامخا کتاب ولیکي؛ دا کار که موږ کولای شو او نه یې کوو دا به د خپلو سترو مشرانو په حق کې بې له شکه چې جفا وي.

زموږ د راتلونکي نسل خبره خو لا وروسته ده په امارت کې دننه په خدمت بوخت زموږ زیاتره ځوانان له دې ندي خبر چې د طالبانو د اسلامي تحریک په رامنځته کېدو او بریالیتوب کې د حاجي معاون صاحب خومره رول و؟ چې دا ډېره د تأسف وړ خبره ده؛ د ولسونو نسلونه خپل دومره لوی مشران داسې ژر نه هېروي.

بل مې دا عرض کاوه چې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی په اړه په لیکنو کې د هغه په ستاینو او لقبونو کې د غلو نه د ځان ساتلو هم ډېره اړتیا ده؛ پدې کې شک نشته چې د ټول مجاهد مسلمان ملت او بیا په ځانګړي ډول د اسلامي امارت د مشرانو او کشرانو په زړونو کې د امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی سره دومره مینه ده چې موږ یې په کتابونو او لیکنو کې خومره صفتونه کوو او څومره ستر لقبونه ورکوو پرې ټول خوشالېږي او شاباسی راکوي خو موږ باید د قلموال په صفت خپل مسئولیت درک کړو؛ اعتدال او حقیقت خوښونه زموږ مسئولیت دی تر څو بې طرفه خلک زموږ کتاب یا لیکنه مبالغه آمیزه ونه ګڼي؛ د خمیني په باره کې د هغه د انقلاب ډېرو مهمو ملګرو ډېر غټ کتابونه لیکلي خو هغه د انقلابیانو پرته په ایران یا د ایران نه بیرون هیڅچاته هم د منلو وړ نه دي ځکه چې ټول خلک وایي؛ له مبالغو ډک دي.

د یو مسلمان او یهودي ترمنځ چې مشاجره واقع شوی وه مسلمان په خپل قسم کې والذی اصطفی محمدا صلی الله علیه وسلم علی العالمین او یهودي وویل والذی اصطفی موسی علی العالمین؛ مسلمان یهودي ووهلو خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل لا تخیرونی علی موسی.

په یو بل حدیث کې راغلي دي: لا ینبغی لاحد ان یقول انا خیر من یونس بن متی.

د اهل السنة والجماعة د ټولو امامانو پدې اتفاق دی چې محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم افضل الانبیاء او افضل الرسل دی نو بیا څنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل تفضیل نه منع وفرمایله؟

د حدیثو شارحین جواب کوي چې د نفس الامري او واقعي تفضیل نه منع نده مراد بلکې د هغه تفضیل نه منع ده چې ورسره د نورو انبیاء کرامو تنقیص لازمېږي.

نو د مبالغې به یو لوی تاوان همدا وي چې ددې حرکت د نورو اکابرو یو نوع تنقیص لازم شي او لوستونکي به داسې وفهموي چې پدې سترو پرمختګونو کې د نور چا چندان لویه ونډه نه وه حال دا چې دا به د نفس الامر نه خلاف وي. والله تعالی اعلم.

د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد سره مینه او عقیدت د خپل آخرت لپاره لویه توښه ګڼم؛ خپل احساسات مې د هغه په اړه په لیکل شوو ۳ مقالو کې ښکاره کړيدي او له هغې ور اخوا مې نور څه زده هم ندي اوس مې چې څه ولیکل دا مې له ډېر وخت نه د زړه یو درد و چې د امیرالمؤمنین تلین یې پلمه شو او په خپلو ماتو ګوډو جملو مې ددې درد اظهار وکړ؛ که سم مې لیکلي وي نو فمن الله والا فمنی ومن الشیطان.



مولوی بدرالدین حقانی

هغه د جهاد مجدد عُمر!

گرانه امیر المؤمنینه! الله تعالی دي قبر له نوره ډک کړه! ته په هغه قرن کې د جهاد اصلي مجدد وګرځیدې په کوم کې چې خپل او پردي دواړه جهاد ترهګري بولي او په کوم کې چې« د جهاد لفظ » په اخیستو سره نه تنها د کافرانو په تنو د لړزان تبه راځي بلکې ټول غرب پلوي مسلمان واکمن یې هم د اوریدو تاب نلري!

هو! په تا باندې د زرګونو جیدو علماوو، صالحینو او مجاهدینو د (سواد اعظم) راټولیدل ستا د ریښتینولی او حقانیت یو «بین ثبوت او دلیل دی» او بیا د خپلې واکمنی پر مهال د الهی دین او شریعت نافذول د نبوي سنتو احیاء کول ستا د تاریخي نیکمرغی نښه وه تا د کفر او شرک اثارو په نړولو یو ځل بیا ابراهیمي سنت ته ژوند ور وبښه او هم د موجوده غربي فرعون (امریکا) په وړاندې دي د حق ناري په زمزمه کولو سره لکه د مصري فرعون په وړاندې د موسی علیه السلام یاد تازه کړ او په عربي میلمنو باندې ستا ننګ او غیرت کول د نبی پاک د قوم سره ستا د زیات محبت او خلوص ښکارندوی دی.

یقیناً! د راشده خلافت د نیکمرغه دورې او بیا د حضرت عمر بن عبد العزیز د بختورې دورې وروسته د اسلامي سلاطینو او واکمنو له منځه ستا واکمنی په شرعي منهج برابره وه، د عیاشیو، فضول خرچیو او نورو ډول، ډول بد اخلاقیو څخه پاکه وه، ستا په دربار کې یو الله ته د تعظیم سرونه ښکته کیدل، هیڅ انسان د بل انسان تعظیم نه کاوه، ته د خپل ټول بشري توان او طاقت سره سم اسلامي شریعت، اسلامي احکامو او لار ښوونوته په رښتینې توګه تابعدار او وفادار وې، په دې شرُّ القرون کې د اسلامي احکامو تطبیق او نفاذ ستا یوه عدیم النظیر کارنامه وه

مشره! تا د دین، شریعت، وطن او ملت په سر معامله او سودا ونکړه تا ځان تاریخ او ملت ته سرخرویه ثابت کړ چې د وطن په لویشت اومره خاوره دې هم له چا سره پټه راکړه ورکړه ونکړه، کنه موږ پوهیدلو چې نړیوالو درته منتونه کول: چې زموږ سره د علنې دښمنی څخه لاس واخله، زموږ نړیوال موقف مه ننګوه، په هیواد کې دې لږ ډیر لوڅتوب او بی حیاتوب ته اجازه ورکړه، په افغانستان او سیمه کې موږ ته زموږ د ګټو د خوندیتوب ډاډ راکړه موږ به درسره د دې په بدل کې پریمانه کومکونه وکړو، وطن به درته ودان کړو ستا د مخالفینو په خپلو کې به درسره مرسته وکړو، هغوی تاته بل دا ویل: چې زموږ مخالفین خپل میلمانه مه ګڼه، هغوی له خپلې خاورې وباسه، نور ته هم لکه د عربي پاچایانو دایم العمر سلطنت او حکومت کوه خو تا ورته ویل: زه له دې ټولو بې پروایم، ماته دا یو هم پکار ندی، نه راته دایم العمر واکمني ارزښت لري او نه ستاسو لخوا مرستې او کومکونه! زه د الله تعالی بنده یم او د هغه د دین د سرلوړی لپاره واکمني څه چې خپل سر، مال او اولاد هم قربانوم، تا رښتیا

همداسې وکړل د الله تعالی د دین د سرلوړی لپاره دې خپله واکمنې په لغته وهله، د جهان ټول اسایشونه دې پرېښودل او لاړې د جهاد او مقاومت مسیر دې ونیو.

مبارک شه! ته پخپل دریځ کې کامیاب شوې، امریکا ته دې شکست ورکړ، دا دی لښکرې یې په وتو دي، اسلام نظــام او ازادي راتلــونکې ده، لــه تــا وروســته د شــهید امیرالمومنین انتخاب هم ستا د ژور فراست او د کرامت بعد الوفات کرشمه وه، موجوده امیرالمـومنین شیخ هبـة الله اخونزاده، الحاج خلیفه سراج الدین حقانی، ملا عبد الغني برادر او مولوي محمد یعقوب ستا د نهال کړي باغ مالیاران او ساتونکي دي. ستا د مقبـول سیاسي او جهـادي بصـیرت خوږې ورمې له خلوت نه تر سنګر او قطر خوږې دي، نن افغان ملت د هغه لویې فتح د ننداري په لور تونـد او ګرنـدي ګامونه اخلي د کومې چې تا پخپل بصـیرت وړاندوینـه کړې وه، نن پـه افغـان ملـت او نـړی کې مظلومـان مسـلمانان ستا مبارک روح، د شهید امیرالمـومنین او د مرحـوم حقـاني روح ته د دعاګانو ډکې پیرزوینې درلیږي خصوصاً ستا بصیرت او میراني ته دوه لاسي سلامونه کوي، افغـان ولـس څنـګ چې پرون ستا په قیادت ویاړل نـن سـتا پـه کارنـامو ویـاړي او هـر ځای د مجاهدینو ترمنځ د احترام نه ډکې پیرزوینې او ولـولې په غورځنګ دي.

خوښ یو چې د امارت تر سپین بیرغ لاندې ستا سوچه صف (اسـلامي امـارت) سـتا د ارمـانونو د حصـول پـه مسیر درومي. ځـای ناسـتي او خلفـاء دي الحمدللـه بااحساسـه، بـا درکه او د الله تعالی څخه ډاریدونکي دي، پخپلو رعایاوو او مجاهدینو زړه سواندي او مهربان دي موږ ترې راضي یو الله تعالی دې له دوی څخه راضي شي او ورتـه د اللـه تعـالی نـه دعا غواړو چې هغه ستا برکتونه او فیوضـات دوی تـه هـم ور نصیب کړي او ورته ستا په نقش قدم استقامت غـواړو څـو د اسلامي شریعت حکمونه او لارښوونې په پـوره توګـه پـه پـام کې ونیسي او په اړه یې هیڅ غفلت او لاپرواهي ونکړي.

د پنډ، پنډ پیرزوینو په بدرګه

ملا صاحب

د غيرت او عظمت ځلی!

انس حقاني

نن د ۱۴۰۰ل کال د غوايي ۴مه د افغانانو د تاريخي او وياړلي مشر، اروابناد امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله د پاکې اروا د الوت له اتم تلين سره برابره ده. اته کاله مخکې، مرحوم اميرالمؤمنين د وطن په سويل د زابل ولايت په سيوري ولسوالۍ کې په يوه ختين کور کې د مازيگر پرمهال خپل روح خپل خالق ته وسپاره. ملا صاحب رښتيا هم د يوويشتمې پېړۍ اميرالمؤمنين و. هغه ته الله تعالی ځانګړې تقوا، روحانيت او توکل ورکړی و. پوره ديارلس کاله يې د نړۍ د زبرځواک او ناټو هېوادونو د مجهزو پوځيانو پر ضد له يوه ختين کوره په بشپړ ايمان سره د مبارزې او جهاد رهبري وکړه.

دغه وړ مشري يوازې او يوازې هغه څوک کولای شي چې د ملا صاحب په څېر يې له خپل رب سره خاص تعهد او تعلق وي او د خپل ځان، کورنۍ او بچيانو په ګډون د خپلو ټولو شته وو قرباني ته چمتو وي.

اروابناد مشر ملا صاحب په ۲۱مه پېړۍ کې د انساني ټکنالوژۍ خواب په خپل خاص روحانيت، ايمان او تقوا سره ورکړ. د نړۍ زبرځواک ته يې سر ټيټ نه کړ او خپل ديني او ملي حيثيت او عظمت يې تاريخ ته په زرينو کرښو وسپاره. ملا صاحب راتلونکو نسلونو ته د مبارزې، ايثار او مروت درسونه پرېښودل. پېړۍ به تېرې شي، تاريخ ليکونکي به د ملا صاحب د کارنامو په ليکلو ستړي شي؛ خو د هغه کارنامې به تتې او زړې نه شي. د ملا صاحب مروت او وفا هر مسلمان، بلکې هر ارزښتپال او ازادي غوښتونکي انسان ته د ستاينې او قدرداني وړ ده.

د ملا صاحب رحمه‌الله د وفات د تلين په مناسبت غواړم د خپل والد مرحوم الحاج مولوي جلال‌الدين حقاني رحمه‌الله يوه خاطره له لوستونکو سره شريکه کړم:

والد صاحب مرحوم کيسه کوي چې مرحوم ملا صاحب کې څو خويونه زما ډېر خوښ وو. يو له هغو خويونو غيرت و. ډېر غيرتي انسان و. ما چې ورسره بيعت هم کړی و، يو اساسي دليل يې د ملا صاحب غيرت و.

د امريکايي يرغل لومړنۍ شپې وې. د کابل پر تياره اسمان د يرغلګرو بي۵۲ بم غورځوونکي ګرځېدل او په ملکي کابليانو يې بمبارد کاوه.

کابل تخلیه کېده. د کابینې غړي لومړی لوګر کې او بیا ګردیز کې راغونډ شول چې څه وکړو. زما ټینګار دا و چې کابل پرېنږدو. که کابل پرېږدو په چاراسیاب کې باید خط واچوو او مقابله یې وکړو. خو د ځینو ملګرو نظر دا و چې مقاومت نه شي کېدای. ډېر بحث او مناقشه مو سره وکړه. ما د دوی خبره ونه منله او ورته ومې ویل چې دا ستاسې خبره ده که د مشر امیرالمؤمنین. دوی ویل دا زموږ خبره ده. ما ورته وویل، تر څو چې د امیرالمؤمنین حکم نه وي راغلی زه ستاسې خبره نه منم.

خبره ټوله ملا صاحب ته محول شوه او وخت وټاکل شو چې ملا صاحب به مازدیګر لوېه مخابره کې داخلېږي او تاسې ته به وروستی فرمان درکوي. ټول مسوولین دې چمتو اوسي.

ما په دې وخت کې له ځان سره وویل چې: مشر ملا صاحب! تا سره ما د غیرت په وجه بیعت کړی و. نو نن ستا د غیرت د امتحان ورځ ده. زه به ستا غیرت ګورم.

ټول په تمه وو چې ملا صاحب سترې مخابرې ته داخل شي او وروستی فرمان ورکړي. ملا صاحب چې کله سترې مخابرې ته داخل شو، هلته نور غړونه راتلل، غالباً مخالفین به هم داخل شوي وو. بیا ملا صاحب د بلې مخابرې شمېرې ته داخل شو. له حمد او ثنا څخه وروسته یې ټولو ته امر وکړ چې تر وروستۍ سلګۍ پورې وجنګېږئ، هېڅوک وسله پر ځمکه کېنښږدئ او له جهاد څخه پر شا نه شئ، دا بهترینه فریضه ده.

والد صاحب په دې وخت کې وخندل او زیاته یې کړه: ما د الله تعالی شکر ادا کړ او له خپل رب سره مې د دې تعهد تجدید وکړ چې ملا صاحب ته زما مشر وې او راتلونکي کې به هم یې. ستا په غیرت باندې زه همیشه افتخار کوم.

دا د وطن په یوه تاریخي شپېه کې مرحوم امیرالمؤمنین رحمه‌الله سره زما د والد صاحب مرحوم خاطره وه. د والد صاحب مرحوم رحمه‌الله نصیحت د ژوند تر وروستۍ شېبې ټولو ته همدا و چې تر هغې به د ملا صاحب مرحوم اطاعت کوئ چې د جهاد او مبارزې لار یې نه وي پرېښې.

الله دې د هغو دواړو غیرتي او متوکلینو بندګانو قبرونه رڼا کړي. په ډېرو سختو شېبو کې هم د هغوی له خولې د کمزورۍ او ضعف خبره وانهورېدل شوه. د غیرت څلي وو.

د ډېرو خلکو پښې وښوییدې. په دې وغولېدل چې ټکنالوژي ده، زبرځواک سره جګړه ده او دا نه شي کېدای.

خو نن د دې جهاد په برکت همدا زبرځواک موږ سره په داسې کچه تعامل کوي چې د رسمي حکومت پرمهال یې موږ سره نه و کړی. دا د هغه رښتیني مشر فراست، ایمان، غیرت او تقوا وه چې د دې ورځو وړاندوینه یې کړې وه. هغه وخت د ملا صاحب خبره ډېرو ته د منلو نه برېښېده؛ خو نن ډېرو ومنله.

الله یرحمهم.

د مرحوم ملاصاحب

په اړه يوه پرتله او يوه خاطره...!!

موسى فرهاد

٦كاله وړاندي چې د مرحوم أميرالمؤمنين د وفات خبر رسنيز شو، هغه مهال په يوې انګريزي ورځپاڼې کې يوې مسلماني هندي الاصله امريکايي ژورناليستي، د ملا محمد عمر مجاهد او جنګي امريکايي مشر بوش پرتله له خپله انده کړې وه چې څو ټکي يې داسي وو:

ملا عمر او جارج بش د تاريخ داسې دوه نومونه دي چې له تصادم څخه يې د اور سرې لمبې پورته شوي، د وينو وياله تږې وبهيدې، د ظلم داسي داستانونه يې ثبت کړل چې له امله يې تش په نوم مهذبو قدرتونو د تل لپاره خپل مخونه تور کړل.

د يو ليرې پراته هيواد اوسيدونکي، د هغوی مذهبي اقدار او ملي عنعنات يې تالا ترغه کړل، د آزادۍ په نوم يې د سولي او امن جرړې و ايستلې، مور ته هغه ويروونکي صحنې او شيبې بيا يادي دې چې د امريکايي چينلونو پر سکرينونو به مو کتلې او اوريدلي چې يو دجال د مسيحا په بڼه افغانستان ته رسيدلی، د يو انسان په پلمه په لکونو انسانان د هستۍ له صفحې څخه ترې تم کوي.

دغه کينه او کرکه دلته هم ختمه نشوه، بلکې د زړوې وسلو په بهانه يې پر بله خمکه (عراق) د مرګونو او وحشتونو لړۍ پيل کړه، په داسي حال کې چې د افغانستان له غرو او رغو څخه د مظلومانو آه او فرياد لا اوس هم اوريدل کيده.

له ١٩٤٥څخه نيولي، د عراق تر بريده پوري امريکا نږدې د دوه سوه يرغلونو ارتکاب کړی، او نيـايي دا د امريکايي واکمنو د هغې ستراتيژۍ برخه وې، چې امريکايي تاريخ پوه چارلس برډ يې په اړه ليکي: د تل پاتې بريا او برلاسي لپاره، تلپاتي جګړه اړينه ده). مطلب دا چې امريکا که د يرغل لپاره پلمې هر څه جوړوي، خو تلپاتي يرغليزه کړنلاره د هغوی ستراتيژي ده.

يادي ليکوالي ويلي، د ملاعمر له مړينې سره د رواني پيړۍ د تاريخ يوه لويه برخه تړلې ده، په وينا يې ما د خپلي دايرې پاڼي پلټلي، پر څو داسي پاڼو ورمخ شوم چې د وينو په سياهي ليکلي شوي وې، يعنې د ډايرې دا برخه د داسي خونړيو جګړو له حوادثو ډکه وه چې په دې پيړۍ کې يې بيلګې موندل ناشونې کار دی، او دا د هغه چا په لاسونو ترسره شوي خونړۍ کارنامې وې، چې د ملاعمر تر راپاڅيدلو وړاندې هم د امريکا په ملاتړ واکمن شوي وو او وروسته هم د امريکا په مټ د واک پر ګدۍ ناست دي.

د دې ناقانونه وسلوالو د کارنامو په اړه زما په ډايرې کې راغلي چې د عفيفو ميرمنو او کم عمره زلميانو له ابرو ريزې نيولې، تر غير انساني وژنو پورې، له هيڅ ډول وحشت څخه مخ نه دی اوښتي.

دا پر هغه بدمرغيو برسيره وې، چې د کمونيستي رژيم له لوري خواوشا يو ميليون کړل شويو ماينونو هم د

خلکو د ژوند ډېوې پرلپسې مړې کولې، او په میلیونونو افغانان د وطن پرېښودلو له لاسه کړېدل.

خو همدا د ملا عمر په مشرۍ طالبان وو چې د اختناق دغه حالت يې ورو ورو ختم کړ، مگر امريکا د خپلې حملې د جواز لپاره همدغو طالبانو ته سخت دريځي ويل، په دې وجه چې خپلو افغان ميرمنو ته يې د ښځ له خوښې سره سمه آزادي نه ورکوله.

طالبانو اوږدې ږيرې درلودې، خو چونکه يهوديان نه وو، د ښځ ځکه نه خوښېدل، ښاغلی بوش ته يوازې يهودي لوی ږيرې د درنښت قابل دي او ورته سلام کوي.

د ملا عمر طالبان د امريکا له نظره ظالمان وو، ځکه خو يې پريکړه کړې وه چې د تل لپاره يې بايد نيست او نابود کړي.

له همدې ځايه وه چې د بوش د ترهگرۍ بيلگې نړۍ په خپلو سترگو وليدلې، په افغانستان کې يې ويالې د اوبو پرځای په معصومو وينو ډکې وبهولې.

هغه افغان ميرمنې چې د تل لپاره د غير محرم له نظره خوندي وې؛ د بوش عسکرو د هغوی تلاشي اخيسته، د آزادۍ په نوم يې له هغوی نه د هغوی ماشومان ترې بيل کړل او ميندې يې د تل لپاره د مرگي په خوب ويدې کړلې، کورونه يې په بمونو ورته وران کړل، خو د امريکا د دې ترهگرۍ په وړاندې د «أف» ويلو جرأت چا نشو کولای، چې بيا به د ترهگرو په ليست کې ورگډېده.

خاطره:

تېر کال د مرحوم ملا صاحب د تلين په مناسبت ما د « خو اوريدليو او ليدليو» تر سرليک لاندې د مرحوم څه خاطرې ذکر کړې وې، خو دا لاندېنۍ خاطره مې اوس له داسې چا واوريده چې هغه يې پخپله راوي او د صحنې شاهد دی.

مولوي احمدالله محمود صاحب چې د شينکي په ملا احمدالله اخند هم مشهور دی؛ د زابل د څو پياوړو قومندانانو په قطار کې راځي، د امارت د سابقينو اولينو مجاهدينو څخه دی، د اوسني جهاد په دوران کې يې له لومړۍ ورځې ترننه پوري د جهاد سنگر نه دی پرې ايښې، له اوږده زندانه وروسته د ميدان وردگ والي او بيا د زابل مرستيال والي پاتي شوی، او د خپلې قطعې نظامي مسئول دی.

نوموړی وايي: (د امارت ترسقوط ښه موده وروسته چې کله مرحوم أميرالمومنين د زابل ولايت، شينکي ولسوالی د اشرف خيلو کلي کې اوسيده، يوه ورځ زه او مرحوم مولوی محمد اکرم صاحب ورغلو، د حال احوال پوښتنه مو يې کوله، د ده په وينا، د مجلس په پای کې ما مرحوم ملاصاحب ته وويل، څه خدمت وکړو، څه ته ضرورت لرې؟ دوا، خوراک او يا بل څه ته؟ وای ملا صاحب مرحوم له لږ ځنډ وروسته راته وويل: د پسه تازه غوښې ته مې ډيرشوق کيږي، ما ورته وويل داخو ډېرآسانه کار دی، دا به ضرور وکړم إن شاء الله.

وايي ملا صاحب د واسکټ (صدرۍ) د بغل جيب زنځير خلاص کړ، دوه نيم زره روپۍ يې له جيبه را وايستلې، وای دا پيسې راسره سته او دا مې خپلې شخصي دي، يعنې د بيت المال نه دي، نوري نسته راسره، دا درسره واخله په دې به د پسه داسې غوښه راته واخلې چې الي يل سوې وي. (الي يلی،، يعنې هغه پسه چې پوست نه وي ترې ايستل شوی، بلکې له پوست سره پر اور وريت سوی وي.) وای، ماورته ويل د غوښې اخيستلو ضرورت نسته، پسونه موږ پخپل کور کې لرو، پسه به درته حلال کړو، پر اور به يې والييو او درته رابه يې وړم... ان شاءالله.)

نور يې په اړه تأثر اخيستل او تبصره کول د لوستونکو خپل حق دی، خو زه دومره ويلای شم چې رښتيا همداسې سپيڅلي، فقير صفته غيرتي وگړي دي چې د تاريخ لوری بدلوي، د تاريخ پاڼې د همداسې مرحومينو په نا آشنا کردار زرينې گرځي. الله تعالی دې يې قبر منور؛ لارويان او ځايناستي يې دې الله تعالی د ده په څير سپيڅلي او با عزمه ولري. آمين

پای.......!!

د ثالث عمر ترجونګړي، د سفر خاطره

قاري عبدالستار سعيد

د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په اړه د کتاب ليکلو پر مهال مې يو وخت اراده وکړه چې د ملا صاحب هغه د اوسيدلو ځای چې نوموړي په کې د ژوند وروستي کلونه تير کړي په خپله ووينم او بيا خپل د سترګو ليدلی حال له لوستونکو سره شريک کړم.

د ۲۰۱۸ م کال د سبتمبر ۲۸ مې ولاړ مازديګر و چې د يوه بل همسفر ملګري سره يو ځای د هغه په موټر کې له کندهار ښار څخه د زابل پر خوا روان شوم. زه د موټر مخکې سيټ کې کيناستم، دوه تنه کلاتوال چې يو يې مريض ځوانکی او بل سپين ږيری و شاته ناست ول. سفر ځکه راته خوږ او ولوله انګيز و چې د يوه داسې ځای پر لور تلم چې له ډيره وخته يې راسره د ليدلو تلوسه وه. د دامان په حدودو کې د سرک غاړو ته پاليزوانانو ختکي د خرڅلاو لپاره دلی هر ځای دلی کړي و، چې يو ځای موږ هم تری ځو ختکي رانيول. په دامان ولسوالی کې يوه عسکر موټر ته لاس راکړ، مجبورا مو موټر ورته بريک کړ، عسکر راوخوت، شنې تسبې يې په غاړه اميل کړې وې. ويل يې د شهر صفا پوستې ته ځم. عسکر چرسي معلوميده چې په لاره يې خوږ او کله دردوونکی مجلس کاوه،عسکر د شهر صفا د هغه بندي طالب کيسه وکړه چې څو ورځې مخکې يې په ولسوالی کې په عسکرو حمله کړې وه او د شهادت تر وخته يې يو شواروز جګړه کړې وه. عسکر د طالب کيسه ډيره په خوند کوله، ول د نامي د زوی دومره زړه و لکه دا غر. يو شواروز کندهار او کلات پرې ستړي شول، کرارولای يې نه شوای. آخر يې بمبار پرې وکړ او د هغه ډيپو چت يې پرې کيناوه چې ده په کې سنګر نيولی و. په هر حال عسکر د شهر صفا ولسوالی ته نارسيده يوې پوستې ته ورښکته شو. موږ تر کلاته لاړو او هلته هغه نور کسان هم ښکته شول.

مازديګر ناوخته له کلات ښاره د جنوب په خوا ووتو، د ترنک په رود له پله او پوستو تير شو، لوړ ډاګ کې مو د مازديګر لمونځ ادا کړ، وروسې د سيوري په خوا روان شوو. د سيوري ولسوالي د سورغر په لمن کې اوږده پرته ده. امريکايانو د ولسوالی تر مرکز پورې سرک پوخ کړی دی. هلته يې پخوا ډيره غټه قرارګاه او د چورلکو ميدان درلود دا په زابل کې د دوی تر ټولو مهمه قرارګاه وه.

ولسوالی ته نارسيده ښي اړخ ته وګرځيدو، همسفر ملګري ويل نور د طالبانو ساحه شروع شوه، اول د لوړګي په نوم کلی مخکې راغی، سپيره کلی و، د ټيټو ديوالونو تپلي کورونه، چې د انګورو باغونه پرې را تاو وو. له کلي وړتير مو ډاګ کې د ماښام لمونځ وکړ. له ښه مزله وروسته په يوه لوی کلي ورګډ شوو. دا کلی عمرزي بولي چې ملا محمد عمر مجاهد د ژوندي وروستي کلونه همدلته تېر کړي دي.

د کلي په کوڅو کې ماښام ناوخته ماشومانو منډې وهلې، ځينو مالوته له څړه راستنول، بزګران هم هلته دلته معلوميدل، د يوه کور سره ودريدو، ډله نجونې او کوچني ماشومان په موټر راټول شول. همدلته له موټره ښکته او شيبه وروسته د کور ميلمه ځای ته رهبري شوم. يو جلا سرای و چې جنوب اړخ ته يې کشمش خانه، وروسې په کونج کې ګاراج او شمال خواته يې په ښه ستايل جوړه شوې کوټه وه،

چې دهلیز او لوخه برنده یې درلودل. کوټه ښه رنګ شوې وه او د خښتو په پوښښ جوړه شوې وه. دا هغه کوټه ده چې ملا محمد عمر مجاهد د امریکایي یرغل په مهال چې له کندهار ه زابل ته راغی لومړی همدې کوټې ته ننوت او دلته یې د زابل د مجاهدینو له مشرانو سره مجلس وکړ.

ماخستن مو له کوربنو سره مجلس شو، همسفر ملګري له موټره هغه ختکې را واخیستل چې د کندهار په دامان کې یې د سړک غاړې له یوه پالیزوان څخه اخیستي وو. په مجلس کې له هرې خوا وغږېدو. دغه کلی عمرزي بولي. شاوخوا ۱۲۰ کوره دی. ټول کلی یو مسجد لري. خلک یې اکثره د انګورو باغونه لري او کشمش خرڅوي. دامریکایانو ضد جهاد کې ددې کلي شاوخوا دېرش تنه شهیدان شوي چې سبا یې موږ هدیرې ته ورغلو. د کلي خلک غریب خو ټینګ مسلمانان دي. له همدې امله امریکایانو ورسره دیره کینه درلوده، همیشه یې پرې چاپې اچولې او د ټانګونو قوې به راتلې. د کلي په څو کیلومترۍ کې امریکایي مرکز او ولسوالي پرته ده. ملا صاحب د خپل ژوند وروستي څه باندې اوه کاله په همدې کلي کې تیر کړل. امریکایانو په دې مرحله کې لسګونه ځله په دې کلي چاپې واچولې، ۹ ځله خو هغه کور ته هم امریکایان او عسکر ورغلل چې ملا صاحب خپله په کې و. خو الله تعالی نجات ورکړ.

همدا شپه مې همدلته شوه، سهار ملګري راته وویل چې راځه هغه ځای ته ورشو چې ملاصاحب په کې اوسیده. د کلي خاورینې له پوټیو ډکې کوڅې، خړ پړ ماشومان چې د غربت نښې پرې ښکاریدې، ټیټ او خړ کورونه چې هر چا یې دیوالونه خپله وهلي، دي هر څه د کلي د غربت کیسه کوله. په یوه دوو کونجونو را تاو شوو، د یوه کور ، دروازه مو ورټکوله، یو ځوان راووت، چې له مخکې ورسره خبره شوې وه، په یوه داسې کوچنۍ پیوندي دروازه ننوتو چې تیمان او د بوشکې پټري ورپورې پیوند شوي وو. ښي لاس ته یو نسبتا ښه جوړه شوې کوټه وه، دا د کور عمومي میلمه ځای دی، دلته به چې د ملا صاحب استازي راغلل ډوډۍ به یې خوړله، ملا صاحب دلته نه اوسیده. د همدې کوټې نه قبلې خوا ته مخامخ بل ور پرې دی. په دې کوټه کې اول وار دوه کاله ملاصاحب اوسیده. او د احتیاطي پټیدو لپاره په کې ځای جوړ شوی و.

د مهمانخانې شاته یعنی شمال پلو بل جلا ځای دی چې د مهمانخانې له سرای نه ور ورخلاص دی. دلته د زابل په اصطلاح کوچنی مامته (باغچه) ده. د پالیز لپاره کوچنی ځای چې نهالونه او بزغلي هم په کې ولاړ دي. شمال ارخ ته یې دوه کوټې دي، غرب پلو لویه کوټه دا د ملا صاحب د کوربه (ملا عبدالجبار عمري صاحب) میشت ځای دی چې له خپل اهل او عیال سره په کې اوسیده.

ورسره نښتې شرق پلو ته کوچنی برنده، چې مخ ته یې د یونیم متر په طول او عرض کوچنی د چمن ځای درلود، له برندې نه دننه ور خلاص دی، دا د ملا صاحب مبارک کوټه وه، درې په درې متره کې سپینه خټینه کوټه، چې د قبلې ارخ دور ته یې لرګین کټ ایښی دی او په دیوال اوس هم د ملاصاحب د اوږو او سر نښانونه معلومیږي. کوټه به څنګه کې حمام هم لري، دغه راز د کوټې له څنګ سره په دیر مهارت د احتیاطي مخفي کېدو ځای هم جوړ شوی دی.

له کوټې مې څو انځورونه واخیستل، د تبرک لپاره د ملا صاحب د ناستې په ځای کیناستم، وروسته هغې مخفیګاه ته ننوتم، چې ملا صاحب او عمري صاحب به د تلاشۍ پر وخت په کې پناه اخیسته. په مخفیګاه کې دننه تیاره وه، یوه برچه اوس هم دلته ایښې وه، د کوربنو په قول ملا صاحب له امریکایانو سره د لاس په لاس کیدو د وخت لپاره له ځان سره همیشه وسله ساتله،د ملا صاحب له جونګړې د لیدنې پر مهال په داسې حال کې چې ملګرو مسلسل توضیحات راکول، خو زه نه پوهیږم په څنګه حالت کې راګیر وم چې له خولې مې سپړ هم نه ووت، لکه ګڼې چې نیولی او ژبون مې وهل شوي وي. د یوه لیکوال او

خبرېال په حيث مې په زړه کې سلګونه پوښتنې درلودې، خو زه د احساساتو توپان داسې لاندې کړی وم چې که له ملګرو شرم نه وای، زړه مې غوښتل چې په چيغو چيغو وژاړم، د زړه له تله دا کوکې وباسم، چې اې د مادي نړۍ اوسېدونکو! اې له دين او ديانت څخه منکرو او په خپل دجالي تخنيک مغرورو نړيوالو! اې په دنيوي عيشونو کې ورکو حاکمانو! او اې د هوس، شهرت، لذت، مال، منصب او قدرت بندګانو! راشئ دلته د ديانت، سپېڅلتيا، زهد، ايثار او له خپل رب تعالی سره د اورښې مينې مستند داستان وګورئ. راشئ وګورئ چې د دجال په زمانه کې لا هم د خير القرون بېلګې ژوندۍ دي.

زما د سترګو په وړاندې د هغه چا ختين او غريبانه ميشت ځای و، چې ۴۸ هيوادونو او د ناټو پوځي اتحاد يې په وړاندې د جګړې اعلان کړی و. هغه مسلمان حاکم چې يوازې د اسلامي حاکميت د جوړولو په جرم (!) دومره مجرم بلل کېده، چې د امنيت شورۍ خلورو دائمي غړو په اتفاق په مرګ محکوم کړی و. هغه حاکم چې حتی د سيمې د هيوادونو ۲۱ استخباراتي شبکې يې په وژلو پسې وې او هرې يوې هڅه کوله، له سي آی اې هغه انعام تر لاسه کړي چې د ده پر سر يې ايښی و.

زما په وړاندې د هغه چا غريبانه جونګړه وه، چې له نظامي او استخباراتي جګړې نه علاوه يې په وړاندې د نړۍ ټولو راډيوګانو، تيلويزوني شبکو، اخبارونو، فلمي کمپنيو او حتی د هيواد او سيمې درباري عالمانو هم تبليغاتي جنګ اعلان کړ او غوښتل يې په بدنامولو سره يې له امريکايي دجال څخه څه زهر زقوم ترلاسه کړي.

زړه مې غوښتل دخيال په دنيا کې جورج بوش، ټوني بلير او نور طاغوت خيل را مېنشن کړم، چې راشئ وګورئ، هغه څوک چې تاسو يې د وژلو قسم اخيستی و، الله تعالی په څنګه خارق العاده ډول، ستاسو د قرارګاوو له بغل سره، ستاسو له ګزنده وساته.

زړه مې غوښتل اسد خالد، امر الله صالح، رحمت الله نبيل او نورو د سي آی اې شکيرليو ته ورغږ کړم، هغه چې تاسو ويل، ملا صاحب په پنجاب کې دی، په کراچۍ کې بستر دی، هغه ده او دغه ده. راشئ وګورئ چې هغه ستاسو د اوړونو او بمبارونو په باران کې هم يوه شيبه له خپل محبوب وطن څخه نه دی وتلی.

زړه مې غوښتل يو غږ استاد سياف او شيراني صاحب ته هم ورووکړم، چې د سياست امامه او د ظاهري علم او عقلانيت تيکه داره! راشه لږ د عشق او عقيدې داستان هم وګوره، د ايمان، اخلاص او عزم هغه پرتمين داستان چې د معاصر عقل، سياست او بصيرت په قالبونو کې نه ځايېږي. تا چې ملا محمد عمر مجاهد ته د جنازې د ګمنامۍ پيغور ورکاوه، راشه وګوره چې هغه جناب د ايمان د آزمون پرچه په داسې ډول حل کړې ده چې له شرقه او غربه يې مسلمان امت غائبانه جنازې کوي او په ناليدلې حالت يې ايماني پرتم ته دوه لاسي سلام کوي.

ته د خپل ځان له غمه مرې، زه د جانان له غمه
ناصحه! ستا ثواب، زما ګناه ته چېرته رسي

په هر حال

زه په داسې حال کې چې خپله ورکه مې مونډلې وه، سخت د احساساتو تر بوج لاندې وم، د ملاصاحب د اوسېدو ځای ډېر ابتدائي او يو د ختو نه جوړ غريبانه کور و، چې ده په کې څه کم اته کاله وخت تېر کړی و. دا د هغه امير ميشت ځای و چې يوازې د اسلام د لوړتيا په خاطر يې خپل د شاهي قصر، بادشاهي ژوند، ناوې ميرمن، شيرين اولادونه او د قدرت زرينه څوکۍ پرېښوده، راغی د زابل په دې خړ کلي او خاورينو کوټو کې يې ۱۳ کاله د تنهايي او غربت ژوند اختيار کړ. له دې معلوميده چې هغه په خپل ځان او نفس فوق العاده کنټرول درلود. د دې عيشونو او شاهي پس منظر هيرول د هر چا د توان کار نه دی، بلکې عمري عزم غواړي.

د ملا صاحب د کوربه په وینا ملا صاحب له دنیوي نعمتونو، خوراکونو او عیشونو سره هیڅ دلچسپي نه درلوده، هیڅکله یې پوره دوډۍ نه خوړله، د کم خوراک او وریبښ توبرکلوز ناروغۍ له امله یې په آخر کې بدن دومره کمزوری شوی و، چې د لاس غټه او مسواکۍ ګوتې یې د پښې له ښنګري تاویدلی او سره رسیدلی شوای. معنی دا چې هغه الله تعالی ته یوازې وچ هډونه او په هډونو خپور پوستکی ورووړ. نور یې د وخت دحاکمانو په شان د ملت په وینو پړسیدلې بوټۍ نه دي وروړې.

خو په جسمي لحاظ همدې استخواني پیکر ته الله تعالی داسې ایماني پرتم او رعب ورکړی و، چې درسته کفري نړۍ یې له هیبته لړزیدله، هغه یې د خپل دجالي نړیوال نظم لپاره تر تولو ستر خطر باله، تر دې چې ناتو د خپل منشور هغه ماده چې په مشترک دښمن به ګډه حمله کوي، یوازې د ملا محمد عمر مجاهد د امارت نړولو پر مهال وکاروله او په افغانستان یې په اشر برید وکړ. په هر حال د ثالث عمر له میشت ځایه چې راووتو نږدې یوه بل کور کې مې غرمه دوډۍ وخوړه او بیا لړ ویده شوم، ماسپښن قضاء له ملګري سره په موټر کې په منظره ووتم، لومړی د عمرزو دکلي د شهیداتو هدیرې ته لاړم ۲۱ تنه شهیدان د هدیرې په یوه طرف کې لیکه پراته دي چې په اکثرو لیکنې هم شوي دي. دغه ځوانان د همدې یوه کلي دي چې یوازې له امریکایانو سره د جنګ په ۱۷ کلنه مرحله کې یې د شهادت جامونه نوش کړي دي.

بیا لاړو د کوربه ملګري د انګورو په باغ راوګرځیدو،موږ لا په باغ کې و چې دوو وړو نجونو په کوربه پسې همدلته یو چرګ راووړ چې دا را حلال کړه مطلب بیګاه ته بیا د کورني چرګ ښوروا برابره وه.

مازدیګر د باغ له څنګ سره چمن کې د زردالو د ونې لاندې کیناستو، د میزان ستوري وهلي خواږه انګور مو وخوړل، د ماښام لمونځ مو هم په باغ کې همدلته د حوض په غاړه وکړ. کوربه ملګري د (ثالث عمر) خاطرې بیانولې، چې ده تر اوسه (ملا عبدالله آخند) باله، هغه نوم چې د مخفي ژوند په مرحله کې ملا صاحب ته غوره شوی و. ده ویل په دې کلي کې د ملا صاحب محفوظ پاته کیدل یوازې د الله تعالی فضل او د هغه مرحوم کرامت و او بس. هغه مخامخ د امریکایانو قرارګاه معلومیږي، زموږ کلی د مجاهدینو کلی دی، هر وخت به دلته په امریکایانو حملې کیدلې، بیا به امریکایان کلي ته په عملیاتو راتلل، خو له تولو چاپو او تلاشیو سره سره دښمن ونه توانید چې د ملا صاحب څرک ولګوي. ده ویل د ملا صاحب د پټ پاته کیدو راز هم الله تعالی زموږ په سینو کې داسې محبوس کړی و، چې حتی سره خبرو کسانو به تر خپل منځ هم په دې اره هیڅ نه سره ویل. داخبره یې لکه معدومه داسې ګرځولې وه، نو څکه خبره بل چا ته هم ونه وتله.

د ملا صاحب د استازو د راتګ کیسه یې وکړه، ویل یې یوه ورځ د ملا صاحب استازی ملا عزیز الله آخند راغلی و، واوره پرته وه او د بیرته تګ لپاره باید د ولسوالۍ مرکز ته نږدې پاخه سرک ته پیاده تللی وای، ده وویل: زه هم ورسره ملګری شوم، هلته په ډاګ کې امریکایان ولاړ و، موږ لار ترې چپه کړه، خو هغوی غږ راباندې وکړ، له ملاعزیز الله آخند سره داسې اسناد و چې که یې تلاشي کړای وای، د ملا صاحب ځای هم ترې کشف کیدلای شوای. خو موږ چې امریکایانو ته ورنږدې شوو، زه ور مخکې شوم او په بیړه مې ورته وویل چې یو سخت مریض راپیښ دی. د ولسوالۍ له مرکز نه دوا ورته راوړو، ددې خبرې په اوریدو یې اجازه راکړه او تلاشي یې ونه کړه.

تر قضاء ماښامه مو همدلته د ثالث عمر په یادونو خوند واخیست او وروسته د کور پر خوا روان شوو.

پنډه د غمونو پر سر بیرته وړم
تا ته سپمولی نظر بیرته وړم
څوک د مرغلرو پیژندوی نه و
تل د سمندر ته ګوهر بیرته وړم

(رحمه الله و اسکن روحه في اعلی علیین)

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

ځینې تاریخي کارنامې

عبدالولی خلیل

له شک پرته چې مرحوم ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی هم د خپلو تیرو اتلانو میرویس نیکه، أحمد شاه بابا او محمود غزنوي رحمهم الله په څېر په تاریخ کې ځان ته یو باب پرانیست، د هغوی په څېر د غیرت او آزادۍ ژوند یې وکړ، د خپل دین، اسلامي ریاست، ملي او دیني ارزښتونو د دفاع لپاره یې جهاد پیل کړ، د انقلاب ژوند یې غوره کړ او هغه کارنامې یې ترسره کړې چې تاریخ به یې تل په غوره نامه ثبت کړي او تر پېړیو پېړیو به یې یادونې کوي.

په لاندې کرښو کې یې د مشت نمونه خروار په توګه یو څو هغه تاریخي کارنامې لیکو چې د مرحوم د معنوي اثر، الهي احکامو ته د تعهد، د مظلومانو سره د همدردۍ او له خپل ولس سره د ریښتینولۍ، اخلاص او صداقت نبښې دي.

(۱) مرحوم ملاصاحب په دې وتوانېد چې جهاد یې د تنظیمونو له ولکې څخه راوویست او د اسلامي امت په نوم یې جهاد کړ، افغان مسلمان ملت یې راټول کړ او یو واحد صف یې تري جوړ کړ، په خپله میرانه، صداقت او متانت سره د هیواد ټول علماء، قاضیان، مخور مشران، د قومونو سپین ږیري او جهادي قومندانان دې ته اړ کړل چې د نوموړي ملاتړ اعلان کړي او بیعت ورسره وکړي، هیڅ کوم کس دا جرئت ونه کړ چې په وړاندې یې بغاوت وکړي.

(۲) د افغانستان په خاوره یې شپږ کاله داسې واکمني وکړه چې د عمري خلافت یاد یې پکې ژوندی کړ، شریعت یې نافذ کړ، حدود یې جاري کړل او د اسلامي شریعت یې یوه داسې عملي بڼه وړاندې کړه لکه څنګه چې الله تعالی په خپل مقدس کتاب کې احکامات رانازل کړي دي، د خپل حکومت اساس یې شریعت و، له هغه سره سم به یې پرېکړې کولې.

(۳) د بودا د زړو مجسمو نړول یې هغه تاریخي کړنه وه چې نړۍ ته یې دا وښوده چې افغانان د اسلامي شریعت پالونکي دي، د مجسمو په

وسیله شتمنۍ غني کولو ته کوم اهمیت نه ورکوي.

(۴) تر یوه مظلوم مسلمان خپله ټوله واکمني ځارول یې داسې کارنامه ده چې په ټول تاریخ کې بیا ثمه نه لرو چې یو ولسمشر- دې د یوه مسلمان د ژوند ژغورلو لپاره خپله ټوله واکمني رنګه کړي، هیواد دې د جګړو سنګر وګرځوي، د نړۍ یوه ستر ځواک ته دې رد بد ځواب وواییې، یوازې عمر و چې نړیوال ائتلاف د امریکا په مشرۍ د اسامه بن لادن د سپارلو غوښتنه تري وکړه، ده یې غوښتنه رد او د هغوی هر اقدام ته ودرېد.

(۵) د نړۍ د ستر زبرځواک امریکا او ائتلافي ځواکونو په وړاندې یې د نظامي قیام اعلان هغه څه و چې ددې (یوویشتمې) پېړۍ د جهاد په مجدد ونومول سو، وسله والې مبارزې یې درست اسلامي امت ته د جهاد روحیه ورکړه او د نړۍ په نورو هیوادونو کې یې مسلمانان د یرغلونو په وړاندې پاڅون او جهاد ته وهڅول.

(۶) د خپل کردار لامله د نړۍ د ټولو مستضعفو مؤمنانو د نظر مرجع وګرځېده، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه به بیعتونه ورته راتلل او هغوی به د ځان لپاره یوه ستره سرمایه بلله.

(۷) په ټول هېواد کې د یوه داسې خوځښت (افغانستان اسلامي امارت) رامنځته کول چې له کندهاره تر بدخشانه ټول پکې د وروڼو په څېر ژوند کوي، له قومي او ژبني توپیره لرې ټول د صف د یوه عسکر په حیث پکې پېژندل کیږي.

(۸) د خلکو تر منځ یې داسې محبوبیت پیدا کېدل چې نه یې په وړاندې کومه ډله راپورته سوه، نه کوم سیال او مخالف پیدا سو، بلکې ټولو ته منظور او د یوه امیر په حیث یې منلی و.

(۹) دیارلس کاله یې په یوه خره حجره کې په داسې توګه تېر کړل چې هیڅ کوم استخباراتي ارګان ونه توانېدل چې ځای یې کشف کړي یا کوم خطر ورته پېښ کړي سره له دې چې په ډېره ماهرانه توګه یې درست اسلامي امارت هم رهبري کاوه، احکامات یې جاري کول او ستونزې هوارولې، تر دې جالبه دا چې په صف کې کوم داسې وګړی راپورته نسو چې یا یې د لیدلو او یا ژوند معلومات وغواړي.

(۱۰) د هر څه حکومت، واک او اختیار سره یې نه په خارج او نه په داخل هیواد کې کومه شتمني جوړه کړه، نه کوم بانک او تجارت تري پاته سو، بلکې فقیر راپورته سو، فقیرانه ژوند یې وکړ او فقیر وکوچېد.

اللهم ادخله الجنة مع الابرار.

هغه امير چې هېر شوي مفاهيم يې را ژوندي کړل...!!!

منصورالرحمن غزنوي

د الله تعالى جاري عادت دی چې وخت په وخت داسي خلک پیدا کوي چې د دين هغه مفاهيم چې د وخت په تيرېدا سره يې ډېوه تته شوي، بيرته روښانه او ژوندي وساتي، او همدا شان هغه مفاهيم هم را ژوندي کړي کوم چې د وخت په تيرېدا يا خو مړه او يا هم د کتابونو تر اوراقو منحصر پاتي وي، همدا خلک مجددين وي، الله تعالى په امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهدرحمه الله کې هم داسي صفات سره را يو ځای کړي وو، هغه رحمه الله داسي کارنامې وکړې چې بې له شکه مجدد ورته ويلی شو.

د نوموړي تر ټولو ستره کارنامه د خلافت علی منهاج النبوة احياء وه، خلافت اگر که د عثماني خلافت تر پايه و خو حقيقت دا دی چې له راشده خلافته وروسته ډېرې کمې داسي بېلگې تر سترگو کېږي چې خلافت دي په کره نبوي منهج بنا وي، خو دا وياړ الله تعالى امير المؤمنين رحمه الله ته ور په برخه کړ چې په دغه وروستي زمانه، د فتنو په دور کې يې نړيوالو ته د راشدينو خلفاو د وخت د خلافت نمونه وړاندې کړه، هغه د خپلې واکمني په دوران کې داسي څه وکړل چې په اورېدو يې د سړي سترگو ته خلفاء راشدين ودرېږي، د خپل واک په سيمو کې شرعي حدود نافذ کړل، عدالت يې تأمين کړ، خلکو ته يې خپل حقونه ورسول، داړمنه فضاء يې را مينځ ته کړه، د ولس، سر، ناموس او مالونه يې خوندي کړل، د امن او داډ دا حال و چې خلکو په خپل دکانونه پرانيستي پرېښودل نو د غلا وېره به نه وه ورسره، لنډه دا چې اعلى حاکميت او واکمني د شريعت وه، مظلوم برلاسی او ظالم محکوم و او هر مظلوم کولای شول چې د ظالم گريوان ته لاس واچوي.

نن سبا داسي وخت دی چې د دين او وطن د گټو تر مينځ ټکر راشي نو متأسفانه يو شمېر علماء هم د تذبذب ښکار شي او د ديني گټو په ځای هېوادنيو، قومي او سيمه ايزو گټو ته ترجيح ورکوي، خو د مرحوم امير المؤمنين رحمه الله يوه ځانگړتيا دا هم وه چې هغه به تل ديني گټې په نورو وړاندې گڼلې.

هغه ته الهي احکام او ديني لارښووني تر هر څه ارزښتناک وو، نو ځکه يې د نورو احکامو ترڅنگ د انما المؤمنون اخوة الهي حکم هم په ښه توگه پلې کړی و، هغه په دې ښه خبر و چې مسلمه امت تر يوه هېواده، يوه نژاده او يوه قوم پورې منحصر نه دی، بلکې که مسلمان د نړۍ په هر گوټ کې وي هغه ټول سره ديني وروڼه دي، د همدې عملي بېلگه چې ټولي نړۍ وليده هغه وه چې کله يې خپل امارت او واکمني له يوه مسلمان مهاجر څخه ځار کړه، د اسلامي ورورولی پالل چې په ظاهر کې څومره اسانه ښکاري په عمل کې ډېره سخته ده او د لوړ همت له څښتنانو پرته يې څوک نه شي پاللای.

ملا صاحب رحمه الله د ديني ارزښتونو د ټينگښت په لاره کې هم د پام وړ گامونه پورته کړل، بت شکني چې د اسلامي تاريخ داسي باب دی چې مزی يې ابراهيم خليل الله عليه السلام ته رسيږي، او له هغه وروسته بيا د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله هم د کعبې ټول بتان مات کړل، بيا علي او خالد رضي الله عنهما هم د هغوی په امر د قريشو نور غټ بتان هم مات کړل، دا لړۍ دلته هم پرې نه شوه بلکې د سومنات بت ماتونکي سلطان محمود غزنوي رحمه الله هم په خپل وار دا سنت ژوندی کړ، او لکه څنگه چې هغوی د هندو برهمنو تهديدونو له بت ماتونې څخه نه را وگرځول همدا شان په نني عصر کې بيا د عصري برهمنو تهديدونو هم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له بت شکنی څخه نه را وگرځاو او د بت شکنی د وياړمنې سلسلې په لړ کې يې نوم ثبت کړ.

د سياست او بين المللي روابطو پوهان په نن عصر کې د داسي پرېکړې وخاصت درک کولای شي چې په اوس عصر کې په مادياتو سمبال ستر هېوادونه هم په مشکل سره داسي قاطعه فيصله نشي کولای، خو مرحوم امير المؤمنين رحمه الله دلته هم په داسي حال کې چې تر شا يې هيڅ مادي قوت نه وو، د ايماني جرأت، ميړاني، غيرت او توکل محض په مټ د اسي نمونه وړاندې کوه چې تل به په اسلامي تاريخ کې په زرينو کرښو ليکل کيږي.

دا د امير المؤمنين د تجديدي کارنامو څو بېلگې دي چې يواځې د يوې ورو‌کي بېلگې په ډول وړاندې شول، څو که په غور وکتل شي د نوموړي ټول ژوند له داسي کارنامو څخه ډک دی.

الله تعالى دې اروا خوشحاله لري او کاروان دې تل سرلوړی او بريالی لري. آمين

اتم تلين يې له يوه مستند تاريخ سره!

متأسفانه د ژوندي نسل پراخه طبقه مو داسې حال ته رسېدلې ده چې د تاريخ لوستلو او معلومات ترې ترلاسه کولو سره بيخي نا اشنا دي، درحاليکه د ځوان نسل يا نوي نسلونو لپاره اړينه ده چې د اسلام د سپه سالارانو، جنګي امامانو تاريخ او داستانونه ولولوي او په ځان کې د اسلام د دښمنانو سره د مبارزې ولوله پيدا کړي؛ ځکه خو هر غيور قوم د خپلو هغه وياړلو اشخاصو د ژوند ټول داستانونه د تاريخ پاڼو کې ثبت کړي چې هغوی له کفر سره په مبارزو کې او د قومونو په آزادۍ کې مهم رول لوبولی وي، د نړۍ د پر ظالم، مستکبر او متجبر قوم په وړاندې څنګه د حق چيغه پورته کړې وي او په خپله جهادي مبارزه کې څنګه بريالي سوي وي، چې دا هرڅه نوي نسلونو ته د خپلواکۍ په فکر ورکولو او د جهادي روحيې په ژوندۍ ساتلو کې رغنده رول لوبوي.

په همدې اساس به افغان اسلامپال قشر به تل دا تلوسه لرله چې ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله هم د آزادۍ د يوه امام، ددې پېړۍ د جهاد د مجدد او يو وياړلي شخصيت په حيث ژوند وکړ، کاش د هغه ټول ژوند له ابتدا تر انتها پوري ټول په ليکلې بڼه د تاريخ پاڼو کې ثبت سي ترڅو اوسنی ځوان نسل او راروان نوي توکمونه يې ولولي، درس ترې واخلي، د لارې مشال يې وګرځوي او د مخته ژوند لپدلوری ترې وټاکي.

چې لله الحمد دا مهال مو د زړونو دغه هيله پوره سوې ده او د مرحوم ملاصاحب اتم تلين په داسې حال کې لمانځو چې د تاند قلم د څښتن، ليکوال او شاعر مولوي عبدالستار سعيد صاحب له لوري د آزادۍ ددې اوسپنيز امام ټول ژوند د تاريخ پاڼو ته سپارل سوی دی او د شپږو سوو شاوخوا مخونو په حجم کې چاپ سوی دی، يقينا دا به د نوموړي ليکوال يوه بې سارې کارنامه وي چې د خپلو وېښو کوتو او تاند قلم په مټ يې ترسره کړه. (ورته مبارک دي وي)

ياد تاريخ د "ثالث عمر" په نوم نومول سوی دی او د ارواښاد ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالي د ژوند له شروع تر آخره ټوله سرګذشت يې ليکلی دی، چې ترلاسه کول او لوستل يې د هر مشر او کشر وجيبه جوړېږي ترڅو په دې خبر سي چې ملا صاحب مرحوم ژوند څنګه تېر کړ؟

هغه څنګه افغانان د ظلم، استبداد او غلامۍ له ځنځيرونو آزاد کړل او د افغانانو د مظلوميت بېړۍ يې د آزادۍ تر ساحله ورسوله؟

په روان جهادي بهير کې يې کوم تکليفونه، هجرتونه، هجرانونه او يکانکي وګاللي؟

هغه چې خپله په تاريخ کې کوم مقام ترلاسه کړ، يا يې افغانانو ته کوم برم وروبښی، نا يې د امتياز، استراحت او اسودګۍ په ژوند وګټی که يې په توره شپه کې د سنګر د يوه پېره کوونکي مجاهد په څېر ديارلس کاله داسې تېر کړل چې سترګې يې په ځار، غوږونه د دښمن د راتګ په ږغ، زړه او دماغ يې دفاعي پلان جوړولو مصروف.

په لوستلو سره به مو دا او دېته ورته پوښتنې ټولې ځواب سي او د خپل وياړلي امير په قدر به پوه سو!

د ثور اوومه او اتمه

د هېرېدو نه دي!!

داچې د ثور دمنحوسې کودتا څلورڅلوېښتم کال روان دی او دهغه مهال ځوانان اوس عمر خوړلي سپین ږیري دي دایې یوعلت اوبل پر افغانستان نور هم داسې حالات راغلل چې نږدې ده دغه ورځ نور هېره شي او څوک یې ډېره یاده نه کړي، په داسې حال کې چې دهمدې نږدې نیمې پېړۍ د ناخوالو ریښه او پیل دافغانستان د دښمنانو (خلقیانو اوپرچمیانو) همدا کرغېړنه کودتا وه چې ناخوالې یې تر ننه هم تمامون نه لري.

که څه هم د غرب اشغال اوږد شو او حالات داسې شول چې اوس دهماغو مجاهدینو اولادونه په شعوري یا غیر شعوري ډول دخلقي او پرچمي څېرو درناوی اوتائید کوي چې دوی یې په وړاندې وسله وال جهاد کاوه، خو سره له دې هم تاریخ مسخ نه دی دافغاني کمونستانو افغان ضد اواسلام ضد کړنې یې یوه یوه ثبت دي، هغوی چې په پردیو غوړو څومره مست او کوم کبر اخیستی و اوس یې تعبیر هم په اسانه سره نه شي کېدای.

قدرت ته په رسېدو یې له ټولو لحاظونو سترګې پټې کړې او له ټول ولس سره په دې لاس وګرېوان شول چې د دوی دنظریې مخالف وو له ۱۳۵۷ل کال نه تر ۱۳۷۱ل کال پورې په خپل شقاوت اودشوروي لښکرو په مټ ورسره وجنګېدل پنځلس لکه یې شهیدان شپاړس لکه یې ټپیان او معیوب کړل اوپنځه ملیونه یې ګاونډیو هیوادو ته په مهاجرت اړ ایستل، دځرخي پله او پلیګون زړه بوږنوونکې تراژیدۍ یې زموږ دتاریخ یوه نه هېرېدونکې برخه ده.

کله کله ځیني خلک د داخلي کمونستانو په طرف اوتائید کې یوه نیمه خبر کوي او ناسمو کړنو ته یې توجیه لټوي، په داسې حال چې هغوی تر ډېره عملاً دنظریې اوفکر خلک نه دي پاته شوي، بلکې قدرت اومادیات یې اصلي موخه وه یا په بل عبارت پردې نظریه یې هم دمادي ګټو لپاره خپله کړې او ترسره کړي ټول جنایات یې دهمدې غرض لپاره وو، او هغه شعارونه چې دوی ورکول ژمن ورته پاته نه شول، له امپریالیزم سره هغه کرکه چې دوی ښکاره کوله هیڅکله رښتیا نه وه، بلکې دغرب د اشغال په دوره کې دامپریالیزم په خدمت کې تر نورو دوی ډېر وفاداره ثابت شول اویا داده چې یو څوک خپل ضمیر یو وار غلام کړي بیا بیا هم دنورو غلام کېدای شي.

د شوروي یرغل او کورنیو خلقي او پرچمي کمونستانو په وړاندې دافغان مجاهد ولس مقومت، سرښندنې اوقرباني زموږ د دغه تاریخ یوبل زرین باب دی چې خپله عقیده، خپلواکي او دهیواد استقلال یې له شک پرته چې پرې وګټل دا هغه ویاړ او افتخار دی چې نن ځیني افغاني کمونستان هم پرې اعتراف کوي، د دومره سترو قربانیو په مټ د پورته هدف لپاره د ثور اتمه همدومره ویاړمنه اوله افتخاره ډکه ورځ ده.

دا بېله خبر ده چې دمجاهدینو مشرانو ونه کړای شول چې دشورویانو او افغاني کمونستان په لاس شړېدلې یې راجوړه نه کړه او نوره هم ترې وشړېده، خو په ټوله کې د ۱۳۷۱ل کال دثور اتمه داسلامي انقلاب دبري ورځ ده په ویاړ او افتخار باید ولمانځل شي.

* * *

د (ثالث عمر) کتاب لیکوال

قاري عبدالستار سعید شهامت سره په مرکه کې:

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د دې عصر یو له تأثیر ګذارو او مهمو شخصیتونو څخه و، چې وروسته له ډېرو کلونو یې د یوه واقعي اسلامي حاکمیت بنسټ کېښود، شرعي قانون یې نافذ کړ او د اسلامي واکمنۍ، دیني اخوت، شریعت او قرآني عدالت مفاهیم یې راژوندي کړل.



شهامت وياړي چې دا ځل يې د ثالث عمر ارزښتمن، تاريخي او مستند کتاب له فاضل ليکوال او عالم محترم قاري عبدالستار سعيد صاحب سره ځانګړې مرکه کړې چې دلته يې کټ مټ خپروو. (اداره)

شهامت:

له هر څه مخکې مهرباني وکړئ، تاسو خپله پېژندګلوي هغسې چې تاسو يې مناسب بولئ زموږ له لوستونکو سره يې پخپله وکړئ!

قاري سعيد:

نحمده و نصلي علي رسوله الکريم. و بعد: له هر څه وړاندې تاسو او د شهامت مجلې درنو کارکوونکو او لوستونکو ته سلام او احترام تقديموم. په دې هيله چې له کامل صحت او عافيت څخه به برخمن ياست. د خپل تعارف په اړه به ووايم. چې نوم مې عبدالستار، د پلار نوم مې حاجي سعيد جان د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ د مموزو د سيمې اوسيدونکی يم، له اوس نه شاوخوا ۳۷ کاله مخکې هغه وخت چې کورنۍ مو له شوروي يرغل څخه په هجرت مجبوره شوې وه، د شمالي وزيرستان د رزمک سيمې د مهاجرينو په کمپ کې زېږېدلی يم. د ښوونځي زده کړې مې د هجرت په کمپ کې او بيا وطن ته له ستنيدو وروسته تر څلورم ټولګي پورې کړې دي. وروسته مې د قران کريم حفظ وکړ او ورپسې مې ديني کتابونه ولوستل، په ۲۰۱۰ م کال کې له ديني علومو فارغ شوم. له ۲۰۰۵ م کال راهيسې د امريکايي يرغل خلاف د جهادي مبارزې برخوال يم، په پيل کې مې په خپله سيمه کې له نظامي مجاهدينو سره ملګرتيا درلوده، ورپسې مې دوه کاله د مجاهدينو د يوې ايف ايم راډيو د چلولو مسؤليت درلود، په ۲۰۰۹م کال کې مې د اسلامي امارت په فرهنګي کميسيون کې کار پيل کړ چې تر اوسه په همدې خدمت بوخت يم او د فرهنګي کميسيون د تاريخ ليکنې د څانګې مسؤل يم. له کتاب او قلم سره مې له ماشومتوبه فطري علاقه وه، له پنځلس کلنۍ راهيسې شعرونه ليکم چې ډېر يې د ترانه خوانانو لخوا ويل شوي دي. فرهنګي کميسيون ته له راتګ وروسته مې ډېر تعلق له نثر سره دی او په بېلابېلو سياسي موضوعاتو ليکنې کوم.

شهامت:

د داسې يو کتاب د ليکلو ايډيا مو له کله څخه وه؟

قاري سعيد

له ډېر پخوا مې له غير نصابي کتابونو او آزادې مطالعې سره علاقه وه، بېلابېل ادبي، علمي او تاريخي کتابونه مې اخيستل او مطالعه کول. د افغانستان د تاريخ په کتابونو کې

دې تکي ته متوجه شوم چې زياتره د داسې چا له خوا ليکل شوي چې ديني فکر ته ژمنتيا نه لري. له همدې امله خو له ديني قشر په خاص ډول علماء کرامو او روحانيونو سره په کې تبعيضي چلند شوی دی. له ډېر پخوا مې ارمان و چې کاش د افغانستان معاصر تاريخ په سوچه ديني روحيه وليکل شي او د افغانستان د مذهبي قشر تاريخي کارنامې رابرسيره شي. له اوس نه شاوخوا شل کاله پخوا مې يو عنوان تاکلی و (د لارې مشالونه) او ترې لاندې مې د دې وخت د مشهورو او مبارزو علماء کرامو نومونه ليکلي وو، چې که الله تعالی توان راکړ، سوانح به يې راغونډوم. مطلب دا چې په عموم کې له دې موضوع سره مې له ډېر پخوا علاقه او مينه وه. خو دا فکر مې کله هم نه و کړی چې يو وخت به د عصر د ستر مجاهد او مبارز امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د تاريخ ليکلو مسؤليت را سپارل کيږي. هغه متل دی وايي (چې يې غواړې نو يې واوړې) زما د جهادي اتلانو له تاريخ ليکلو سره له پخوا مينه وه چې خو کاله پخوا د همدې درانه کار مسؤليت راوسپارل شو.

شهامت:

د کتاب ليکلو لپاره مو د مرحوم امير المؤمنين (ملامحمد عمر مجاهد) شخصيت ولې غوره کړ؟

قاري سعيد:

امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د دې عصر يو له تأثير ګذارو او مهمو شخصيتونو څخه و، چې وروسته له ډېرو کلونو يې د يوه واقعي اسلامي حاکميت بنسټ کېښود، شرعي قانون يې نافذ کړ او د اسلامي واکمنۍ، ديني اخوت، شريعت او قرآني عدالت مفاهيم يې راژوندي کړل. د نوموړي شخصيت په دې ارزيده او حق يې و چې بايد تاريخ يې وليکل شي. له اوس نه څو کاله وړاندې د ۱۳۹۵ لمريز کال د قوس په مياشت کې د مرحوم ملا صاحب د کورنۍ لخوا يو مجلس دائر شو، چې په کې د اسلامي امارت ارونډ ليکوال ملګري راټول شوي وو. په دې مجلس کې په دې خبره بحث وشو چې د مرحوم امير المؤمنين تاريخ بايد وليکل شي. د معلوماتو د راغونډولو لپاره يوه کميټه تعين شوه او وروسته د کتاب ليکلو مسؤليت زما په اوږو واچول شو.

شهامت:

د کتاب ليکلو په دوران کې يا د معلوماتو او موادو د موندلو په مهال کومه مرحله درته په زړه پورې وه او کومه يوه درته ځورونکې وه کولی شئ له دواړو څخه لوستونکي خبر کړئ؟

قاري سعيد: د مرحوم اميرالمؤمنين رحمه الله په اړه د کتاب ليکلو په جريان کې د نوموړي د ژوند تقريبا هر اړخ راته نوی او جذاب و. دا چې مرحوم ملا صاحب په ماشومتوب کې خپل پلار، ورور او دوې ماشومې خويندې له لاسه ورکوې او له کورنۍ څخه يوازې همدی او مور يې تنها پاته کيږي. خو وروسته همدغه يتيم ماشوم د روزګان په دهراود کې په غښتلي او نوموتي مجاهد بدليږي. د شورويانو خلاف جهاد کې د پام وړ کردار اداء کوي او په لوی کندهار کې يې د زړورتيا، متانت او جنګي مهارت آوازه خپريږي. وروسته نوموړی د فساد په وړاندې قيام پيلوي، د افغانستان د اسلامي امارت بنسټ ږدي، يوه سوچه اسلامي نظام جوړوي او له ټولې کفري نړۍ سره په مواجهه کې راځي، د نړيوال طاغوت بيلابيل فشارونه، تبليغاتي جنګ، اقتصادي بنديزونه، ګواښونه او بالاخره مخامخ پوځي يرغل يې په عزم او اراده کې لږ تغير هم نه راولي، دا ټول واقعا جذاب او هيښوونکی داستان دی. دغه راز د زابل ولايت د سيوري ولسوالۍ په عمرزو کلي کې له هغه کور څخه ليدنه چې ملا صاحب د ژوند وروستي اووه کاله په کې تېر کړي او همالته وفات شوی، هم راته ډېر جالب و.

بالمقابل کله مو چې د ملا صاحب واقعي خصوصيات، لکه صداقت، تقوی، ديانت، له خپل دين، ولس او هيواد سره مينه او وفا، ترحم، ميړانه او غيرت ليدل او بل خوا مو د ملا صاحب په اړه د اسلام د دښمنانو غلط تبليغات او د ځينو خلکو ناسم پوهاوی ليد، نو ځورونکی احساس يې زيږاوه. کاشکي د دې عصر خلکو ملا صاحب په کماحقه شکل پيژندلی وای او په دې پوه شوي وای چې په هغه رحمه الله

کې د مسلماني، افغانيت او رجوليت کوائف او صفات څومره پوره وو.

شهامت:

کتاب ته د «ثالث عمر» نوم اېښودو څخه مو پیغام څه دی؟ او که دا هم وواياست چې هغه کوم موارد يا مواصفات دي چې د لومړي عمر (امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق) د دویم عمر (امیر المؤمنین عمربن عبد العزیز) او د دریم عمر (امیر المؤمنین ملا محمد مجاهد) ترمنځ تاته سا به الاشتراک برېښیدلي دي؟

قاري سعيد:

دا ډېر مهم سوال دی، شاید په سطحي نظر سره دغه تسمیه یا نومونه ځینو ته اغراق آمیزه ښکاره شي. اما د تاریخي قضاوت یو اصل دا دی چې هر څوک د خپل وخت د حاکمو شرائطو او ظروفو په معیار تلل کیږي. که موږ اسلامي تاریخ دقیق مطالعه کړو له راشده خلافت او د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله له دور نه علاوه ډېر کم داسې حکومتونه وینو چې په شرعي منهج دې بشپړ برابر وي. داسې حکومت چې د میراثي ملوکیت له اغیزو خلاص وي، د عیاشیو دربار، د موسیقی، رقص، باده نوشي او نورو شاهانه هوسونو داغ دې ونه لري. داسې حکومت چې شرعي حدود يې بشپړ نافذ کړي وي، قضا، معارف، اقتصاد، فرهنګ او ټولې چارې يې په شرعي منهج برابرې وي. خصوصا په وروستیو پېړیو کې چې د دین په ځای ملت او جغرافیه د انسانانو د هویت شاخص وګڼل شو، دین حتی په اسلامي هیوادونو کې هم له سیاست څخه بیل کړای شو. د اسلامي نړۍ اوسني حکومتونه یوازې په دې ځان اسلامي بولي چې یا یې په نوم کې اسلامي قید راغلی او یا هم سهار د راډیو خپرونې د قرآن کریم په تلاوت پیلوي. نور يې قوانین، اقتصاد، فرهنګ، تعلیم او هر څه په غربي غیر اسلامي اساساتو ولاړ دي.

په دغسې حالت کې چې نړۍ یو قطبي شوې وه، غربي فیلسوفانو د تاریخ پای اعلان کړی و او د غرب لیبرال دموکراتیک نظام يې د بشر لپاره تلپاتې حکومتي نسخه ګڼله، بل خوا امریکایي ولسمشر د نوي نړیوال نظام اعلان کړی و چې امریکایي ارزښتونه په خاص ډول غربي دیموکراسي په کې تر ټولو مهم اصل او ارزښت ګڼل کیده. له دې علاوه فساد، انحراف، له دین څخه سرکشي او بیلابیلې فتنې په اوج کې وې او د ځمکې مخ فساد لاندې کړی و، په دغسې یو ارخیزو او پیچلو شرائطو کې د بشپړ اسلامي نظام حاکمول، د شریعت بشپړ تطبیق، سیاسي زعامت مؤمن او صالح قشر ته سپارل، د قضائي نظام بشپړ اسلامي کول او اسلامي عدالت تأمینول، د شرعي حدودو او قصاص اجراء کول، د امر بالمعروف و نهی عن المنکر عملي اجراء، د غلا، قتل، قطاع الطریقي، ګډوډۍ او ظلم له منځه وړل، د سینما، فحش فلمونو، سازو سرود او نورو فحشاوو له منځه وړل، د سود، احتکار، ناروا معاملاتو، نقدي جریمو او نورو مالي انحرافاتو ختمول، د اداري فساد، رشوت، غصب، اختلاس او له بیت المال څخه د ناروا استفادې د کلتور له منځه وړل، د چارواکو او حاکمانو د امتیازي مرفه ژوند، فضول خرڅې او تشریفاتي القابو کلتور له منځه وړل، په حکومتي او تعلیمي ادارو، کارځایونو او د اجتماعي ژوند په نورو ډګرونو کې د ښځو او نارینه وو تر منځ ناروا اختلاط له منځه وړل، د شرعي حجاب ترویج او تطبیق، د نوروز په شان د جاهلي رواجونو او ډول ډول خرافاتو او بدعتونو ختمول، د چرسو، بنګو، کوکنارو او نورو مخدراتو ختمول، د اسلامي قیافې، ږیرې، دستار او محلي لباس ترویج، د ښځو د اسلامي حقوقو د اعادې کوښښ، په میراث کې د برخه ورکولو او په بدۍ کې د نه ورکولو لپاره يې اجراآت، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له مسلمانانو سره خواخوږي او د ملت او جغرافیې په ځای دین د خپلولۍ او اخوت معیار بلل. د نړۍ مستضعفو مسلمانانو ته د ترحم غیږه خلاصول او په لوړ عزم د کفري نړۍ مقابله کول. دا ټولې د ملا محمد عمر مجاهد هغه تجدیدي کارنامې وې چې نړۍ ته يې هیر شوی اسلام ور په زړه کړ او مسلمانانو ته يې یوه نوې روحیه ورکړه. د اوسنۍ نړۍ خاصو شرائطو ته په پام سره د ملا صاحب سیاسي او جهادي کارنامه واقعا دومره ستره ده لکه حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله چې کلونه وروسته یو ځل بیا ملوکیت ځپلې اموي دولت د خلافت په منهج برابر او د اسلامي حاکمیت واقعي بیلګه یې

راژوندی کړه. د ملا صاحب لوړ یاد شوي خصوصیات او کارنامې، خصوصا د شریعت او عدالت په اجراء کې د هغه قاطعیت هغه څه دي چې نوموړی د پخوانیو عمرینو (رضی الله عنهم) په ردیف کې راولي. نوځکه ویلای شو چې دغه تسیمه مبالغه آمیزه نه بلکې په واقعیت استواره ده.

شهامت:

که یو څه د کتاب د محتوا په اړه معلومات راکړئ، څو فصلونه او څو مخونه یې دي؟

قاري سعید:

د (ثالث عمر) په نوم دا کتاب چې په۵۱۸ مخه لري. چې په مقدمه، اتو فصلونو او څو ضمیمو مشتمل دی. د فصلونو عنوانونه یې په لاندې ډول دي.

مقدمه: له عمره تر عمره، لنډ تاریخي سرګذشت

لومړی فصل: له زیږېدو تر ځوانۍ

دوهم فصل: د کمونیزم پر خلاف جهاد

دریم فصل: د طالبانو د اسلامي تحریک بنسټ ایښودل

څلورم فصل: د افغانستان اسلامي امارت

پنځم فصل: د امارت مقام او د امیر المؤمنین روزمره فعالیت

شپږم فصل: په افغانستان د امریکا یوځي یرغل

اووم فصل: د صلیبي یرغل په مقابل کې د جهاد تداوم

اتم فصل: تأثرات او خاطرې

او د کتاب د وروستۍ برخې په ضمیمو کې د ملا محمد عمر مجاهد ځینې مهمې وېناوې، مستند پیغامونه او مرکې راغلې دي.

شهامت: دکتاب په اړه له علمي اخذ لیکونو او مراجعو څخه هم استفاده کړې ده؟

قاري سعید:

بلې، په کتاب کې ځای په ځای علمي بحثونه هم شوي دي. مثلا د طالبانو د قیام شرعي حیثیت او لومړنۍ فتوی، دغه راز هغه شرعي کارونه چې له امله یې ځینې ناخبره مسلمانان په امارت انتقاد کوي، لکه د شرعي حدودو اجراء، امر بالمعروف و نهی عن المنکر، د بتانو ماتول، د شرعي حجاب ترویج او دغسې نور موضوعات په دلائلو ثابت شوي دي چې دغه کړنې د طالبانو اختراع نه بلکې ثابت دیني اصول دي چې اسلامي شریعت یې موږ ته ښودنه کوي او ملا صاحب یې د یوه مسلمان حاکم په حیث په اجراء باندې مکلف و.

شهامت:

د مرحوم امیر المؤمنین د ژوند په اړه مو دومره مستند معلومات څنګه او له چا څخه ترلاسه کړل؟

قاري سعید:

د کتاب لپاره موږ له شاوخوا پنځوس تنو هغو اشخاصو سره مخامخ مرکې وکړې چې د ژوند په یوه مرحله کې یې له ملا صاحب سره رابطه درلوده. مثلا د ملا صاحب له والدې شریفې مو د هغه د کوچنیوالي په اړه معلومات ترلاسه کړل، وروسته د ملا صاحب له تره او نورو قریبانو مو د هغه د هغه کشرتوب او زده کړو د دوران معلومات واخیستل. د روزګان ملا میر حمزه هغه څوک دی چې ملا صاحب یې تر مشرۍ لاندې اول جهاد پیل کړی دی، له هغه سره مو مصاحبه درلوده، وروسته ملا صاحب کندهار ته راغلی، الحاج ملا برادر آخند، ملا عبدالرحمن، ملا یارانه او څو نور کسان یې په کندهار کې جهادي ملګري پاته شوي دي. له دوی ټولو سره مخامخ مرکې وشوې، وروسته په تنظیمي دور کې چې ملا صاحب مدرسه جوړه کړه د همدې مدرسې له استادانو لکه مولوي عبدالرحمن او مولوي عبدالحبیب صاحب څخه معلومات وشول. د تحریک د پیل په اړه د ده له نږدې ملګرو له ملا برادر آخند، ملا ګل اغا اخند او نورو څخه معلومات وشول، وروسته د اسلامي امارت له بیلابیلو چارواکو خصوصا د ملا صاحب د دفتر له کارمندانو لکه ملا عبدالسلام کاتب صاحب، جهانګیروال صاحب او نورو سره مرکې وشوې. د اسلامي امارت د کابینې له اکثره غړو او مطرحو نظامي مشرانو سره هم مرکې وشوې او د ملا صاحب په اړه خاطرې او معلومات ترې واخیستل شول. د وروستیو کلونو د

معلوماتو په اړه د ملا صاحب له استازي ملا عزیز الله او کورنو ملګرو له ملا عبدالجبار عمري او حاجي عبدالاحد صاحب سره مرکې وشوې، دغه راز د ملا صاحب له ورور ملا عبدالمنان عمري صاحب او مشر زوی مولوي محمد یعقوب صاحب سره هم مرکې وشوې او معلومات ترې واخیستل شول. مطلب دا چې نهایي هڅه شوې چې لومړی لاس مواد له معلوماتي منابعو څخه ترلاسه شي.

شهامت:

په کتاب کې د مرحوم امیر المؤمنین د ژوند او تاریخ سربیره د اسلامي امارت د نورو کومو مشهورو اشخاصو یا مشرانو نومونه ډیر یاد شوي دي؟

قاري سعید:

په کتاب کې د اسلامي امارت د ځینو نورو مشرانو لکه رئیس الوزراء مرحوم ملا محمد رباني، د کابل فاتح ملا بور جان آخند، امیر المؤمنین شهید ملا اختر محمد منصور صاحب، شهید ملا عبیدالله اخند، مولوي احسان الله احسان، ملا محمد آخند او ځینو نورو ملکي او نظامي مسؤلینو او مشرانو لنډ سوانح هم په لمن لیکونو کې په خپل ځای ذکر شوي دي. دغه راز تقریبا د هغو تولو مطرحو شخصیتونو لکه د کابینې د غړو او وتلیو نظامي مشرانو یادونه په کې شوې چې په اسلامي امارت کې یې کلیدي رول درلود.

شهامت:

محترم قاري صیب ایا په دې کتاب کې د اسلامي امارت د پنځه کلنې دورې د مهمو پیښو په اړه هم پکې سپیناوی شوی دی که شوی نو هغه کومې پیښې دي؟

قاري سعید:

بلې، دا چې دا کتاب د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد کارنامو ته ځانګړی شوی او د ملا صاحب تر تولو ستره کارنامه د اسلامي امارت قیام و، نو په کتاب کې د اسلامي امارت په لاسته راوړنو او کارنامو هم تفصیلي بحث شوی دی. دغه راز ځینې موضوعات چې د دښمنانو لخوا وربانديې ډیره ژبه تکیږي لکه د پاکستان سره د وابستګۍ اتهام، د نصیر الله بابر د کاروان موضوع، د سخت دریځۍ اتهام، د قومي او سمتي تعصب اتهام، د بتانو د ماتولو موضوع، د ښځو د حقوقو موضوع، د بهرنیو مهاجرینو او شیخ اسامه موضوع، د شمال د غمیزو او عاموژنو خبره او دغسې نور موضوعات هم د حقائقو په رڼا کې څیړل شوي دي او قانع کوونکی بحث ورباندې شوی دی.

شهامت:

کتاب لیکلو څومره وخت یا زمانه په بر کې ونیوله؟

قاري سعید:

په (ثالث عمر) کتاب باندې څلور کاله وراندې کار پیل شوی و، لومړنی متن ډیر ژر پخوا لا تیار و، خو د معلوماتو بیا بیا اضافه کولو، توثیق او تدقیق یې ډیر وخت واخیست. په مابین کې ځینې پیښې هم وشوې، مثلا د ملا صاحب د وروستیو کلونو ملګری ملا عبدالجبار عمري صاحب بندي شو چې ډیر معلومات له هغه سره و، خو لله الحمد د هغه په راخلاصون سره د کتاب تر تولو مهمه برخه هم تکمیل شوه.

شهامت: د معلوماتو په موندلو کې مو له چا ډېر کومک او مرسته غوښته؟

قاري سعید:

د کتاب لپاره د معلوماتو په موندلو کې د مرحوم ملا صاحب کورنۍ په خاص ډول د ملا صاحب مشر زوی او د اسلامي امارت مرستیال مولوي محمد یعقوب صاحب او د ملا صاحب ورور ملا عبدالمنان عمري صاحب ډیره مرسته وکړه، د معلوماتو په چمتو کولو، د مصاحبو لپاره د خلکو په اماده کولو او بالاخره د کتاب په چاپ کې د دوی کردار تر تولو مهم و. الله تعالی دې اجرونه ورکړي. دغه راز د اسلامي امارت اکثره مشران او د مرحوم ملا صاحب نږدې ملګري چې د معلوماتو لپاره یې مرستې ته ارتیا وه، دوی په ډیر اخلاص مرکو ته اماده شول او خپل معلومات او تأثرات یې راسره شریک کړل.

شهامت: د معلوماتو راټولولو وروسته د کره والي معیارونه او اصول مو څه وو؟

قاري سعيد:

د معلوماتو د کره والي معيار دا و چې موږ هره پېښه د عيني شاهد په استناد نقل کوله، داسې پېښې مو قطعا په کتاب کې نه دي را اخيستي چې روايت کوونکی يې معلوم نه وي. ډېره ځله مو د څو کسانو مشترک مجلس جوړاوه او په ګډه مو ورسره مرکه کوله، ټولو به چې په مشترک ډول يوه پېښه تصديق کړه، هغه مو ليکله. که به په کومه پېښه کې شک و د هغې په اړه مستقله پوښتنه او تحقيق هم کېده، بله دا چې کتاب يو يا دوه ځله نه بلکې څو ځله له سره تر پايه وکتل شو، ملا صاحب ته تر ټولو د نږدې شخص ملا عبدالسلام کاتب صاحب په ګډون څو کسيزې کميټې يې دقيقه کتنه وکړه او د کومو پېښو په اړه چې شک موجود و هغه ترې حذف شوې.

شهامت:

په پای کې که د کتاب له منځه يوه داسې برخه يا جالبه پېښه راسره شريکه کړئ چې هغه تاسو ته هم نوې او جالبه وي.

قاري سعيد:

ما ته نوې خبره دا وه چې امريکايانو شل کاله پخوا چې کله په افغانستان باندې يرغل پيلاوه، تر ټولو ستر هدف يې خپله د ملا محمد عمر مجاهد له منځه وړل و، نو ځکه يې د يرغل په لومړۍ شپه درې ځله مسلسل په ملا صاحب بمبار وکړ خو الله تعالی محفوظ وساته. دا هغه واقعيت دی چې شايد ډېر خلک به ترې ناخبره پاته وي، په دې اړه د کتاب يوه برخه درسره شريکوم هيله ده چې لوستونکي يې راسره ولولي.

(د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر د مياشتې اوومه شپه وه، په کندهار کې هر څه عادي روان و، ملا صاحب هم په خپل روزانه ګشت و ګذار کې ډېر تغير نه و راوستی په خپل ميشت ځای (د امارت مقام) کې اوسيده. په دې شپو کې په کندهار کې د ماسختن د لمانځه جماعت عموما په اته نيمې بجې کېږي. د امارت د مقام په مسجد کې چې کله د ملا صاحب په امامت د ماخستن لمونځ ادا ء شو او لمونځ کوونکي بهر راووتل په همدې شيبه امريکايانو د کندهار په هوايي ډګر کې د پيچور په نوم د هوايي مدافع په دستګاه لومړنی بمبار وکړ.

ملا صاحب د امارت د مقام د مسجد تر مخ و چې د هوانوردۍ وزير ملا اختر محمد منصور د کندهار له هوايي ډګره د مخابرې له لارې حال ورکړ چې د امريکا بريدونه پيل شوي په لومړني بريد کې يې د مدافع هوايي تاسيسات وويشتل. د کندهار په هوايي ډګر لومړني بريد د چا ژوند وانخيست خو د مدافع هوايي د برخې ځينې کارکوونکي يې ټپيان کړل.

له لومړي بريد وروسته قوي احتمال موجود و چې دوهم بريد به شخصا په ملا محمد عمر مجاهد وي، د امارت د مقام له څنګ سره په غره کې تر دې وړاندې يوه سمڅه جوړه شوې وه چې په اضطراري حالاتو کې به د پناه اخيستلو لپاره ترې

استفاده کیږي. دغه مهال د ملا صاحب ملګرو ده ته مشوره ورکړه چې باید هماغې سمڅې ته ولاړ شي. ځینو وویل له ښار نه لرې دښت ته به ووځو تر څو د امریکایانو له تعقیب څخه ځان پناه کړو. خو ملا صاحب د دې مشورو د منلو پر ځای د ښار خواته د تګ اراده وکړه.

ملا صاحب چې خپل اهل اوعیال او د امنیت لپاره څو ملګري هم ورسره وو په دریو سراچو موټرو کې په همدې شیبه له خپل ځایه ووتل، دوی د کندهار ښار د والي کوټې ساحې ته لاړل چیرته چې د دوی پخوانی (منفجر شوی) کور و، دلته ملا صاحب او ملګري یې له موټرو ښکته شول، خو ورته معلومه شوه چې لا هم طیارې ګرځي. دوی همدلته و چې د امارت په مقام بمبار وشو او کروز توغندیو ورځیرمه پناه ځای بمبار کړ. دا بمبار د امریکایانو لومړنی بمبار و چې څو کسان یې شهیدان کړل. په دې برید کې یو کروز میزایل د سمڅې په خولې کې ولګید چې څلور کسان یې شهیدان کړل، په شهیدانو کې یو هم د ملا محمد عمر مجاهد تره ملا محمد حنفیا صاحب و، په دې برید کې دوه کسان ټپیان هم شول.

کله چې د امارت په مقام کروز میزایل لګیدل او بمبار کیده ملا صاحب لا وړاندې د کندهار ښار د والي کوټې په ساحه کې و، د بمبار رڼاګانې تر دوی پورې ورسیدلې، ملا صاحب فیصله وکړه چې له ښاره ووځي او پنځلس کیلومتره لویدیځ اړخ ته د سنګ حصار په ساحه کې د خپل یوه ملګري خالي سرای ته لاړ شي.

ملا صاحب له خپل اهل و عیال او محدود شمیر ملګرو سره په دریو موټرو کې د سنګ حصار په خوا روان شو. دوی په شپه کې هماغه خالي سرای ته ورسیدل. خپل ماشومان او زنانه یې کور ته دننه کړل.

د ملا صاحب له اندیوالانو څخه د هماغې شیبې یو عیني شاهد وایي موږ چې سنګ حصار ته تلو دري سراچه موټران راسره وو. تر مخ سپینه سراچه وه چې ملا صاحب خپله چلوله او خپل اهل و عیال یې ورسره و، وروسته توره سراچه او بیا بله سپینه سراچه وه. په سنګ حصار کې چې کله نیمه شپه دغه سرای ته ورسیدو، ملا صاحب د کور دروازه خلاصه کړه او سپینه سراچه یې له دروازې دننه کړه او ماشومان ترې ښکته شول، وروسته بله سراچه له دروازې بهر له کور سره جوخته ودریده او اخري سراچه وروسته تر شا ودریده.

ملا صاحب د دریمې سراچې ملګري بیرته ښار ته ولیږل، ترڅو له ښاره د اړتیا وړ توکي راوړي، د همدې ملګرو له جملې یو تن وایي چې کله موږ بیرته د ښار په خوا راتلو ملا صاحب د دروازې تر مخ ولاړه تور سراچه موټر کې ناست و، راډیو یې نیولې وه او خبرونه یې اوریدل، موږ ښار ته راغلو خو د ملا صاحب په خپل قول لږ شیبه وروسته ملا صاحب له دې تور سراچه موټر څخه راښکته شو او له دروازې سرای ته ننوت، په همدې وخت کې امریکایانو په یوه دقیق ګوزار سره همدا تور سراچه موټر په توغندي وویشت.

د سراچه موټر د ویشتل کیدو په وخت ملا صاحب د توغندي د لګیدو ځای ته تقریبا دوه نیم متره لنډ و، چې د ده او ویشتل شوي سراچه موټر تر منځ یوازې د سرای دروازه حائل و، ملا صاحب ته زیان ونه رسید خو یوازیني دوه ملګري یې چې د موټر په شاوخوا کې موجود وو ټپیان شول. د ملا صاحب مور چې دا مهال په کور کې دننه وه کله چې د بمبار غږ اوري په ډیره وارخطایي د دروازې په خوا منډه اخلي، خو ملا صاحب په داسې حال کې چې د دروازې دننه خواته ولاړ دی داد ورکوي چې زه ژوندی یم.

له دې برید وروسته د ملا صاحب په دې یقین پوخ شو چې امریکایانو یې ځای کشف کړی نو د دې لپاره چې دغه کور بمبار نه شي او کورنۍ ته یې زیان ونه رسیږي. خپل د کور زنانه او ماشومان یې په نیمه شپه له دې سرای نه پیاده وایستل او نږدې یوه مسجد ته یې ورسول. ملا صاحب اراده وکړه چې خپلو زخمي ملګرو ته ورشي. دا چې ماشوم اولادونه یې د بمبار له امله ډیر ویریدلي و مشر زوی یې محمد یعقوب چې دا وخت ۸ کلن ماشوم و ملا صاحب یې له لمنې ونیو او نه یې پریښود چې ترې لاړ شي او دوی یوازې پریږدي. خو ملا صاحب هغه له ځان څخه جلا کړ او د ټپیانو په خوا

روان شو. له خپل زوی، مور، میرمنو او ټولو اولادونو سره د ملا صاحب همدا د بمبار د شپې لیدل وروستي لیدل شول، کله چې ملا صاحب په همدې شپه له مسجد څخه ووت بیا یې هیڅکله خپل اولادونه ونه لیدل.

ملا صاحب د ټیپانو خواته راغی، یو ټیپي ملګری نسبتا روغ و، کوم یو چې ټپ یې خطرناک و په خپل روغ پاتـه موټر کې یې د ښار پر خوا له ځان سره واخیست. دغه وخت د ملا صاحب د کور میرمنې او ماشومان چې په مسجد کې پاتـه وو د ده د کورنۍ د نورو غړو لخوا پـه همـدې کـلي کـې د ملا صاحب د خسر کور ته انتقال شوه. مسجد څخه د دوی لـه وتلو شاوخوا نیم ساعت وروسته امریکـایي الوتکـو همدغـه مسجد داسې سخت بمبار کړ چې حتی نښې یې هم له منځه لاړې. دې مسلسلو بریدونو وښوده چې امریکایانو د ملا صاحب او د هغه د کورنۍ د له منځه وړلو ټینګه فیصله کړې وه خو دا د الله تعالی ځانګړی نصـرت او ساتنه وه چې دوی یې په معجزانه ډول د امریکا له بریدونو محفوظ وساتل.

ملا صاحب چې یو تن ساتونکی او یو زخمي ملګری په موټر کې ورسره و نیمه شپه د کندهار ښار پـه خـوا روان و، د اشغو په سیمه کـې د ده د امنیت مسؤل او ورسره ملګـری پـه مخه ورغلل، هغه ترې تیر شول خو ده په مخابره کې وربانـدې غږ وکړ او راوګرځیدل. ملا صاحب ورتـه مختصـرـ د بمبـار جریان بیان کړ، وروسته یې زخمي هغـو تـه پـه لاس ورکـړ او خپله له څلورتنه ملګرو سره په موټر کې د ښـار پـه خـوا روان شـو، ملګـرو یـې مشـوره وکـړه چـې یـوازې پـه یـوه طریقـه د امریکایي سپوږمکۍ له تعقیب څخه ځان خوندي کولای شو هغه دا چې چیرته د ګڼو ونو په پناه کې لـه موټر نـه ځـان بیـل کـړو، دوی ښار تـه پـه رسیدو د میرویس روغتون انګـړ تـه ورګرځیدل هلتـه یـې د ګڼـو ونـو لانـدې خپـل مـوټر ودراوه، شیبه وروسته په عادي ډول پیاده له روغتون بهر راووتل، تـر لـږ پیاده مزل وروسته د لارې په سر د خپل یو ملګري موټرپه مخه ورغی او په کې سپاره شول، شیبه وروسته یې د کنـدهار امنیـه قومندان حافظ عبدالمجید پیدا کړ او د هغه سره پـه مـوټر کـې سپاره شول، ترسهاره یې له ده سره یوځای پـه ښـار کـې ګرځـه وکـړه، سـهار د ښـکارپور بـازار سره نـږدې د طالبـانو امنیتـي ماموریت ته ورغی، له همدې وخت نه د ملا صاحب مخفـي ژوند پیل شو. په همدې ځای کې یې لـومړی د سهار لمـونځ اداء کړ او وروسته یې د امریکـا لـه لـومړني بریـد څخـه د بـچ کیدو او د خپل ژوند د اطمینان ورکولو پیغام ثبت کـړ تـر څـو طالبانو ته د مخابرې له لارې واورول شي. دغه راز د امریکایي یرغل د پیل په اړه لومړنی مطبوعاتي بیان هم ترتیب او د رسنیو له لارې نشر شو چې په یوه برخه کې یې راغلي وو.

(په داخل او خارج کې ټـول مسـلمانان بایـد پـه دې پـوه شي چې د جهاد په مقدسه لاره کې مرګ، مرګ نه دی. بلکې د یوه ابدي خوشاله ژوند پیل دی. مسلمانان باید په دې لاره کـې خسته نه شي. حوصله له لاسه ورنکړي. له صبر، استقامت او غیرت څخه کار واخلي. ځکه چې مسلمانان باید په دې عقیده ولـري چـې مـرګ یـو مـرګ دی او هیڅـوک لـه مـرګ نـه شي خلاصیدلی، نو د شهادت مرګ چې چا ته ورسیږي دا بایـد یـو ستر افتخار، کامیابي او د الله تعالی لوی نعمت وبولي.

د امریکا د جمهور رئیس بوش دا خبره حقیقت لري چې دا جګړه د مسلمانانو پر ضد صلیبي جګړه ده. نو باید د نړۍ په هر ګوټ کې مسلمانان د خپل دفـاع لپـاره اسـلامي او شرعـي فعالیت ته دوام ورکړي. جهاد که په توره وي، که په ژبـه او کـه په قلم اوس د نړۍ په ټولو مسلمانانو فرض دی.

بایـد دا مقدسـه فریضـه اداء کـړئ. زه امیـد لـرم چـې د افغانستان اسلامي امارت به د الله تعالی په نصرت او د نـړۍ د مظلومو او بادرده مسلمانانو په مرسته او دعاء د امریکا په ظالم او تیـري کـوونکي حکومـت بـری ترلاسـه کـوي) ثالـث عمـر کتاب ۲۵۷ ــ ۲۶۲ مخونه.

شهامت:

ډیره مننه محترم قاري صاحب دا چې د مرکـې لپـاره مـو وخت راکړ او د ثالث عمـر کتـاب پـه اړه مـو معلومـات راسره شریک کړل.

قاري سعید:

له تاسو هم ډیره مننه، الله تعالی مو موفق لره.

جنگ بیست ساله؛ هزینه‌های که سودی نداشت

با اعلان جو بایدن، رئیس جمهور امریکا، که حضور بیست ساله‌ی نظامی امریکا در افغانستان را تا ۱۱ ماه سپتمبر امسال بدون هیچگونه پیش شرطی پایان می‌بخشد؛ اکنون دستاوردها و هزینه‌های این جنگ درازمدت، موضوع محوری بحث‌ها در رسانه‌های خبری و اجتماعی قرار گرفته‌است. بلی، اکنون حرف از این گذشته است که برنده و بازنده این جنگ کیست و یا این جنگ چه دستاوردهای داشته و یا آیا دستاوردی هم داشته یا خیر؛ پرسش عمده‌ی که اکنون مطرح می‌شود اینست که آیا این جنگ، ارزش این همه هزینه‌های گزاف و دردناکی را، که یقینا سائر جهت ها، بلکه اغلبا مردم بی گناه افغانستان، متحمل شدند، داشت؟

نهادهای مختلف آمار و ارقام مختلفی را در مورد هزینه‌های سنگین جانی و مالی امریکا ارائه می‌کنند، اما آنچه همه بر آن متفق اند و یا نگرانی جدی دارند اینست که با این همه هزینه‌ها، اداره‌ای در افغانستان به وجود نیامده که دست‌کم برای چند ماه بتواند بدون کمک‌های امریکا وجود خود را حفظ کند. از همینست که حامیان داخلی و خارجی جمهوریت در افغانستان، از خروج بدون شرط امریکا به شدت نگران اند. از نگاه این دموکراتان؛ پیش از برآمدن امریکا، باید معامله‌ای صورت می‌گرفت که ضامن بقای جمهوریت در افغانستان می‌بود.

هرگاه به گفته‌های جیک سالیوان، مشاور امنیت ملی ایالات متحده امریکا گوش دهید می‌دانید که این نگرانی‌های دموکراتان بی‌موجب نیست. او به روز یکشنبه ۱۸ اپریل، در یک برنامه‌ی تلویزیون فوکس می‌گوید: «ما آن‌چه در توان داشتیم برای دولت و نیروهای افغان انجام دادیم، اما اینکه پس از خروج نظامیان آمریکایی از افغانستان چه اتفاقی رخ می‌دهد، هیچکسی مطمئن چیزی گفته نمی‌تواند و ما هیچ تضمینی در مورد آینده‌ی افغانستان داده نمی‌توانیم. البته، وقت آن رسیده است که نظامیان امریکایی به خانه‌های شان برگردند».

اما شاید این گفته‌های اضطراب آور سالیوان بسنده نبود، از همینست که جنرال کینت مکنزی، فرمانده مرکزی نیروهای امریکایی روز پنجشنبه ۲۲ اپریل به کانگرس امریکا می‌گوید: «با خروج کامل نیروهای امریکایی از افغانستان، نگران توانایی افغان‌ها است و اینکه آنان بدون همکاری و حمایت مالی ایالات متحده بتوانند طیاره‌های شان را حفظ کنند و به پرواز درآورند». او حتی می گوید: «نگران توانایی حکومت افغانستان برای حفاظت از سفارت آن کشور مقیم کابل نیز است».

پس فکر کنید که حامیان جمهوریت ساحتگی و به‌دور از حمایت مردمی، که به‌گفته‌ی خود دموکراتان؛ از برکت روش انحصارگرایانه اشرف غنی به جمهوریت سه نفره (غنی، محب و فضلی) تبدیل شده‌است، در چه شب‌وروزهای پر اضطرابی به سر می‌برد. تهدید مقامات رژیم از سوی اشرف غنی، که کسانی‌که در صف جمهوریت نیستند دشمن هستند و دیگر در دولت جای ندارند؛ نمونه بارز این آشفته‌حالی و سراسیمگی زمامداران جمهوریت دروغین و چند نفره است. امروز یقینا نظام ناکام و نام نهاد جمهوری در افغانستان در آستانه پراکندگی و فروپاشی قرار دادند.

امریکا در اکتوبر ۲۰۰۱ میلادی، با بهانه گرفتن شیخ اسامه و القاعده بر افغانستان یورش آورد، اما امروز که افغانستان را پس از رسوایی بسیار ترک می‌کند، این گروه پایگاه‌های قوی‌تری در کشورهای عربی دارد. این نشان می‌دهد که برخورد عجولانه‌ی امریکا در برابر افغانستان در قبال این گروه؛ خلاف واقعیت‌های زمینی بود. اگرچه امریکا به اساس پیمان

پایان اشغال؛ خوش است که افغانستان دیگر به مرکز گروه‌های مسلح خارجی تبدیل نمی‌شود، اما سوال اینست اکنون که این گروه‌ها در کشورهای خود مراکز مصون و ساحات وسیعی را در کنترل دارند، پس چرا باید به افغانستان بیایند؟!

جالب اینجاست که آنتونی بلینکن، وزیر امور خارجه امریکا در مصاحبه با تلویزیون ای‌بی‌سی - شب یکشنبه ۱۸ اپریل - ضمن اینکه می‌گوید اکنون در آجندای ملی ما مسائل مهم‌تر دیگری همچو روابط با چین، تغییرات اقلیمی و بحران کرونا جا گرفته و ما می‌خواهیم توانایی خود را بر این مسائل خرج کنیم، در قبال مسئله‌ی خروج از افغانستان می‌گوید: «حالا تهدید تروریسم از افغانستان به جاهای دیگری منتقل شده است».

گویا نتیجه‌ی هزینه‌های تریلیون دالری و تلاش‌های بیست ساله‌ی امریکا اینست که حالا گروه‌های مطلوب به این کشور، از افغانستان به‌جای دیگری کوچ کرده‌اند و ازآن جا به فعالیت شان دوام می‌دهند. این نشان می‌دهد که طولانی‌ترین و پرهزینه‌ترین جنگ تاریخ امریکا چقدر «پردستاورد» و بامعنی بوده‌است!

دلائل دیگری هم برای به هدر رفتن هزینه‌های امریکا و متحدان آن در افغانستان وجود دارد. آن‌ها آمده بودند تا گویا افغانستانِ دلخواه و رویایی بسازند، اما با پایان جنگ بیست ساله، نه تنها خود شان از این کشور رخت می بندند، بلکه باید آنعده افغان‌های را که با این‌ها در این دو دهه به عناوین مختلف و به خصوص در پایگاه‌های نظامی همکاری می‌کردند، هم با خود ببرند. این بدین معناست که با همه جستجو و تکاپوی غربی‌ها، باز هم افغانستان به خانه امن برای گماشتگان اشغال‌گران تبدیل نشده‌است و آنها ناگزیر شده‌اند تا با دار و دسته شان این کشور استعمارستیز را ترک کنند. چنانچه خانم آنه‌گرت کرامپ، وزیر دفاع کشور آلمان به یک رسانه آلمانی گفته‌است که ما مسئولیت داریم برای مصونیت جان افغان‌های که ما را در روزهای جنگ همکاری کردند و در برخی موارد حتی جان شان را برای ما در خطر انداختند تلاش بکنیم، ما آن‌ها را در آلمان پناه می‌دهیم. این در حالیست که ماموریت ارتش آلمان در جنگ بیست ساله‌ی افغانستان بیش از ۱۲ ملیارد دالر هزینه داشته و هم‌اکنون ۱۱ صد تن نظامیان آلمانی زیر چتر سازمان ناتو در افغانستان حضور دارند. کشور آلمان چندی پیش از تمدید دو ساله‌ی حضور نظامی خود در افغانسان خبر داده بود، اما با اعلان جو بایدن، وزارت دفاع آلمان نیز ضمن انصراف از از اراده خود، از «عقب‌نشینی منظم، هماهنگ و سنجیده» تا ۱۱ سپتمبر امسال خبر داد.

اکنون این سوال در رسانه‌های غربی و به‌اصطلاح آزاد و دموکرات، مطرح می‌شود اینست که با حضور بیست ساله‌ی نظامیِ ده‌ها کشور غربی و هزینه های تریلیون دالری؛ مگر چرا افغانستان و افغان‌ها روی صلح را ندیدند؟ مگر آیا خود این سوال بسیار عجیب نیست؟ آیا با آغاز جنگ دیگری، و آن‌هم جنگ استعماری و استثماری، و آن‌هم در گورستان اشغال‌گران، می‌توان امید صلح را داشت؟ اگر واقعا صلح مطلوب باشد، پس آیا همین خروج امریکا و ناتو، با درک اینکه معضل کنونی افغانستان هیچ نوع راه حل نظامی ندارد، بهترین و آسان‌ترین راهِ رسیدن به صلح نیست؟ پس چرا باید از همین پروسه حمایت نشود؟

اگر قرار باشد که جنگ تا زمان آمدن صلح دوام یابد، این به‌معنای اینست که صلح هرگز نمی‌آید. همین‌که جنگ بیست ساله، پرهزینه و بی فایده پایان می‌یابد، در حقیقت فرصت خوبی برای آمدن صلح در افغانستان است و باید به‌جای درنگ کردن روی آن، گام‌های بعدی و جدی‌تری برای بقیه مسائل به‌خصوص به‌میان آمدن نظام مستقل و همه‌شمول اسلامی در افغانستان، که نقطه وصل بین تمام ملت مسلمان این کشور است، برداشته‌شود.

از سوی دیگر، همین‌که امریکا و متحدان آن از هزینه‌های بی‌سودی در افغانستان نجات یابند و اضافه‌تر از این دچار هزینه نشوند، دستاورد بزرگی برای شان خواهد بود.

اما عجب اینست دموکراتان و سیکولارانی که بیست سال پیش از هجوم وحشیانه‌ی امریکا و ناتو با تمام وقاحت استقبال می‌کردند، امروز می‌پرسند آیا خروج امریکا و ناتو از افغانستان مسئولانه است؟ عجب است! وقتیکه امریکا و ناتو به خواست شما چند تن خودفروختگان و فراریان با تانک و توپ آمدند و افغانستان را اشغال کردند، آن مسئولانه بود، اما حالا که پس از دیدن شکست و از روی توافق با افغان‌ها پس می‌روند، این غیر مسئولانه است!



بایډن ښه پریکړه وکړه...!!

- لیکواله: واندا فلباب براون -- واشنګټن ډي سي
- ژباړه او لنډیز: موسی فرهاد

د بایډن دا پریکړه چې له افغانستانه تر راتلونکي سپتمبره ټول ځواکونه راوباسي؛ ډېره پرځای پریکړه ده.

دا ځکه چې په افغانستان کې د امریکا نوره پوځي ښکیلتیا له بیهودګي پرته بل څه نه وه.

البته دا په دې مانا نه ده چې د امریکا له راوتلو وروسته به هلته یو آیډیال حالت رامنځ ته شي، بلکي د ډېر یو خونړي حالت خطر په هرصورت موجود دی. اقتدار او سیاسي فضا ته د طالبانو بیرنۍ پرمختګ هم د جدي اندیښني وړ دی.

د داخلي جګړو او کشالو رامنځ ته کیدل یقیني بریښي، خو دا هغه څه دي چې امریکا یې پخپل پوځي حضور هم نور نشي سمبالولی.

د امریکا اساسي هدف د ترهګرۍ د خطر کمول و، چې هغه یوه لسیزه وړاندي د اسامه له وژلو سره پای ته ورسید.

القاعده کمزوري شوې، داعش موجود دی، خو داعش سره طالبانو سختي جګړې کړې، چې ښایی دا خطر هم نیشت وبلل شي.

د بایډن اداري دا درک کړې چې امریکا او متحدینو ته یې د ترهګرۍ خطر نور له افغانستانه ډېر کم دی.

اوس د نړۍ په نورو برخو کې لکه افریقا او منځني ختیځ کې د ترهګرۍ مخنیوي ته توجه پکار ده. مثلاً په صومالیه کې الشباب یو لوی خطر دی چې د پرمختګ په حال کې دی.

که څه هم طالبان به په کلي توګه له القاعده سره د اړیکو پریکولو لیوالتیا ونلري، مګر امیدواري سته چې د دوحې د تړون له مخي طالبان القاعده ته اجازه ورنکړي چې امریکا ته خطر متوجه کړي.

او امریکا باید په دې برخه کې په دوامداره ډول له دیپلوماسۍ، مشروطو مرستو، ننډبزونو، حتی کله ناکله له لري ساحله د بریدونو او نورو لارو چارو څخه ګټه پورته کړي.

امریکا ته اوس د افغانستان په پرتله، د چین، روس شمالي کوریا غوندي ستراتیژیک خطري مسایل په مخکې دي چې باید چاره یې وکړي.

او دا هغه وخت ممکن دی چې امریکا په افغانستان کې له پوځي ښکیلتیا څخه ځان څنګ ته کړي.

د افغانستان سخت ځمکني حقایق

امریکا په دې هدف کې ناکامه شوه چې په افغانستان کې طالبانو ته ماتي ورکړي، له دوو لسیزو سختو جګړو باوجود طالبان د پرمختګ په حال کې دي. نه یوازي پرمختګ، بلکي د آینده افغانستان په سیاسي میدان کې ترټولو ستر سیاسي او نظامي خواک ګڼل کیږي. او دا امکان هم ډېر کم دی چې د امریکا مزید پوځي حضور دې دا واقعیت بدل هم کړای شي.

او داسي هیڅ لاره هم نه ترسترګو کیږي چې په نتیجه کې د کولمبیا غوندي یوه معاهده ترسره شي، چې باغیان د حکومت برخه وګرځول شول.

تر اوسه د امریکا نظامي شتون د طالبانو په پوځي او سیاسي پرمختګ کې که څه هم خنډ اچولی خو مستقل مخنیوی یې نه دی کړی، حتی چې د امریکایي خواکونو شمېر تر یولک پورته وو؛ هم یې مخنیوی ونشوای کړای. اینده هم دا توقع نشي کیدای.

همچنان امریکا او متحدین یې په دې ونه توانیدل چې د افغانستان په حکومتي دستګاه کې په لوړه کچه د پراخ فساد مخنیوی وکړي، د حکومت لوړ پوړي خلک چې د حکومتولی

پرځای په فساد او په سیاسي اختلال کې لاس لري؛ د امریکا او نورو ډونرانو له موثرو تهدیدونو سره مخ نشول. همدا لامل دی چې د هغوی اداري فساد له قابو کولو ووتي.

بله مهمه خبره دا ده چې د امریکا پوځي حضور چې ترڅو پورې وي، د افغانستان حکومت دې ته هواداره کیږي نه، چې په ریښتیني توګه د سولې او واک ویشلو له لارې له طالبانو سره جوړجاړي ته ځان ورسوي.

برعکس د بهرنیو ځواکونو د وتلو ثابته نیټه بیا طالبانو ته دا انګیزه ورکوي چې پر مذاکره اوسوله باور کم کړي. او واک ته د رسیدو امیدونه یې زیات شي.

د ځواکونو د ایستلو وخت دی کنه؟

ځیني په دې فکر دي چې د بهرنیانو د وتلو لپاره شرایط برابر نه دي، بایډن په دې باور دی چې له ۲۰۱۴م کال راهیسې خو همدا د شرایطو په تمه وخت تیر سو، د ده په باور، آخر ترکله به یې ځواکونه هلته میشت وي او دوی به د شرایطو برابریدو په انتظار وي؟

ناټو او پاکستان

د امریکا له دې ورستي پریکړې به یو شمېر اروپايي متحدین ارومرو د ناراحتي احساس کوي، ځکه دوی د لوژستیک، استخباراتي وسایلو، مالوماتو، او نورو برخو کې اوس هم تول انحصار پر امریکا کوي، او امریکا له کلونو راهیسې خپلو متحدینو ته زاری کولې چې افغانستان ته مو د ځواکونو لیږل زیات کړئ، او هلته په بیسونو کې د میشتیدني پرځای د جګړې میدان ته راووځئ، خو دوی دا کار ونکړ حتی د آیساف تر میشن لاندې یې له جګړې پرته، په نورو برخو کې هم د پام وړبرخه وانخیسته، امریکايي عسکرو به په طنزیه انداز ویل: ISAF (آیساف) مانا "I Saw America Fight" ما امریکا په جګړه کې ښکېله ولیده.

دا چې له افغانستانه په وتلو کې د امریکا احتیاج رفع کیږي، طبعاً به یې د ناټو په اړه پالیسۍ تغیر کوي؛ چې دا د اروپایي متحدینو د ناراحتی سبب کیږي.

دا راز پاکستان چې د امریکا او ناټو لپاره د هوايي او زمیني رسد له امله یې د امریکا پالیسۍ یرغمل کړې، او ځان ورته مجبور احساسوي؛ له افغانستان څخه د ځواکونو د ایستلو وروسته ښايي امریکا بیرته د پاکستان په اړه خپله پالیسۍ له سره و ارزوي، د زروي ټیکنالوجی، پوځي او ملکي سیاست، ډیمکراسي او بیان آزادۍ په برخه کې خپل خدشات را برسیره کړي.

راتلونکي ته اندیښنه

لکه مخکي مو چې وویل، افغانستان کې سیاسي حالات بهتر نه دي، طالبان د واک نیولو پر خوا ور نږدې کیدونکي دي، اندیښنې دا دي چې د ښځو حقوق، بشري حقوق، د وګړو آزادي، د اکثریت پر رایه باور او داسي نور ارزښتونه به کمزوري شي.

طالبان پر ټولټاکنو باور نلري، هغوی چې څه غواړي د یوې اسلامي شورا له لارې د نظام چلول چې د ایران په څیر یو ماډل به رامنځ ته کوي.

طالبانو خپل جنګیالي د اقتدار د نیولو لپاره تیار کړي، چې د امریکا او ناټو د ځواکونو له شتون پرته به افغان ځواکونه د هغوی د مخنیوي توان ونلري.

د جمهوري او بشري ارزښتونو دا کمزوري به رښتیا ډېره اذیت ناکه وي، خو د امریکايي ځواکونو له موجودیت نه هم توقع نه وه چې دا حالت دې د بهترۍ خوا ته یوسي.

د بایډن د اعلان نیمګړتیا

د استانبول د کنفرانس په شپو ورځو کې د امریکايي ځواکونو د اخراج اعلان به هغه دیپلوماتیکي هڅې نوري هم کمزوري کړي چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د جوړجاړي لپاره امریکا او نړیوالي ټولني رواني کړې وې؛

که څه هم طالبانو اعلان کړی و چې ترڅو ټول بهرنیان وتلي نه وي، تر هغو به سیاسي غونډو کې ګډون نه کوي.

مګر امریکا ته بیا هم پکار ده چې دیپلوماتیکي هڅې جاري وساتي، کنه د اشرفغني حکومت به نور هم د انزوا او کمزوري طرف ته ولاړ سي.

امریکا او نړیواله ټولنه ټولای شي، پر طالبانو له نورو لارو فشارونه زیات کړي، ترڅو یو جوړجاړي ته غاړې کښیږدي، لکه د سفرونو بندیز، بین المللي مرستې مشروط کول، ځینو افغان ملاتړو ته د امریکایي ویزو آسانتیا، افغان ځواکونو ته اکمالات رسول، استخباراتي ښکیلتیا او داسي نوري لاري چارې دي چې امریکا یې د ابزارو په توګه کارولای شي.

پای.........!!

د حق وینا

صادق عقلباز

ستا درته به ژاړو ستا کرم غواړو
خدایه د زخمي زړونو ملهم غواړو

څو به د غمو سیلاب اخستي یو
نور د ساحل غاړې ته قدم غواړو

لطف په مونږ ولې د چا نه راځي
یو ځل دا تا سمه درنه سم غواړو

څوک چې اراده د عداوت لري
ستا په اسماني پوځ یې برهم غواړو

تږي بوراګان چې پرې سېراب شي تول
بیا د ګل په پاڼو کې شبنم غواړو

تل د حق وینا لیکه صادق جانه!
ډک دې له اثره دروند قلم غواړو

ملا عمر مجاهد رحمه الله ته

اهداء

ذهین افغان

تا په وحدت باندې راټول کړل طالبان عمره
خلاص دې له ظلم او وحشت کړل افغانان عمره

ته د انصاف او خیرخواهۍ د صدقت عامل وې
ته د اخلاقو نمونه وې قدردان عمره

د ستا په شتون به زمونږ زړونو ته سکون راتللو
په تا ودان وو دا زخمي افغانستان عمره

تا راژوندي کړل و تاریخ د ابراهیم عمره
توټه توټه دې کړل دروغو خدایان عمره

ستا جهادي آذان تر هورې جزیرو ورسید
خکه بیعت ته دې راټول شول عربان عمره

دغیرت ډک تاریخ دې پرېښود په تا ویاړو مشره
ذهین به لیکي ستا د ننګه ډک دستان عمره

قلم او توره

عقابي جانان

مونږ د قلم په مټ جهاد زده کړی
له کتابو مو استشهاد زده کړی

قلم او توره مونږ بیل کړي ندي
مونږ تري سپېڅلی اتحاد زده کړی

کړو مونږ د علم په رڼا کې مزل
له پاک قرآن نه مو اعداد زده کړی

مونږ د هیچا غلامي نده کړي
د دین هر حکم مو آزاد زده کړی

څوک چې قلم مني ټوپک نه مني
هغوی څه نوی شان الحاد زده کړی

" عقابي " مونږ په ټوپک امن غواړو
دوی په قلم باندې فساد زده کړی

ما درته ویلي وو چې کډه رقیبان به شي

شاعر: عبدالباري جهاني

ما درته ویلي وو چې کډه رقیبان به شي
خپل به مو وطن وي او خپلواک افغانستان به شي

چاچې نه منلې د خیبر او د میوند کیسې
نن به له دې خاوري مات هډونه څي روان به شي

رابه سي موسی د کوه طور له معجزو سره
نیل به توپاني شي ډوب د مصر فرعونان به شي

وا به چوي دار او زلزلي په پالنګونو کې
باد به شي، باران به شي، ژلۍ به شي، توپان به شي

ختمې به تیارې له کندهاره تر اټکه شي
بخت به مو راویښ شي را پخلا بوډۍ اسمان به شي

نن دې د ازل کاتب تاریخ له سره ولیکي
مېنه د میرویس به شي دوران د اکبرخان به شي

بیا به د ګودر له مازیګره وطن ښکلی شي
ټیک به شي، امېل به شي، پایل به شي، پېزوان به شي

نن که پسرلي که اخترونه راځي رادي شي
رنګې هدیرې به شي دا وران کلي ودان به شي

ما « د پردي کټ تر نیمو شپو» خبر ورکړی و
تېښته یې بادار کوي مختوري غلامان به شي

څي به له وطنه چې پردي یې راوستلي وو
څوک چې فرنګي بابا ته ناست وو یتمیان به شي

اوس به د دې خاورې د مالک پته هم ولګي
څمکه د بابا چې یې بلله وارثان به شي

رحیمي

د اسلامي شریعت پېژندګلوي

د اسماني شریعتونو متفقه اصول

د هند د نیمې وچې او اسیا « امیر المؤمنین فی الحدیث شاه ولی الله دهلوي» پخپل مشهور کتاب «حجة الله البالغه» کې په تفصیل سره دا وضاحت کړی دی چې په ټولو اسماني کتابونو کې د دین اساسي اصول یو دي او ټولو انبیاوو «علیهم السلام» د هغو تعلیم ورکړی دی، حضرت شاه صیب هغه متفقه دیني اصول په لاندې ډول راوړي:

۱ـ په توحید باندې ایمان

۲ـ هغه امور چې د الله تعالی د ذات شان ندي هغو نه يې تقدیس او تنزیه کول.

۳ـ شرک نه کول.

۴ـ د الحاد او مذهبي انحرافاتو مخنیوی کول.

۵- په الهي تقدیر پوره ایمان لرل.

۶ـ د شعائر الله احترام کول.

۷- په ملایکو باندې ایمان...

۸ـ اسماني کتابونو باندې ایمان...

۹ـ قیامت باندې ایمان...

۱۰ـ په جنت، دوزخ او د اخرت په حساب باندې ایمان...

۱۱ـ صالحه اعمال او د هغو دولونه

۱۲ـ بد اعمال او د هغو دولونه

۱۳ـ د عدل وانصاف پلي کول.

۱۴ـ د ظلم او زیاتي د ټولو صورتونو مخنیوی.

۱۵ـ د الهي حدودو تفیذ و قیام

۱۶ـ د الله تعالی په لار کې جهاد کول

۱۷ـ د غوره او نیکو اخلاقو خورول.

۱۸ـ د بدو اخلاقو نه مخنیوی کول

ټولو انبیاوو« علیهم السلام» د یادو متفقه اصولو تعلیم ورکړی دی، البته په عملي تفصیلاتو کې يې اختلاف راغلی دی، پخوانیو شریعتونو کې د دې امورو په باب عملي احکام یو مخ ساده او لومړني وو، هر څومره چې بشریت په ذهني توګه ترقي کوله هغومره ورسره د یادو احکامو په تفصیلاتو کې زیاتوالی راته، تردې پورې چې اخر هغه مرحله هم راغله چې بشریت د شریعت د تکمیل لپاره ذهناً تیار شو او زمکه د زرغونیدو هغه سطحې ته ورسیده چې پکې د وروستي، مکمل او نړیوال شریعت تخم را زرغون شي

د محمدي شريعت يا اسلامي شريعت نه مراد هغه تعليمي مجموعه ده کومه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذريعه انسانانو ته رسول شوې ده او دا تعليمي مجموعه د وحي په ذريعه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته او بيا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذريعه انسانانو ته رسيدلې ده، او وحي په دوه ډوله ده، يوې ته «جلي وحي» ويل کېږي چې الفاظ و معاني دواړه يې د الله ﷻ له لوري راغلي دي او د قرآن پاک په صورت کې خوندي ده او د وحي بل ډول «خفي » دی چې معاني او مفاهيم دواړه يې د الله تعالی له لوري ليږل شوي وې، ليکن هغه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله مبارکه ژبه او پخپلو الفاظو کې او يا پخپل طرز العمل سره بيان کړي وې او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کړي عمل او لارښوونې لپاره د سنت اصطلاح کارول کېږي.

په عربي ژبه کې د سنت معنی طرزالعمل او طی کړای شوې کاري طريقې ته ويل کېږي دا لفظ د اسلام نه وړاندې هم په همدې مفهوم کې کارول کيده، د عربي ژبې مشهور شاعر لبيد بن ربيعه (٨) ابن ربيعة العامري مشهور شعر دی:

من معشرسنت لهم آبا هم

ولکل قوم سنة و امامها

د عربي دا لفظ د خپل مفهوم د پراختيا او جامعيت په وجه دومره موزون دی، چې همدا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنت عمل د طرز يعني اسوه حسنه لپاره هم غوره کړای شوی دی.

د شريعت دا دواړه ماخذونو (يعني د قرآن وسنت) په ذريعه چې کوم تعليم يعنې شريعت تر موږ رسيدلی دی، هغه درې لويې او مهمې برخې لري:

١ــ عقيده او ايمانيات ٢ــ تزکيه، احسان او اخلاق، ٣ــ فقه، يعنې د ظاهري احکامو مجموعه

دلته د همدې درې واړو اړخونو سپيناوی او تشريح غواړو، دوه لومړني اجزاء د شک او شبهې پرته اساسي اهميت لري، خو که په لږ غور وکتل شي نو هغه په يو اعتبار د دې دريم او وروستي جز لپاره د تمهيد حيثيت لري، شريعت د ژوند نظام دی، د ژوند کولو يو طرز دی او په دنيا کې د استوګنې کولو ځانګړې سليقه مراد ده او دا ټول اجزا عموماً د انسان په ظاهري ژوند پورې اړه لري، عقيده انسان د ذهني او فکري پلوه په دې خبره مطمئن کوي چې هغه په ژوندانه کې څه حيثيت يا مقام لري؟ د هغه پيل او انجام څه دی؟ هغه د کوم ځای نه راغلی دی؟ او کوم ځای ته درومي؟ د څلور طرفه غوړيدلې نړۍ سره هغه (انسان) څه تعلق لري؟ د دې ټولو سوالونو ابتدايي او اصولي ځوابونه په عقيده او ايمانياتو تعبيريږي، عقيده او ايمانيات چې نه وي د انسان د ژوند هيڅ نظام هم مرتب کيدای نشي د زمکې په مخ د اوسيدو لپاره هيڅ سليقه ترتيب کيدای نشي، د نورو سره په يوځای کيدو سره هيڅ قرينه طی کيدای نشي، په دې کې د هغه څيز لپاره اساسي پوښتنو لپاره يو نه يو ځواب طی کول ضروري دی د دينه معلومه شوه چې ايمانيات هغه اصل او اساس دی په کوم چې د ټولې ودانۍ اساس ولاړ دی.

همدا کيفيت د تزکيه و احسان او اخلاقو دی، د تزکيه و احسان نه مراد د انسان دننه تربيت او او اصلاح د هغو اخلاقي مکارمو ده چې اسلامي شريعت تعليم ورکړی دی که هغه د انسان په رګونو کې سرايت هم ونکړي ليکن په ورځيني ژوند کې پر هغو د تکلف پرته عمل اسان نه وي، د تزکيې و احسان حيثيت د ودانۍ د بنسټيزو ستنو يا د يوالونو دی چې هغه نه وي ودانۍ نه تم کيدای شي او نه ودريدای شي، د دې دواړو اساسي اجزاوو

نه وروسته دريم، او ترټولو اهم او پراخ ميدان د ظاهري اعمالو او ظاهري ژوند د لارښوونو دی، پر هغو د عمل لپاره د انسان اماده کول کار په عقيده ايمانياتو او د احسان وتزکيې د لارښوونو په زريعه راځي، چون د فقهې دايره د ټول بشريت تر ژوند محيط ده، نو په دې وجه پرځای ده چې هغه د شريعت تر ټولو اهمه برخه وګرځول شوې، دومره اهمه ده چې څيني وخت فقهې ته «شريعت» هم ويل کېږي، دا اسلوب نه يوازې په عربي ژبه کې دی بلکې په څو نورو ژبو کې هم عام دی چې کله، کله د يو څيز په اهم جز د «کل» اطلاق هم کېږي لکه مصر ـ کې د «قاهرې» لپاره هم مصر، او په شام کې د «دمشق» ته شام ويل عام دي او دا ټول د «تسمية الجـزء باسمِ الکل» مثالونه دي.

د شريعت د هغو خصايصو پېژندل هم اړين دي د کومو پرته چې کما حقه د شريعت پېژندل مشکل دي، د شريعت بل اهم خصوصيت د هغه دننه شته «جامعيت او وسعت» دی، شريعت وروستی الهي وحي او د ژوندانه نظام دی، کوم چې د «آخر الزمان صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» په ذريعه باندې نازل کړای شوی دی، مصدر او مأ خذ يې هغه وروستی الهي کتاب دی کوم چې د ټولو اسماني کتابونو وروسته نازل شوی دی، د قرآنِ پاک پخپلو الفاظو: هغه څنګه چې د پخوانيو کتابونو تصديق کوي په ورته توګه په ټولو پخوانيو کتابونو باندې مهيمن هم دی، يعنې د هغو محافظ او د هغو په مضامينو باندې حاوي دی، مهيمن د هغه صفت دی، چېرته چې د عظيم الشان قرآن د جامعيت او کامليت څرګندېږي هلته د عظيم الشان قرآن د ورکړي شريعت جامعيت هم ښکاره کېږي.

د عظيم الشان قرآن د جامعيت په څو اړخونو بحث کيدای شي، چې د هغو نه يو د هغه د جامعيت هغه مضامين او محتوا ده، په کومه چې شريعت بحث کړی دی، هغه مضامين چې د بشري ژوند په مختلفو برخو راڅرخي او د هغو له محتوا څخه ښکاري چې اسلامي شريعت د ژوند د ټولو برخو په باره کې لارښوونې کړې دي بل د ژوند په هره څانګه کې څيني داسې معاملات هم کيدای شي چې د انسان عقل هلته تيروتنې کولی شي او يا هلته يې د خطا کيدو زيات امکان وي او يا په کومې داسې معاملې پورې اړه لري چې ورته انساني عقل نشي رسيدلی، د دغسې ټولو معاملاتو په اړه شريعت اساسي لارښوونې کړې دي او د هغو په رڼا کې يې د انسان عقل ازاد کړی دی چې د بشري عقل د پاتې تفصيلاتو او د بقيه جـزوي سـوالونو څوابونـه د هغـو عمـومي او کلي څوابونو په رڼا کې پخپله طې کړی شي.

هغه اساسي پوښتنې چې عظيم الشان قـران ځـواب کړي دي د هغو نور تفصيل په سنتِ رسـول الله کـې بيـان شوی دی، کوم چې پـه عقايـدو پـورې اړه لـري او هـم د انسـاني رويـې، طرزالعمـل او جـذباتو پـورې همـدا راز د انسان په احساساتو او داخلي رجحانـاتو پـورې هـم، کـوم چې د انسان له اخلاقو او کردار څخه هـم بحـث کـوي، د دې ټولو نه زيات يې د انسـاني ژونـد د لامتنـاهي ظـاهري برخو په اړه رهنمايي او لارښوونې ور کړې دي.

د شريعت د جامعيت معنـی دا نـده چې شريعـت د انساني عقل په سوچ باندې بنديز لګولی دی، يا يـې انسـاني عقل محدود کړی دی او نه يـې د انسـاني عقـل کـارکردګې يومخ د شريعت په رڼاکې د نه داد او نه باور وړ ګرځـولې نده، د شريعت د جامعيت معنی يوازې داده چې د انسـاني عقل ذمه وارې د شريعت کړو لارښوونو تکميل او د هغـو په اړه د هغو تفصيلاتو تعينول دي، چې بيان يې قرآن مجيد يا د رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت په انساني سليم عقـل او فهم صحيح باندې په اعتماد کولو سره ضروري ندی ګڼلی.

بل لور ته د شريعـت د جامعيـت يـوه اهمـه برخـه د هغه«وسعت او تکميليت» هم دی، وسعت نـه مـراد دا دی

چې د نورو اسماني کتابونو، د نړۍ قوانینو، تهذیبي اصولو، تمدني لارو چارو او د کلتوري ارزښتونو برعکس چې د یو نه، یو نه اعتباره په محدودو برخو بحث کوي د شریعت دلچسپۍ دایره ډیره پراخه ده، بېځایه به نه وي که وویل شي چې د هغو ټولو نظامونو، اندونو، په مقابل کې د شریعت علاقمندي ډیره پراخه ده، د دې وسعت یو مثال د شریعت د تکمیلیت شان هم دی د کوم په لور چې په ځینو احادیثو کې اشاره شوې ده د مثال په توګه: رسول الله ﷺ اِنّمـا بُعِثـتُ لِاُتَمِّـم مَکـارِمَ الاخـلاق (کنزالعمال: ۵۲۱۸) زه یوازې د دې هدف لپاره لیږل شوی یم چې د اخلاقي مکارمو تکمیل وکړم.

د مکارم اخلاق د تکمیل یا اتمام نه مراد دا دی چې انسانانو کې له وړاندې څخه موجود اخلاقي مکارم نه یواځې پرځای پاتې کړای شي بلکې د اخلاقو ټول منتشرـ او جزیي تصورات ترتیب او یوځای کړای شي، د اخلاقو یو جامع او مکمل تصور انسانانو ته ورکړي دا خبره ښکاره ده چې مکارم اخلاق په ټولو انساني تهذیبونو کې له وړاندې نه شتون لري، د مکارم اخلاق په اړه لومړني تصورات له وړاندې نه انسانانو ته ورکول شوي وو او په ګنو برخو یې انسانانو له وړاندې نه عمل لاره، لیکن قومونو ته په جلا، جلا ډول ورکړل شوي وو هر قوم ته چې د څومره اخلاقي لارښوونو ضرورت وو همغومره یې ورکړي وو، د هغو اخلاقي لارښوونو په اساس انبیاء علیهم السلام تاکید کړی دی او په خاصه توګه د هغو اخلاقي کمزوریو د لرې کولو یې زیات کوښښ کړی دی، کوم چې د مخصوصو قومونو دننه یا په مخصوصو سیمو کې موندل کېدل لیکن اوس د داسې یو اخلاقي نظام او لارښوونو مرحله راغلې وه چې هغه د ټولو انسانانو لپاره، د ټولو سیمو لپاره او د ټولو زمانو لپاره وي، له دې وجې اوس د دې خبرې ضرورت محسوس شو چې هغه ټول اخلاقي تصورات، اخلاقي رجحانات او په ماضي کې ورکړل شوي ټولې اخلاقي فلسفې په یو (کل) کې ورکړای شي او په یو تار کې وپېیل شي او یوه ښکلې ګل غونچه تیاره شي، هغه مختلف ګلونه چې په مختلفو قومونو او سیموکې خواره واره وو، هغه مختلفې ملغلرې چې په مختلفو وختونو او مختلفو ځایونو کې خلکو خورې ورې موندلې وې او مختلفو ګوهریانو لخوا خپلو قومونو ته راوړل شوې وې نور ضرورت و چې هغه ټولې راجمع کړای شي او ورڅخه یو په زړه پورې ګل غونچه تیاره شي او پکې هغه ټولې ملغلرې را یوځای او صفا کړای شي، د زمانې له ګردونو او دوړو یې ووینځي او په هغو باندې د زمانې په تیروتنه کېنل شوي داغونه لرې کړای شي او بیا ټولې په یو امېل کې په پېیلو سره ترې د یوې ښکلې ګانې بڼه جوړه شي دا معنی ده د مکارم اخلاق!

بله د پام وړ دا ده چې په اسلامي تصور، او اسلامي فکر کې جزوي مشابهتونه په مختلفو قومونو کې موندل کېږي ځیني ظاهربین خلک د اسلامي فکر د اصالت نه انکار کوي او دا فهموي چې اسلامي متکلمینو یا اسلامي فقهاوو چې کوم څه ترتیب کړي دي هغه ټول د نورو څخه ماخوذ شوي دي، حال دا چې د نورو نه د حکمت ملغلرې را اخیستل او هغه په یو جامع امېل کې پېیل د اسلام د اساسي مقاصدوڅخه یو دی، د رسول الله ﷺ د تشریف راوړو مقصد د مکارم اخلاق تکمیل دی، د مکارم اخلاق ایجاد ندی، رسول الله ﷺ داسې ندي فرمایلي: چې زه کوم نوی اخلاقي نظام راوړم، بلکې و فرمایلي: ماکُنتُ بِدعاً مِنَ الرُّسُلِ زه کوم نوی رسول نه یم، نوی پیغام مې ندی راوړی بلکې د پخوانیو پیغامونو «تکمیل، تجدید او تذکیر» کوم یعنې د یادولو لپاره راغلی یم.

نور بیا...

د شعر و شاعري اهمیت او ضرورت

ظهیر

هر موزون کلام یعنې وزن لرونکي کلام ته شعر ویل کېږي، شعر د «مافي ضمیر یا مافي الذهن» د اظهار یوه مؤثره او راښکونکې ذریعه ده، چې له لارې یې یو انسان کولی شي خپله خبره تر نورو ورسوي نور متأثر او قایل وګرځوي او کله تا کله په نورو د شعر په واسطه ټوکې او طنز هم کوي، پکې د نورو هجوه او عیوب بیانوي، په دې وجه د بیان په اسالیبو کې یو لوی اسلوب د شعر و شاعري دی

دا چې د شعر و شاعرۍ اساس په تخیل باندې وي، یو تن چې په خبره کې څومره مبالغه کولی شي، څومره چې یې تخیل لوړ وي هغومره به یې شعر ښکلی وي، راښکونکی او مؤثر به وي، خو د انبیاء علیهم السلام خبرې په تخیل نه بلکې په وحي او یقین بناء وې، په دې وجه شعر و شاعري د انبیاء علیهم السلام د شان سره مناسب نده ځکه چې د هغوی مقام و مرتبه د شعر و شاعري نه ډیره لوړه ده، خلکو به رسول الله ﷺ ته شاعر ویلې: لیکن عظیم الشان قرآن وفرمایل« وما علمنه الشعر وما ینبغی» او نه دی ښودلی موږ تاته شعر او نه شاعري ستا شان دی، او یو بل ځای کې عظیم الشان قرآن کې دي« وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُوْنَ » د شاعرانو پیروي بې لارې خلک کوي غرض دا چې شعر وشاعري د رسالت او نبوت په اوصافوکې نه راځي.

هو! پخپله رسول الله ﷺ شعر استعمال کړی دی، د ښه او کره شعر تعریف یې کړی دی او هم یې اشعار اوریدلي دي، نو د شعر د نفي مطلب مطلقاً نفي نده بلکې دا دی چې شاعر کیدل د رسول الله ﷺ له شان سره مناسب نه دي، مطلقاً د شعر وجود یوه ذریعه ده کوم چې د اظهار لپاره د پخوا نه شتون لري، چې ویل کېږي، لیکل کېږي او اوریدل کېږي او د قیامت پورې به وي، رسول الله ﷺ شعر و شاعري د اسلامي دعوت لپاره هم کارولې ده، که خپله رسول الله ﷺ شعر نه وایه خو شعر د« حُدي، رجز او غزل» په توګه د رسول الله ﷺ په مخکې لوستل کیده او په وجه یې رسول الله ﷺ لوستونکي ته داد هم ورکاوه. سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه په شمایل ترمذي کې روایت دی چې د رسول الله ﷺ په مجلس کې شعرونه ویل کیدل او رسول الله ﷺ به داد هم ورکاوه او هر چې ترانې (رجز) دي نو رسول الله ﷺ پخپله رجزیه شعرونه ویلي دي.

رسول الله ﷺ یو حُدِي خوان ساتلی و، هغه به په سفر کې هم ورسره و چې د اوښانو سره یوځای به روان و او په خواږه اواز کې به یې حدِي زمزمه کوله، د هغه نوم (انجشة) و، بخاري شریف کې روایت دی: یو سفر کې رسول الله ﷺ په اوښ سپور و، انجشة هم ورسره او هغه «حُدي» ویله، دا ځکه چې اوښ یو داسې ذوق لرونکی ځاروی دی چې په څومره ښه خواږه غږ کې ورته

سندره زمزمه کبري، هغومره و تيز درومي، نو انجشة هم په ډېر خوند سره «حُدي» ويله او په اوښ بانـــدې ازواج مطهـــرات رضي الله عنهن سفر کاوه رسول الله ﷺ اواز ورکړ «رُوَيدَكَ يَا أنجَشَةَ سَوقكَ بِالقَوَارِيرِ» اې انجشة کرار، کرارېږ وايه، تا هنداري بار کړي دي يعني چې اوښ تيز درومي نو د هندارو پشان ميرمنې چې په اوښ سفر کوي ماتېږي.

رسول الله ﷺ د قریشو سره درې جنګونه کړي دي، د بدر جنګ، احد جنګ او د احزاب جنګ، کله چې رسول الله ﷺ د احزاب جنګ نه فارغ شو مسجد نبوي کې يې وينا وکړه او ويې فرمايل: مسلمانانو! له دې وروسته به قريش دومره حوصله يا مورال ونلري چې هغوی په موږ باندې حمله وکړي ځکه د هغوی ټول زور اوبه شوی دی، ټول عرب يې راغونډ کړل بيا يې هم بری ترلاسه نکړ، يوه مياشت محاصره يې وکړه عظيم الشان قرآن وايي« لَم يَنَالُوا خَيرا» چې هيڅ يې هم ترلاسه نکړای شول، پوره مياشت خوار و ذليل شول رسول الله ﷺ وفرمايل: چې اوس په موږ باندې حمله نشي کولی اوس به موږ په دوی باندې حمله کوو، وروسته هم داسې وشول

او دوهمه خبره رسول الله ﷺ دا وفرمايله چې قريش به له دې وروسته ستاسو په خلاف د توري د جګړې حوصله ونلري ليکن اوس به هغوی د ژبې جنګ کوي ستاسو پر خلاف به پروپاګند کوي، ستاسو غندنه به کوي ستاسو په کردار به نيوکې کوي شعر و شاعري به کوي په سوداګريزو ميلو کې به ستاسو خلاف تفرتونه خوروي او ستاسو پر ضد به توپان پورته کوي

رسول الله ﷺ وفرمايل: صحابه وو! د توري په جنګ کې تاسو له ماسره ملګري وئ نو د ژبې په دې جنګ کې به څوک، څوک ما سره ملګرتيا کوي؟ په دې سره درې کسان پورته شول حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه، حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه او حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه او درېواړه د وخت وتلي شاعران وو او له انصارو څخه وو، هغوی دا مسؤليت واخيست، چې د شعر و شاعري جنګ موږ کوو، حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه وويل: يار سول الله! زه به پخپله په دې ژبه کافران ځبرې کړم، حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه به د رسول الله په مدح کې نعتونه ويل او کافرانو به د رسول الله ﷺ په هجوه کې کوم کلامونه ويل هغوی ته به يې ځواب ورکاوه، حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه رجزيه او رزميه شعرونه ويل: چې په دښمن به غرونه ونړو، د هغوی سرونه به قطع کړو، ککرۍ به يې خاورې کړو او داسې نور... او هر چې حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه و، هغه د توحيد، د الله تعالی صفات او د اسلام فايدې، د اسلام احکام او د عبادتونو خبرې په شعرونو کې موزون بيانولې او د کفر و شرک غندنه يې کوله او د هغه ناروغی او بدی يې بيانولې.

نو هغه جنګ يې په ډېره ښه توګه باندې وکړ، په دومره ښه انداز يې وکړ چې يو کال په حديبيه کې رسول الله ﷺ عمره ونکړای شوه او بيرته راوګرځېد، راتلونکی کال چې کله رسول الله ﷺ د قضا عمرې کولو په نيت د ۱۵ سوه صحابه وو سره يوځای روان شو، احرام يې وتړه، او توري يې په غاړه کې ښکته ځوړندې کړې وې، کله چې مکې مکرمې ته ننوتل نو د رسول الله ﷺ د

اوښې واګې حضرت عبد الله بن رواحه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ نیولې وې نورو خلکو« لبیک اللهم لبیک» ویلي او عبد الله بن رواحه رجزیه شعرونه ویل.... ککرې به خاورې کړو، ځتونه به مات کړو د مکې کافران هم هلته حاضر وو، حضرت عمر رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ ولیدل چې نور ټول خلک تلبیه وایي او عبد الله بن رواحه رجزیه شعرونه وایي، تـو نـږدې ورغی، په ژبه نه بلکې په اشاره یې ورته خبره وکړه خکه چې هلته ورسره په اوښ باندې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ سفر کاوه نو اشارتاً یې ورته وویل: چې د خدای بنده مخامخ کعبه ده او ته پخپلو رجزیه اشعارو ویلو کې غرق یې! لیکن د رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ نظر په حضرت عمر رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ باندې پرېـوت ورتـه یـې وفرمایل«دعه یاعمر» عمره! پرېږده، د ده اشعار ستاسو د غشو نه هم زیات د کافرانوپه سینو کې په هدف باندې تیز لګېږي.

د دې واقعاتو راوړو مقصد دا دی چې دا خبره سمه ده چې عظیم الشان قرآن ویلي: شعر و شاعري د انبیاوو (علیهم السلام) شان سره مناسب اولایق ندی لیکن اسلام د شعر و شاعرۍ مطلقاً نفي نده کړې، هم دا وجه ده چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د اسلامي دعوت او دفاع لپاره د اظهار د ذریعې په توګه د خطابت او شاعرۍ دواړه استعمال کړې دی.

د شعر و شاعرۍ مختلف ډولونه

هو! شعر و شاعرۍ مختلف ډولونه لري دلته په لاندې ډول د هغو پیژندنه کوو:

رجز: جنګي او جهادي ترانې دي. د مثال په توګه «انا النّبيُّ لا کذِب انا ابن عبد المطلب» دیته رجز ویل کېږي او دا رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ پخپله ویلی دی.

حدي: شپانه د څارویو او اوښانو د څرولو او د تیز بوتلو لپاره حُدي وایي، په دې باره کې اوښ له نورو څارویو څخه زیات ذوق لرونکی څاروی دی، څښتن که ورباندې هرڅومره درونـد بـار، کېږدي خو چې د هغه سره یو ځای ورته ښه خوندوره حُدي وایونکی هم وي نو اوښ څغلي لکه د فارسي لاندې شعر:

حدی راتیز ترمی خوانچون محمل راگران بینی

یعنې که په اوښ باندې بار درونـد هـم بـار کـړې نـو ډاریږه مه زکه حُدی تیزه کړه

قصیده: د یوچا د مبالغې څخه ډک صفت او تعریف کول

هجو: د یو چا بد بیانول او غندنه کول

مرثیه: د مړه شوي تن صفتونه کول، د یوتن په مړینه باندې د غم او ماتم ښکاره کول

غزل: لـه نـازک صـنف سره خـبرې کـول، د ښـکلا او مینـې موزون ذکر ته غزل ویل کېږي

په صحابه وو کې هم لوی لوی شاعران موجود وو، یو سړی وي سخن شناس چې خپله شاعر نه یي خو په شعر پوهیږي، د کره او غیر کره شعر په تمیز پوهېږي، د شعر پیژندل او پرځای استعمالول هـم مستقل ذوق دی، حضرت أم المؤمنین عائشه صدیقه رَضِيَٱللَّهُعَنْهَا ته په شعر و شاعرۍ کې ذوق او د اشعارو په پیژندلو کې خاص کمال حاصل و.

د عربي شاعرانو قسمونه

عربي شاعران درې ډلې یا طبقې دي:

۱ـ جاهلي ۲ـ مخضرم ۳ـ اسلامي

جاهلي شاعران: هغه چې د جاهلیت دور یې موندلی، په جاهلیت دوره کې مړه شوي دي او مسلمانان شوي ندي

مخضـرم: هغـه شـاعران دي کومـو چـې د جاهلیـت او اسلام دواړه دورې موندلي دي، په جاهلي دور کې هم شاعري کوله او د اسلام قبلولو وروسته یې هـم کـړې ده هغـوی تـه مخضرم وایي.

اسلامي: هغو شاعرانو ته وایي: چې د اسلام په دوره کې پیدا شوي دي هغوی ته اسلامي یعنې مسلـمان شاعـران وایي.



جاهلي ادب ته ارتيا

ادب: ادَب، يُؤَ دِّبُ، تأديباً (لفظي معنی يې ده اصلاح کول او دا له دې وجې ورته ويل کېږي چې په دې سره د ژبې، اخلاقو او ادابو اصلاح کېږي په دې کې نصيحتونه هم وي د انسانانو اخلاق او کمالات هم وي او د نيمګړتياوو او کمزورتياوو په ګوته کول هم کېږي چې کومه خبره سمه ده او کومه ناسمه او عيب ده؟ انسان ته کوم ته وخت څه کول پکار دي؟ دا هرڅه د ادب لوستلو نه زده کېږي که يو څوک ادب په غور سره ولولي نو پکې زيات ګران بيه سبقونه منډل کېږي او ډيرې ښې خبرې معلومولی شي او انسان په دې باندې پوهيږي چې د شرافت او ذلت نښې څه دي؟

رسول الله ﷺ چې د نن څخه ۱۴سوه کاله وړاندې په کومه زمانه کې مبعوث شو، په عربي نړۍ کې په خطابت او شعر و شاعرۍ کې فصاحت و بلاغت په عروج کې و او نن ورځ هغه معيار منل کېږي نن هم چې د ادب فصاحت و بلاغت لپاره معيارونه بيانيږي تر ټولو مخکې جاهلي ادب معيار ګرځول کېږي قرآن کريم د هغه دور د ادب په دايرې کې راغلی دی رسول الله ﷺ هم د هغه دور انسان و، په ژبه مبارکه يې د هغه دور الفاظ، محاورې، مثالونه او متلونه وو.

د هرې زمانې او هرې سيمې خپله ژبه وي، د هر ژبې خپل الفاظ، محاورې او مثالونه د زمانې په اعتبار سره او يا د مقام په اعتبار سره بدليږي، مور پښتو وايو، د پيښور، مردان او کوټې خلک هم پښتو وايي، خو د پيښور، مردان او کوټې پښتو ويل له مور څخه جلا دي يا په پښتنو کې د خدرانو، منګلو، وزيرو، او مسيدو بتوسيو محاورې جلا، جلا دي، د مروتو جلا دي د ختيکو او يوسفزيو نه جلا دي د کندهار مثالونه د ننګرهار څخه جلا دي، د پکتيا مثالونه د هلمند او فراه څخه جلا دي، اوس که يو وزير پښتون تقرير کوي نو په هغه باندې د پوهيدو لپاره د وزيرو او مسيدو لهجه باندې پوهيدل ضروري دي داسې هلَم جرا

دا چې عظيم الشان قرآن د هم هغه دور په عربي کې نازل شوی دی او هم د رسول الله ﷺ ارشادات او احاديث د هم هغه دورې په ژبه کې دي، له دې وجې په عظيم الشان قرآن باندې د پوهيدو لپاره او احاديثو مفهوم صحيح پيژندلو لپاره او د رسول الله دم بارکو ارشاداتو د مصداق صحيح معلومولو لپاره د هغه دورې له عربي نه واقف کيدل زمور ديني ضرورت دی او د شعر و شاعرۍ د هغه اسلوب پيژندل د قرآن فهمی لپاره اړين دی

اوس پوښتنه داده چې مور پخپلو ديني مدرسو کې جاهلي ادب ولې لولو؟ يا په بل تعبير جاهلي ادب ولې په درس نظامي کې شامل دی؟ دا ځکه چې هغه په قران

پوهیدنې او د حدیث وسنت د مصداق معلوملو لپاره لـه ضروریاتو څخه دي، د هغه دورې محاورې، ضرب الامثال، متلونه او د هغه دور د ژبې لپاره معیار ګڼل کېږي نو په عظیم الشان قرآن او احادیثو باندې د پوهیدو لپاره یې لوست صحیح بولي که د هغه دور محاورې صحیح ونه ګڼل شي نو په عظیم الشان قرآن او حدیث باندې په صحیح توګه نشي پوهیدلی او بنکاره ده چې موږ حماسه، متنبي او سبعه معلقه او نور لوستل موږ د هغه دور د عربي ادب سره اشنا کوي څو د هغه زمانې عربي اسلوب او ذوق وپېژنو او په قرآن و حدیث باندې په پوهیدو کې ستونزه ونلرو.

[illegible]

د هر شاعر شعرونه چې کوم ذوق تـه پـه پـام سره ترتیب کړای شي، هغه «دیوان» بلل کېږي لکه: د حسان بن ثابت دیوان، د حضرت علي دیوان، د بابا عبد الرحمان دیوان، د خوشال خان خټک دیوان او نور... او یو دیوان هغه وي لکه یو سړی چې پخپل ذوق سره د خپلو اشعارو مجموعه ترتیب کړي او د خپنو نورو ذوق بیا د نورو د غوره اشعارو نه مجموعې ترتیبول وي، هغوی د مختلفو شاعرانو کلامونه راټول کړي او د هغو له منځه د خپل ذوق سره برابر شعرونه انتخاب کړي یعنې هر نظم یا غزل چې خوند ورکړي، هغه غوره کوي لکه زموږ په درس نظامي کې مروج کتاب «متنبي» کې چې څومره شعرونه او یا کلامونه راوړل شوي دي، ټول د متنبي خپل کلام دی، لیکن پـه درسِ نظامي په بل شامل کتاب« حماسه» کې چې څومره کلامونه راوړل شوي دي هغه د «مرتِب» خپل ندي، بلکې ورته چې د «جاهلي، مخضرم، او اسلامي شاعرانو» پـه کلامونو کې کومو، کومو شعرونو خوند ورکړی دی لـه هغو یې مجموعه جوړه کړې ده.

د«حماسې» لفظي معنی ده «اتلولي ـ بهادري» یعنې د زړورو او میړنیو خلکو کلام، یا د میړانې څخه ډک کلام، د حماسې ترتیبوونکی (ابو تمام حبیب بن اوس و) څوک چې د «بني طی» قبیلي غړی و او د خپل دور لـه نومیالیو شاعرانو څخه یو و، په هغه وخت کې دا دود و چې شاعران به د پاچایانو درباورنو تـه ورتلل او هغلته بـه یې قصیدې ویلي، درې څلور میاشتې به په دربار کې تم کیدل او درباریانو ته به یې قصیدې ویلي، بیا په عوض کې به یې د وخت پاچا یو څه پیسې ورکولې او بیا به د بل پاچا دربار تـه ورتلل یعنې دا د هغوی د پیسو پیدا کولو ذریعه وه، او د هغه دور پاچایان هـم ادب پـالان او فرهنـګ پـالان وو هغـوی بـه د شـاعرانو او خطیبانو زیات قدر او نوازش کاوه.

د خراسان پاچا« عبد الله بن طاهر» چې هغه مهال زلمی ـ خوان و «ابو تمام حبیب بن اوس» د هغه پـه دربار کې یوه قصیده وویله، پاچا ته یې زیات خوند ورکړ او ورتـه یې د هغه زمانې «زر دینار» د انعام پـه توګه ورکړل، هغه وخت دا ډیر لوی انعام و، کله چې هغه بیرتـه ستنیده، نو پـه «همدان» باندې تیریده، هلته د هغه یو تن دوست «ابو الوفاء بن ابی اسلمه» میشت و، سوچ یې وکړ، چې سترړی یم دوه درې ورځې به هغه سره تم شم، بیا به څم، کله چې یوه ورځ یې تیره کړه، نو په سبا ته ډیره زیاته واوره ووریده، چې پـه سبب یې ټولې لارې بندې شوې او خلکو ورتـه وویل: چې درې میاشتې وروسته به خلاصیږي، دا چې هغه مهال د نن په څیر د تګ راتګ لپاره اسانتیاوې نه وې، لکه موټر یا الوتکې، ابو حبیب مجبوراً پاته شو، کوربه زیات خوشال و هغه ورتـه ویل: لارې بندې شوې درې میاشتې وروسته به خلاصیږي، نو تـه هــم د لتــه ډاډه اوســه او کتــابتون شــــته دی دوه درې کتـــابونه ولیکه.

نو په واورو کې بند پاتـه شوي« ابو تمام» د مختلفو شاعرانو د کلامونو د دیوانونو څخه یوه مجوعـه تیاره کړه، یعني دیوان ابی تمام «دیوان حماسه» دا دیوان د جاهلي، او اسلامي دورې د لویو او نومیالیو شاعرانو د کلامونو غور چاڼ دی، د هر شاعر شعرونه چې ورته خوند ورکړی دی هغه یې مرتـب کـړي دی ډیـره پـه زړه پـورې مجموعـه ده د نـږدې ۱۲سوه کلونو راهیسې په مدرسو او علمي ادارو کې لوستل کېږي او په خاصه توګه زمـــوږ مدرسـو کې زیات مقبولیت لري.

راځئ هېواد له قومي او ژبني تفرقو وژغورو!

اح عزام

د نړۍ په هر هېواد کې مختلف اقوام شتون لري د هر هېواد اقوام خپل واکمن حکومت ته معتقد وي دوي بايد په اتحاد اتفاق باور ولري يو قوم په بل قوم بايد ځان لوړ او بهتر ونه بولي که چېرته د کوم هېواد اقوامو له اتحاد څخه تيښته کوله او هر يوه نوي سلنه خپل حکومت او واکمني غوښته بيا نو هېواد له يوه داسې بحران سره مخ کيږي چې څوک هم ورته د نجات فرښتې نه شي جوړېدای/گرځېدای. د شمالي او جنوبي کوريا تر مينځ جگړې يې ښه مثال دی هغه يو هېواد و، خو د خپلو رقيبانو او د خپلو داخلي اختلافاتو له امله په دوه برخې شو چې اوس يې شمالي کوريا او جنوبي کوريا بولي خپل منځي جگړو کې يې زرگونو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ چې ورسره له اقتصادي بحران سره مخ شول که څه هم اوس له طريق يافته هېوادونو څخه شمېرل کيږي خو چې کومې خلا سره د خپل مينځي جگړو له امله مواجې شوي وو شايد تر ډېر وخته پورې ياده خلا ډکه نشي کړای.

همدا ډول په شام او عراق کې د شيعه او سني تر مينځ جگړې هم د يادولو دي چې اوس له وروسته پاتې هېوادو څخه شمېرل کيږي يو وخت شام د امن زانگو بلل کېده، ويل کيږي کله به چې مسافر ورونکي الوتکه د شام په هوايي ډگر ښکته کېده نو په الوتکه کې به غږ کېده تاسو اوس د نړۍ امن لرونکي او ښکلي ښار ته ښکته کېدو په حال کې ياست، مگر هغه شام څه خپل منځي او څه د ابر قدرتو د گټو خوندي کولو جگړو په کنډواله بدل کړ او همدا ډول يې عراق هم دا واخله ياد هېوادونه له يوه داسې حالت سره مخ دي چې نه نور ورسره په اخلاص مرسته کوي او نه خپله د ياد بحران څخه را وتو لار موندلای شي.

زمونږ په هېواد کې هم مختلف قومونه له کلونو مېشت دي ژوند کوي چې پښتون، تاجک ازبک، هزاره، پشيي ايماق نورستاني... بللی کيږي زمونږ هېواد کې هم څو ځل پرديو هڅې کړي چې قومي لساني او سمتي تعصبات پيدا او تفريقې ايجاد کړي په ځينو مواردو کې بريالي شوي، ولې نسبت کوريايانو، شام او عراق ته افغانستان له هغه ډول بحرانو او تجزيو سره نه دي مواجې شوي خو بعضو مواردو کې قومي جگړو له ځان سره ډېر زيانونه درلودلي چې اوس هم هېواد وال هغه خپلې تيروتنې بولي په هېواد کې چې هر اشغالگر خپل اشغال ته د پاي ټکی ايښی ورسره قومي تفريقو ايجاد ته يې هم په پوره ډول کار کړی چې د روس له وتلو روسته نه يوازې دلته تنظيمو جگړو زور واخيست بلکې قومي تفريقې او تعصباتو هم ورسره را وپکرېدل تر يو حده د پرديو له لوري دلته د شيعه او سني تر مينځ د اختلافاتو پيدا کېدو هڅې پيل شوې چې د دغو جگړو قربانيان هغه سيمې وې چې دواړه اقوامو يکې له کلونو درنگ تيراوه، مشخصې سيمې ميدان ښار ځينې سيمې، باميانو، هرات او هغه چې شيعه هېواد وال مېشت ول دا چې اهل تشيع هېواد وال د چا له لوري تمويل کېدل هغه برملا دي خو دا چې خپل مينځي جگړو په کومه پيمانه وځپلو له قربانيانو يې بايد پوښتنه وشي.

دا چې اوس هم امريکا د وتلو په حال کې ده د پردې تر شا او غلامانو په ذريعې هڅه کيږي بيا خپل منځي جگړو

زمینه سازي وشي چې څه موده د مخه د شیعه هېواد والو په یو مجلس برید، همدا ډول جعفري فقهي باندې د ډلو ټپلو مذاکراتي ټیم له لوري ټرکیز تر څو د مسئلو د حل په توګه په راتلونکي اسلامي حکومت کې ومنلی شي، په داسې حال کې چې د هېواد لوی اکثریت سنیان او د امام اعظم صیب په مسلک دي نو ځنګه جعفري فقه هم د یوه اصل په توګه ومنلی شي؟ حال دا چې په حنفي فقه کې نه یوازې د افغانستان بلکې د ټول اُمت حقوق خوندي دي او یاده فقه کې د هغو مسائلو حل هم شته چې لا تر اوسه نه دي پیښې شوي امکان دي ولري چې راتلونکې کې پیښې شي دا چې سیاسیونو جعفري فقه هغه وخت غوښته باید هېوادوال وپوهېږي چې ولې؟

ورسره په څنګ کې قومي جګړو غوښتونکو قومي ملېشې جوړولې چې دغه پروسه په میدان وردګو کې په بریالۍ توګه سرکال د ژمي له سره روانه او دا ده پای یې دا شو چې علیپور په نوم جنګسالار تمویل او تجهیز شو، تیرو ورځو کې د اداري چورلکه یې وغورزوله په حقیقت کې دا د اداري پر ضد نه بلکې د پردي تر شا د مزدوري اداري له لوري په شا تپول/تمویل کېږي او قومي جګړو پیدا کېدو ته هڅول کېږي، په خواله رسنیو کې په وار وار طالب فعالانو مبارزینو سرکال خبر ورکړ چې په ځینو سیمو کې قومي جګړو ته زمینه سازي کېږي خو چا هم پرې غوږ ونه ګراوه که ریښتیا هم د علیپور ملېشې د اداري ته سرخوږی وي ولې یې هر ځل په وراندې د عملیاتو ناکامېدو خبر ورکوي؟ او حال دا چې اداري سره نه د وسلو کمی شته، نه د وګړو او نه د وسایلو خو په کندوز، فراه، ننګرهار میدان وردګو کې علمي صحي او ولس مېشته ځایونه ښه په ښه او تر هدف لاندې نیوی شي او د علیپور کوچنۍ ډله ختمولی او نیولی نه شي، له دې څخه جوتیږي چې په لوی لاس یو ځل بیا د شیعه او سني تر منځ اختلافاتو ته لمن وهلی کیږي.

په هېواد کې ټول اقوام باید ځیرک ووسي او پرېنږدي چې څوک مو د قوم ژبې او سمت په نومونو سره وویشي. باید د هغو له ملاتړ او هڅونو لاس واخلو چې هېواد مو له تجزیې سره مخ کوي باید د خپلو تیرو اختلافاتو څخه عبرت/ درس واخلو پرېنږدو چې د شام، عراق او د شمالي، جنوبي کوریا په برخلیک اخته شو په دې باید وپوهیږو چې زمونږ خپل منځي شخړو او تعصباتو ایجاد ته ډېر خلک په طمعه او په غوندي. ناسمت دي که مونږ د اختلاف په رنځ اخته شو ډېر به زمونږ تر مېنځ د خلاصولو پر ځاي د خوښۍ چکچکې وکړي د ټولو اقوامو علماء، اهل قلم او اهل نظر ښتنان مکلف دي چې خپل وګړي له قومي تعصب څخه وساتي او د قومي جګړو زیانونه ور په ګوته کړي څکه په داسې یو حالت کې د خلکو سترګې یادو طبقو ته اوړي چې خلک د اصلاح او فلاح لور ته متوجې کوي. په افغانستان کې ټول اقوام د یو تن اعضاء یاستو، له یو او بل مو ژوند نېمګړی او نیمه خوا ده، راځئ هېواد له قومي تفریقو او تعصباتو وژغورو هغوي چې دا ډول جګړو ته زمینه سازي کوي هغوي هم زمونږ هېواد وال دي شاید پردو له لوري تېروتي وي تر حده هڅه وکړو اصلاح یې کړو او که اصلاح یې ممکن نه وي بیا هغه د بدن د هغه عضوې په څېر ده، که له ځان څخه غوځ نه کړای شي د ځان بایلود لامل جوړیږي/ګرزي.

اسلامي نظام زمونږ د هېواد د ټولو اقوامو په نفعه ده او د ټولو ستونزو د حل مرجع او هغه رسی ده چې په نیولو سره یې مونږ ټول لا متفق کولی او پیاوړي کولی شي، په نفاذ کې د هېواد هر فرد که له هر قوم او سمت سره تعلق لري مکلف یو چې هڅې پیل او ځانونه د یو اسلامي نظام ښتنتان کړو.

فکري جګړه!

اصول، اهمیت او ضرورت!

دریم محاذ: د نړیوالې سیاسي واکمنۍ کوښښونه او مهم ډګرونه

ګلوبلایزیشن Globalization

نړیوال نظام یا نړیواله واکمني د استشراق او استعمار نوې بڼه یا ایډیشن دی، چې د رهبرۍ واګې یې د امریکا او یهودانو په لاس کې دي، نړیواله واکمني یو داسې تحریک دی چې هدف یې په نړۍ کې ټول اقتصادي، کلتوري، ټولنیز، دیني او ملي امتیازات له منځه وړل او څلور کونجه نړۍ د یهودي اهدافو او د امریکایي نظریې سره سم د نوي پانګوال نظام په چوکاټ کې یې ځایول دي.

د نړیوالې واکمنۍ! لومړی هدف اسلام ولې دی؟

که څه هم نړیواله واکمني په ټوله دنیا باندې منل دي، خو د رامنځته کولو اصلي هدف یې اسلامي نړۍ او مسلمانان ټاکلي دي او د دې څلور لاملونه دي:

۱ـ ټوله نړۍ کې د جغرافیوي موقعیتونو له پلوه اسلامي هیوادونه د نړۍ په غوره او مهمو برخو کې واقع دي.

(۲) ـ اسلامي نړۍ د حیرانوونکو معدني وسایلو څخه مالامال ده

۳ـ د درې لویو ادیانو (اسلام، یهودیت او نصرانیت) مقدس مقامات په اسلامي نړۍ کې واقع دي.

۴ـ د نړیوال نظام د واکمنۍ پر وړاندې د ځواب ویلو صلاحیت یوازې اسلامي نظام لري، په دې وجه ګلوبلایزیشن (د نړیوال نظام واکمنې) یواځې له اسلامه خطر لري.

د نړیوال نظام د واکمنۍ څلور ډګرونه:

نړیوال نظام هغه یو پراخ خوځښت دی چې د بري لپاره یې په څلورو ډګرونو کې کوښښونه روان دي:

۱ـ په نړیوال سیاسي ډګر کې

۲ـ په نړیوال اقتصادي ډګر کې

۳ـ په نړیوال کلتوري ډګر کې

۴ـ په نړیوال ټولنیز ډګر کې

۱ـ نړیوال سیاسي ډګر...

امریکا د نړیوال سیاسي نظام مؤسسه ده، په پیل کې یې د شمالي او جنوبي امریکا پخواني او اصلي اوسېدونکي (ریډانډینز) ووژل او د هغوی څخه یې ټولې سیمې ونیوې او بیا د نولسمې پېړۍ په منځ کې یې د خپل هیواد له حدودو نه بیرون د جارحیت څخه ډکه او نه پای لرونکې سلسله پیل کړه اویه ترڅ کې یې جاپان، فلیپین، کیوبا، کمبوډیا، ویت نام، هیټي، لبنان او لیبیا په نښه کړل په ۱۹۴۵ زکې د جاپان په دوه ښارونو (هیروشیما او ناګاسا) باندې د ایټم بم تجربه وکړه، د امریکایانو د استعماري عزایمو او وسایلو په لیدلو سره یهودانو هغوی د نړیوال سیاست لپاره ښه بیدریغه استعمال کړل، د نړیوال سیاسي نظام د پلي کولو لپاره امریکایي یهودانو لومړی (لیګ آف نیشنز) او بیا د ملګرو ملتونو (نړیوالې ټولنې) اساس کیښود په ۱۹۴۵ ز کې د اکتوبر په ۲۴مه نیټه د ملګرو ملتونو

منشور اعلان کړای شو اوس هم هغه تولنه د نړیوال سیاست او نړیوالې واکمنۍ مرکزي ستیج ګرځیدلې ده.

نړیوال نظام د پلي کولو حکم:

کله چې زموږ هیواد (افغانستان) کې شوروي اتحاد شکست وخوړ او د کمیونېزم نظریه تر خاورو لاندې دفن شوه نو په ۱۹۹۱ زکې د امریکا له لوري (د نیو ورلډ ارډر) د نړیوال سیاسي نظام پلي کولو په لور اهم ګام اخیستل و، په ۱۹۹۵ زکې په امریکا کې یوه جوړه شوې غونډه کې یې رسماً د نړیوالې سیاسي واکمنۍ د چارو پیل اعلان کړ:

نړیوال اقتصاد:

دوهم هغه ډګر چې یکې د نړیوال نظام د واکمنۍ لپاره کوښښونه روان دي د نړیوال اقتصاد ډګر دی، چې موخه یې د نړۍ اقتصادیات په قابو کې راوستل او بیا یې خوتنو شتمنو پانګوالو ته په لاس ورکول دي او په دې کې د بري لپاره یې هم څلور مهم ګامونه پورته کړي دي:

۱ـ د سرو زرو سوداګرې نیول

۲ـ د نړیوالې سوداګرۍ سازمانونه جوړول

(۳) ـ د نړیوالې سوداګرۍ په اړه هوکړې کول

(۴) ـ د ملتي نیشنل کمپنیو رامنځته کول

لومړی ګام: د سرو زرو زیرمې قبضه کول

د سرو زرو په زیرمو قبضه کول د یهودانو یو پخوانی خوب دی، دا خوب هغه وخت پوره شو کله چې د سرو زرو د سپکو ځای کاغذي نوټونو ونیو. تر ۱۹۷۱ ز پورې د تولو هیوادونو کرنسۍ په دالر پورې او دالر په سرو زرو پورې تړلی و، خو په ۱۹۷۱ز کې د نړۍ په لاسونو کې یواځې د دالر کرنسې یا د خپلو هیوادونو کاغذي کرنسۍ پاتې شوې او د سرو زرو ټول ذخایر یهودانو ونیول.

دوهم ګام: نړیوال مالي سازمانونه

د امریکا او یهودي لابي لخوا دوهم ګام د نړیوالو مالي سازمانونو د رامنځ ته کولو په صورت کې پورته کړای شو چې تعارف یې په لاندې ډول دی:

(۱) ـ نړیوال وجهي صندوق IMF جوړول.

نړیوال وجهي صندوق یوه داسې مؤسسه ده چې د نړۍ د هیوادونو ترمنځ د همکارۍ یو سازمان ګڼل کېږي یا په بل تعبیر د هیوادونو ترمنځ نړیوال پولي سیستم بلل کېږي، دا په حقیقت کې د نړۍ مرکزي بانک دی چې ضرورت مندو هیوادونو ته تر سختو او نرمو شرایطو لاندې ۳- نه تر۵ کلو پورونه ورکوي

(۲) ـ نړیوال بانک (World Bank)

نړیوال بانک هغه نړیواله اداره یا سازمان بلل کېږي چې د پرمختلونکو هیوادونو سره د ۱۵- ۳۰ کلونو پورې د یو لړ خاص شرایطو لاندې د پورونو مرستې کوي، د یادونې وړ ده چې پورونه یا مرستې د قرض په ډول ورکوي او ډېرې کمې بېله عوض څخه ورکوي همدا راز یاد سازمان پخپله د نړۍ په هیوادونو کې تر خپل څار لاندې ځینې پروژې هم پرمخ بیایي، په ۱۹۴۴ ز کال کې رامنځته شوی دی او مرکزي دفتر یې د امریکا په (واشنګټن ډي سي) کې دی او مشر یې د تل لپاره امریکایي تبع کس وي او هر چې نړیوال وجهي صندوق دی د هغه مشر د اروپایانو څخه یو تن غوره کېږي.

(۳) د سوداګرۍ نړیوال سازمان (W,T,O)

د دې سازمان د رامنځ ته کېدو موخه د نړیوال وجهي صندوق (I,M,F) او نړیوال بانک په مرسته د نړیوالې سوداګرۍ د نظام لپاره له قانوني پلوه کاري چوکاټ رامنځ ته کول دي.

دریم ګام: د نړیوالو سازمانونو جوړول او د نړیوالو هوکړو کول:

د نړیوالې واکمنۍ محور یواځې مالي او سوداګریزې چارې نیول ندي بلکې ریښې یې د ژوندانه تر خورا مهمو سیاسي، اقتصادي، پوځي، علمي او اجتماعي همکاریو بنسټونو هم غځول شوي دي، چې په یو وخت کې په مختلفو برخو کې د مختلفو مقاصدو لپاره کارونه کوي او تر ډېره امریکا او یهودان یې له جوړښت څخه مهمې لاسته راوړنې لري.

په ځانګړې توګه ۲۰مه پېړۍ کې چې کله د نړيوالو سازمانونو جوړولو پروسې سرعت ونيو، په ترڅ کې يې ګڼ نړيوال او سيميز سازمانونه رامنځ ته کړای شول

هو! ټول نړيوال سازمانونه او اداري خاص اهداف لري اوهم د هغو خاصو وظايفو په اړه مسؤوليتونه پرمخ وړي چې هم هغو ته په کتلو ورته نومونه د وظايفو سره برابر اېښودل شوي دي.

نړيوال سازمانونه په حقيقت کې يو ډول ځېلواک قانوني ارګانونه دي کوم چې د نړيوال قانون، نړيوالې محکمې د اصولو او نظارت لاندې منځ ته راغلي او راځي نو په دې اساس نړيوال سازمانونو د يو نړيوال طاقت بڼه مونډلې ده، د کومو ځار چې د امريکا او يهودانو لخوا دوامدار کېږي.

دلته د بېلګې په توګه د څو هغو نړيوالو سازمانونو نومونه راوړو چې مشهور او مهم دي، تاسو وګورئ! چې په نړۍ کې د دې سازمانونو کردار څه دی؟ او د چا لخوا يې کنترول او نظارت کېږي؟ او څوک يې د خپلو مقاصدو او موخو لپاره د آلې په حيث استعمالوي؟

د نړيوالې واکمنۍ نړيوال سازمانونه:

۱ـ د هوا پيژندنې نړيوال سازمان

۲ـ د سياحت نړيوال سازمان

۳ـ د بشري حقوقو د ځار نړيوال سازمان

۴ـ د مهاجرت نړيوال سازمان

۵ـ د ملګرو پوهنتون

۶ـ د ملګرو ملتونو علمي اوفرهنګي مرکز

۷ـ د ملګرو ملتونو د مهاجرينو عالي کمېشنري

۸ـ د خوړو نړيوال پروګرام

۹ـ د مخدره توکود مخنيوي لپاره د ملګرو ملتونو دفتر

۱۰ـ نړيواله محکمه

۱۱ـ د کوچنيانو د خيال ساتنې سازمان

۱۲ـ د روغتيا نړيوال سازمان

۱۳ـ د کارګرانو نړيوال سازمان

۱۴ـ د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان

۱۵ـ د خوراکي توکو او کرهنې نړيوال سازمان

۱۶ـ د پيسو نړيوال وجهي صندوق

۱۸ـ د کرهنې د پراخيتا نړيوال سازمان

۱۹ـ د بېړيو چلونې نړيوال سازمان

۲۰ـ د پوستې نړيوال سازمان

۲۱ـ د مخابراتو نړيوال سازمان

۲۲ـ د معنوي مالکيت نړيوال سازمان

۲۳ـ د بېښنې نړيوال سازمان

۲۴ـ د ناټو پوځي تړون

۲۵ـ د حيواناتو د صحت نړيوال سازمان

۲۶ـ د ګمرکونو نړيوال سازمان

۲۷ـ اروپا کې د امنيت او همکاريو سازمان

۲۸ـ د وسلو د مخنيوي سازمان

۲۹ـ نړيوال بانک

۳۰ـ د کيمياوي وسلو د مخنيوي سازمان

پر دې سازمانونو سربېره ځينې سيميز سازمانونه هم شته چې د نړيوالې واکمنۍ د پلي کولو لپاره په هڅو او کارونو بوخت دي لکه:

۱ـ عرب ليګ ۲ـ اروپايي اتحاديه ۳ـ افريقايي اتحاديه ۴ـ شانګهای د همکاريو سازمان ۵ـ د خليج د همکاريو سازمان، ۶ـ د اسيا د همکاريو ډيالاک ۷ـ د اسلامي هيوادونو کانفرانس او نور...

دا سيميز سازمانونه هم حقيقت کې د نړيوال نظام برخه او د نړيوالو سازمانونو معاونين دي او سيميز همکاران يې دي، چې دلته يې په اړه زيات بحث خبره طولاني کوي.

راځو بېرته د سر خبرې ته چې د نړیوال نظام یا د نړیوالې واکمنۍ علمبرداران د یادو سازمانونو له لارې په توله نړۍ کې د خپلو اهدافو او موخو لپاره کار کوي

د نړیوالې سوداګرۍ په اړه به عرض وکړو چې امریکا او یهودانو د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو په مرسته داسې ګڼ شمیر هوکړې کړي دي چې په سبب یې د نړیوالې ازادي سوداګرۍ بنسټ رامنځته کړی دی، د ازادې نړیوالې سوداګرۍ نه مطلب دا دی چې د ټولو هیوادونو د منډیو او بازارونو دروازې به د ټولې نړۍ د سوداګرۍ په وړاندې خلاصې وي، د نړۍ یو حکومت هم واک نلري چې هغه پخپل هیواد کې په کومه یوه بهرنۍ کمپنۍ باندې بندیزونه ولګوي، په دې لړکې د ۱۹۴۷ زکال ترون یا هوکړه لیک زیات اهمیت لري چې په بنسټ یې: د مصنوعاتو په لړ کې کیدونکې سیالۍ به د حکومتونو ترمنځ نه بلکې د مختلفو کمپنیو ترمنځ روانه وي.

څلورم ګام: د ملټي نیشنل کمپنیو جال غوړول:

څو کوچنۍ کمپنۍ سره یوځای کول او یا یې په یو بل کې ضم کولو سره یوه لویه ملټي نیشنل کمپنۍ رامنځ ته کېږي د هغوی مالکان په سوداګرۍ کې له یو بل سره شریکان ګرځي، دیته ملټي نیشنل کمپنۍ ویل کېږي

د داسې کمپنیو په رامنځ ته کیدو سره سیمیز مصنوعات له منځه ځي او بازار یې سرېږي، پر ځای یې بهرنیو توکو بازارونه تودېږي او په توله نړۍ کې خوریږي اوس مهال د څو هیوادونو ملټي نیشنل کمپنۍ په توله نړۍ کې خورې شوي دي:

د نړیوال اقتصاد اثرات او خطرات:

د نړیوال اقتصاد په وجه:

۱ـ په توله نړۍ کې د کوچنیو کمپنیو، ورو صنعتونو او کوچنیو سوداګرو شاوخوا حلقه تنګه کړای شوې ده

۲ـ د بیکارۍ په تناسب کې تر خطرناک حده زیاتوالی راغلی دی

۳ـ د نویو صنعت کارو په مخ د ترقۍ ټولې دروازې تړل شوې دي

۴ـ په راتلونکي کې به یو ځیز یواځې یوه کمپنۍ جوړوي او هغه به د خپلې خوښې په بیه پلوري

۵ـ د ټولې نړۍ ټوله پانګه د څو تنو لاس ته لویدلې ده.

۶ـ یواځې د امریکا یهودي پانګوال د سود له لارې د ټولې نړۍ ګټه وټه خوري.

دریم ګام: نړیوال کلتوري ډګر:

د نړیوالې واکمنۍ لپاره د هڅو او کوښښونو دریم ډګر کلتوري، ثقافتي او تهذیبي دی، د کلتوري یا ثقافتي ټکر د رامنځته کیدو له ډاره د کلتورونو او تهذیبونو ترمنځ مذاکرات او خبرې پیلول غواړي خو له دې نه یې اصل مقصد د اسلام په ګډون نړۍ څخه د ټولو تهذیبونو له منځه وړل او پر ځای یې یواځې امریکایي تهذیب او کلتور مسلط کول دي، په دې کلتوري او تهذیبي یرغل کې امریکایي لباس ته د ترقۍ د زینې درجه ورکړای شوې ده، په ورته توګه امریکائي خواړه او مشروبات یې په توله نړۍ کې عام کړي دي، میرمنې په امریکایي فیشن او امریکائي رنګ ښکلا منلو پسې لالهانده دي انټرنیټ چې د نړیوال کلتور او تهذیب تر ټولو اهمه وسیله دی، د جنسي بې لارۍ او فحاشۍ خورولو ته له حده بیرون اهمیت ورکوي او په خاصه توګه خواله رسنۍ یې یوه مؤثره او قوي ذریعه ده.

نړیوال کلتور او تهذیب ته د ودې ورکولو لپاره امریکائي انګریزۍ ته په نړیواله توګه اهمیت ورکول کېږي او په مقابل کې یې د عربي په ګډون د سیمیزو او ځایي ملي ژبو د پرېښودو سازشونه هم روان ساتلي دي اوس مهال په نړۍ کې نیمې سیمیزې ژبې د زوال سره مخ دي او د ۲۳۴ معاصرې ژبې خو یو مخ ورکې شوي دي.

څلورم ګام: ټولنیز ډګر:

د نړیوالې واکمنۍ پلې کولو لپاره د روانو کوښښونو یو مهم دګرد ټولنیز ژوندانه دګر دی، امریکا غواړي په توله نړۍ کې امریکائي ټولنیز ژوند ته ورته ټولنیز ژوند رامنځ ته کړي

ددې بدلون راوستو لپاره د کورنۍ بـدلون اړیـن دی، او د کورنۍ بدلون تر ټولو اسانه ښکار میرمن ده، چې د هغـې پـه استعمالولو سره لـومړی د کـورنۍ او بیـا د ټـولنې د اخلاقـي ارزښتونو بدلولو کوښښونه يې روان کړي دي

نړیوال ټولنیز ژوند او ملګري ملتونه!

نړیوال ټولنیز ژوند ته د ودې ورکولو لپاره ملګري ملتونـو نړیـوالې ټـولنې او د هغـې لانـدې ادارو همـدا راز نړیوالـو کانفرانسونو ډیر لوی کـردار اداء کـړی دی د ملګـرو ملتونـو د منشور په ۸مه ماده کې په صراحت سره راغلي دي چې نړیواله ټولنه به داسې بندیزونه هیڅکله نه لګوي چې د هغو په وجـه د نارینـه او میرمنـې تـرمنځ د مســاوات کـوم یـو اړخ مـتــاثر کیـدای شي.

په ۱۹۷۹ زکې د ملګرو ملتونو جنرل اسمبلۍ د میرمنـې پر خلاف د امتیازي سلوک پخلاف یو کانفرانس وکړاو د ټـولنې نرۍ څخه يې ملاتړ ترلاسه کړ.

د قاهرې کانفرانس:

په ۱۹۹۴ زکې ستمبر میاشـت کـې د مصرـ پـه پلازمینـه قاهره کې د نفوسو د شمیر او ترقۍ په موضوع بانـدې نړیـوال کانفرانس جوړشوی و، په هغه کې پـردې اتفـاق و شـو چـې جنسیت عمل د نکاح څخه پرته پکار دی او جنس پرستۍ تـه په بد نظر کتلو پر ځای دې ورته وده ورکړل شي، ژر واده کـول غلط کـار دی، ځکـه دا د زیـږون سـلنه کـې د زیـاتوالي لامـل کیږي.

بکین کانفرانس:

په ۱۹۹۵ زکې بکین کې د میرمنو په اړه د ملګرو ملتونـو لخوا څلورم کانفرانس وشو په هغه کې هم دا ومنل شـوه چـې د کم عمره نجونو او کم عمره هلکانو تـه دې د جنـسي ازادۍ ورکولـو سپارښـتنه وکـړای شي د کـورنۍ دا مفهـوم دې رایـج کړای شي چې «یوه کورنۍ د دوه انسانانو په یوځای کیدو سره جوړیږي که هغه دوه سړي وي یا دوه میرمنې» د کورنۍ کار په نـه کولـو سره دې میـــرمنو تـه داد ورکـــړای او پـه اړه دې د اسلامي هیوادونـو لخـوا کیـدونکې احتجاج یـو مـخ لـه پامـه وغورځولی شي.

د نړیوال نظام مقابله څنګه؟

= د مغـربي او لادینـي کلتـور د اثـر څخـه د میرمنـو او ماشومانو د ژغورلو کوښښ کول

= په میډیا بانـدې د دې لپاره فشار زیاتول چې هغه د غیـر اخلاقي موادو له خپرولو څخه ډډه وکړي

= د مغربي ژبو په مقابل کې عربي او خپلو مـلي ژبـو تـه وده او ترقي ورکول

= د بهرنیو ژبو په خاصه توګه د انګریزي د زده کړې دایره محدودول او د ضرورت پرته يې نه استعمال، همـدا راز خپلـې ملي ژبې د پردیو د اغیزڅخه ژغورل

= له مغربي مصنوعاتو سره پریکون کول

= مسلمانانو لپاره د وطني، ژبني، جغرافیـایي اوسـیمیزو بېلتونو څخه راوتل او متحد کیدل.

= د اسلامي شریعت د نفاذ او اسلامي امت د اتحاد لپاره کوښښونه کول

= د اســلامي ســیاسي نظریــې عــامول او پــه تعلیمــي نصابونو کې ورته ځای ورکول

= د جهادي نظریې عامول او د عمـلي تـدریب لپـاره يـې اسانتیاوې برابرول

= د اسلامي اقتصاد د ودې لپاره عملي ګامونه پورته کول

= د مسلمانانو لخوا سوداګرۍ ته پاملرنه کول خصوصاً په نړیواله سوداګرۍ کې د مسلمانانو ونډه ډیرول

= په نړیواله سـوداګرۍ کـې مسـلمانانو سـوداګرو تـه د اسلامي شریعت د احکامو د پابندۍ تلقین کول

= د مسلمانانو یتیمان او بې وزلان د غربي تنصیري ادارو د مرستو څخه ژغورل او د هغو پـه ځـای د مسـلمانانو شـتمن ورسره مرستو کولو ته هڅول

= پـه ټولـه نـړۍ کـې د مسـلمانانو تـرمنځ د اخـوت او همدردۍ روحیې تقویه کول او غوړول

نوربیا...

یو څو ټکي، د ترکیې پر غونډه!!

صارم

د تعریف له لحاظ سره یې اویا یې له لحاظ پرته سیاست رښتیا هم لوبه ده، له تېرو د یرشو کلونو راهیسې د نړۍ بېلا بېلو قضایاوو ته په کتو خو بیخي راته کره ثابته شوې چې لوبه ده او لوبغاړي یې تل خپل هدف ته درسېدو په غرض لوبوي. خو له مسلمانانو سره په دغه لوبه کې تل غالې اوغداري شوې او هیڅکله یې هم دریمګړي غږ نه دی اورېدلی، دفلسطین، کشمیر، سوډان، عراق، لیبیا، شام، برما... اونورو هیوادونو تنازعې یې ښکاره ثبوتونه دي

په دې کې هم شک نشته چې افغانستان هم د تېرو الو لوبو قربانې هیواد دی اود نړیوالو زبرځواکونو داهدافو د ترسره کېدو او یا نه ترسره کېدو سزا ګالي. زمونږ د قضیې د اوږدېدو علت دویم ټکی دی په نورو هیوادو کې دوی خپل شوم پلانونه له بېلا بېلو لارو ترسره کوي، له جعل، تزویر او مادیاتو کار اخلي، خو که له دې ټولو سره سره یې بیا هم ونه منې او د دوی دغوښتنو له منلو انکار وکړې، نو زور ورته رامخته کوي او د وچې بدماشۍ خط ورته کش کړي، چې په دې صورت کې یې بیا په وړاندې یې ځوابه کیږي او ړومبني دوه صورته بیا په خپله انتخابوي او...

افغانستان د دریمې نړۍ یواځینی هغه هیواد دی چې دزور په وړاندې هم له خپل هدف او استقلاله تېر نه شو هماغه و چې له خپل ټول زور او ځواک سره یې په دې کمزوري هیواد نظامي یرغل راووړ اودغې زور ازموینې یې دا دی شل کاله وخت ونیو چې بالاخره یې ماته په برخه او وتو ته مجبور شول، ځکه نو زمونږ قضیه له نورو بېله او د اوږدېدو علت یې هم همدا دی چې زور ته یې دزور او دغرې ځواب ویلی.

له امریکایانو سره د مذاکراتو له پیل او د دوحې تر ترون پورې دا سې معلومېده چې امریکایان رښتونې دیپلوماسي پرمخ وړي او ترسره کوونکو وعدو ته ژمن دي، ځکه په مذاکراتو کې یې له ډېر دقت کار اخیست او حتی په جزوي مسئله کې به یې هم خورا احتیاط کاوه چې ګام په ګام به عملي کېدل هم، خو د ترون د وروستۍ پرېکړې وخت ته په وررلنډېدو یې مسیر بدل او ژمنتیا ماتول څرګند شول (دا چې دا به د دوی مجبوریت و، که کیر اولویې؟ جلا بحث دی)

خو ډېر ژر ژر د ماسکو او ترکیې کانفرانسونه رامخته شول، په دې ډول له روان کامیاب سیاسي حل پام په بله شو او ټول تمرکز د ترکیې په کنفرانس شو چې تر ډېره مبهم او د نتایجو له رویه یې هیڅ ښکاره نه و چې څه به ترې جوړېږي همدا لامل وچې په اړه یې دغه لاندې پوښتنې هم راپورته شوې:

ولې د دوحې تړون نه ! د ترکیې کانفرانس؟!!

د ترکیې کانفرانس چا جوړ کړی او د چا لپاره چې جوړ شوی څومره پکې پوښتل شوي؟

د ترکیې کانفرانس اجنډا له متخاصمو او مؤثرو جهتونو سره شریکه شوې؟

د دوحې کانفرانس په نږدې دوه کلونو کې تیار شو او د ترکیې کانفرانس په دوه اونیو کې؟

چې تر وضاحت پکې ابهام ډېر دی نو مؤثریت یې په څه کې دی؟

د ډېرو نورو غونډو په خلاف دې کانفرانس ته مطبوعاتي پراخ کمپاین د څه لپاره؟

دا پوښتنې په خپله د ترکیې د غونډې نیمګړتیاوې او موخې څرګندوي او ښکاري چې امریکا او متحدینو یې په افغانستان کې د وضعیت او حقایقو له اوږدې پېژندګلوۍ سره سره یو وار بیا هغه لوبه روانه کړه چې شاید دوی ته یې دنړۍ په نورو برخو کې کار ورکړی وي او ډېر یې تېر ایستلي وي

خو دلته دغه چالاکي کار نه ورکوي ځکه تر دې په خو برابره پهور پورته او له وروستۍ حربې (نظامي قوت) نه کار اخیستل شوی همدا علت دی چې مقابل جهت (مجاهدین) یې د هر غلط قدم په وړاندې درېږي او په زغرده ورته ځواب وایي هیڅ وېره، هراس او پروایې هم نه وي، د ترکیې دغونډې منحلېدل یا تأخیر یې ثبوت دی

د ترکیې کانفرانس په اړه راولاړې پوښتنې او اندېښنې د دې کانفرانس هغه پټې موخې ښې راښکاره کوي چې امریکا یې له دې لارې عملي کول غوښتل، تر ډېره داسې معلومېده چې له دغه نازک وخت نه په استفاده ترې دفشار په توګه کار واخیستل شي او اسلامي امارت د هغه څه منلو ته اړ کړای شي چې د دوحې تړون په نقض تمامېږي امریکایي عسکروته د وخت تمدید، د اسلامي امارت په وړاندې داشخاصو او احزابو پاړسوب، کابل اداري ته لازیات مشروعیت ورکول او بالاخره هغه اهداف له یوې سیاسي لوبې ترلاسه کول چې مخامخ یې د نظامي اشغال په مټ ترسره نه کړای شول او ډېرې نورې ورته موخې وې چې دفشار په نتیجه کې پرې ومنل شي.

په رسنیو کې دلیکوالو او ځینو شنونکو له تبصرو داسې انګېرل کېده چې امریکا پلان جوړ او نیته وټاکله اوس نو که کیږي او که نه کیږي طالبان هم مجبور دي مخامخا به ګډون پکې کوي او لکه د کابل اداره او ځینې احزاب دوی هم د امریکا په لاس کې دي څه چې امریکایان غواړي هغسې به کیږي سره له دې چې امریکایان دې خبرو ته راوستل او مجبورول هم د دوی په قربانیو شوي.

په یوه داسې زماني مقطع کې چې امریکا او ناټو له افغانستانه په وتو دي، د دغسې کانفرانسونو جوړول هغه هم په داسې شان چې افغانان پکې نه پوښتل کیږي او د قضیې د حل او پرېکړو تصمیم دې هم د دوی په لاس کې نه وي، له شک پرته چې د نورو مداخلې ته په یو ډول لاره هوارول دي

د دې لپاره چې یوه نړیواله اجماع او محض ناسته د نړیوالو په وړاندې مطلقاً نه وي رد شوې او دغه راز دغسې ناستې مثبتې نتیجې هم ولري، نو که مقصود پکې د قضیې حل وي ښه به داوي چې دغه ډول ناستې په داسې ډول ترتیب شي چې افغانان او مؤثر جهتونه پکې کلیدي رول ولري، تصمیم پکې هغوی په خپله ونیسي، د دې لپاره په کار ده چې اسلامي امارت په دغسې کانفرانسونو کې ګډون په دغسې شرایطو مشروط کړي او که نه منل کیږي له نړیوالو سره د نه ګډون دلایل او لاملونه هم شریک او اعلان کړي

لیکوال: ابو اسامه "نیازی"

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت

او د راتلونکي اسلامي نظام مسؤلیت!

که څهٔ هم د نړۍ پهٔ کره کې خوا او شا دوه سوه هیوادونه شته چې هر یو خپل اقتصادي، سیاسي او سوق الجیشي ارزښت لري خو زمونږ ګران هیواد تر تولو زیات متفاوت او د لوړ ارزښت لرونکی بلل کیږي.

افغانستان چې د لرغوني او پخواني تاریخ لرونکی دی په لومړیو پېړیو کې د اریانا، په منځنیو پېړیو کې د خراسان او په معصره دوره کې د افغانستان په نوم یادیږي.

که څهٔ هم د مادي قوت، نفوس، قلمرو، د اقتصادي او سوداګریزو حوزو لهٔ امله د افغانستان ارزښت کم دی اما د هغهٔ سربېره د جغرافیوي، اقتصادي او سوق الجیشي موقعیت لهٔ امله د لویو دولتونو پهٔ سیاست کې غوځ رول درلودلی.

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیوي او تاریخي اهمیت لهٔ مخې پهٔ بېلا بېلو نومونو یادیږي لکه: ستراتیژیک پُل، د وریښمو د لارې وصلوونکی، د هند دروازه، د نړۍ بام، د اسلامي نړۍ ختیځه دروازه، د تمدونونو څلورلارې، د نړۍوالې سوداګرۍ لویه لاره، د اسیا زړهٔ او داسې نور..

افغانستان په سیمه کې د خپل ستراتیژیکي موقعیت لهٔ امله د سیمې د څلورلارې حیثیت لري چې د هند پاکستان، منځني ختیځ (ایران) منځنۍ اسیا ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او د چین د څلورلارې په منځ کې قرار لري افغانستان د منځنۍ اسیا څخه د سهیلي (جنوبي) اسیا ته د انرژۍ او نفتو د انتقال یوه مهمه لار ګڼل کیږي.

ګران هیواد نن ورځ هم د جیوایکونومیکي پلوه د مرکزي اسیا د دروازې حیثیت لري د بریتانوي هند پخواني

وايسراى (حاکم) " لارد کرزن" د افغانستان د اهميت په تړاو په ۱۸۹۸ م کال کې خپل نظريات داسې څرګند کړي وو چې: د دې تختې د شطرنج هر بريالى لوبغاړى پر نړۍ د حکومت مدعي کېدلاى شي. افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د مرکزي اسيا او هندوستان ترمنځ د يوې طبعي او مستحکمې کلا په توګه د "فاتحينو سنګر" پېژندل شوى او د خپل متنوع اهميت له امله د اسيا د سويس په نوم هم يادېږي. همدا ډول مشهور امريکايي کارپوه" برژنسکي "وايي چې: که هر څواک و غواړي د اروپا او اسيا په قلمرو مسلط وي بايد د افغانستان سره خپلو اړيکو ته وده ورکړي. زموږ ګران هيواد له سوق الجيشي ارزښت ور ها خوا پراخې غنې طبعي سرچينې لکه: ياقوت، زمرود، مرمر کرومېټ، سره زر، مس، ليتيم، يورانيم، ګاز د نفتو بيلابيل ډولونه او د سرشاره اوبو په لرلو د نړۍ په سترو او بډايه هيوادونو کې له بشپړ اهميت څخه برخورداره دى. افغانستان د نړۍ د شل سلنه نفتو، د نړۍ د اته سلنه ګازو او د ليتيمو پراخ او بې کچې شتون چې په اوسنۍ پرمختللې ټيکنالوژۍ کې عمده عنصر بلل کيږي د نړۍ د هيوادونو پاملرنه ځان ته جلب کړې چې دا زموږ بنسټ اقتصادي وضعيت په داګه کوي په لنډ ډول ويلاى شو چې د ختيځ او لويديځ منلي او مشهور سياستوال پدې په يوه خوله دي چې افغانستان په جغرافيايي اقتصادي او سوق الجيشي لحاظ ډېر د اهميت وړ دى.

له همدې امله د نړۍ د سترو هيوادونو د برغلونو په لومړۍ کرښه کې قرار لري. زما په باور تر ټولو ستر علت يې دا دى چې افغانستان د خپلو ملي ګټو د تأمين لپاره نه مدون خارجي سياست لري؛ نه د خارجي سياست د پلي کېدو لپاره منظمه فعاله ډيپلوماسي لري او نه هم د فعالې ډيپلوماسۍ لپاره په معيارونو برابر اشخاص ګمارل شوي. نن چې د زياتو قربانيو له برکته د يو مستقل هيواد او ازاد ملت په توګه د دې باارزښته خاورې د ريښتينو وارثانو په توګه بيا د حاکميت پراوونه يو په بل پسې طي کوو او د يو

ريښتيني اسلامي نظام د قيام ورځې په رارسېدو دي؛ لويه پوښتنه دا ده چې پدې حساس پړاو کې زموږ مسؤليتونه څه دي او څنګه بايد تر سره شي؟

زما په اند د افغانستان د اسلامي امارت مدبر قيادت مکلفيت او مسؤليت لري چې د اسلامي شريعت د بنيادونو په اډانه کې لومړى بايد د مُدون داخلي سياست ترڅنګ خپل مدون خارجي سياست (تګلاره) ترتيب او تصويب کړي او بيا د همدې خارجي سياست د بنسټ تطبق لپاره د يوې فعالې ډيپلوماسۍ ايجاد يقيني کړي او د ډيپلوماسۍ په دستګاه کې هغه وړ اشخاص وګماري چې په اړوند برخه کې د تيوريکو (درسي) زده کړو او نورو مهارتونو او ځانګړتياوو ترڅنګ د جرئت او کاري ورتيا خاوندان وي ترڅو وکولاى شي چې د وياړلي او باعظمته افغانستان له حيثيت، معنويت او ارزښت څخه سم استازيتوب وکړي...

هېواد کې پر ولس ستر وحشت
او د نړۍ دردونکې چوپتیا

د محترمو تولو لوستوالو په علم کې به وي چې د اشغالگرو ځواکونو په ملاتړ د کابل گوډاگي اداري له لوري په دا وروستيو کې د مظلومو هېوادوالو پر ضد په وحشت کې ډېر زياتوالى راغلى دى.

د معتمدو رسنيو له لوري د ورکړل شويو راپورونو په اساس په تېرو کابو ځلورو اونيو کې د مسلسلو جنگي جناياتو په دوام په ټول هېواد کې په ملکي خلکو ۱۰۷ لوى او واړه بريدونه او بمبارونه ترسره شوي دي چې له امله يې د ښځو، ماشومانو، سپين ږيرو او علماؤ په گډون زمور ۱۳۵ تنه هيوادوال شهيدان او ۱۲۷ تنه نور ټپيان شويدي.

د معلوماتو په اساس په دغو ۱۰۷ بريدونو کې چې په عامو خلکو شوي له ۷۰ زيات ځوانان له جېلو کورونو را ايستل شوي او زندانونو ته اچول شوي دي.

همدا راز په دغو بمبارونو، توغندويزو بريدونو او انفجارونو کې د ملکي خلکو ۲۳۰ کورونه او دوکانونه ۴ جوماتونه او يو کلينيک، نريدلي او د عامو خلکو ۲۱ عراده جات هم له منځه وړل شوي دي.

ورسره له گڼو کورونو څخه د خلکو قيمتي توکي، د ژوند اسباب او لوازم لوټ شوي او گڼ خلک وهل شوي او ډبول شوي دي.

او دا څه يوه ورځ نده بلکې هره دوهمه يا دريمه ورځ پس په چاپو او وحشي بمباريو کې په لسگونو بې گناه خلک وژل کېږي.

د خواله رسنيو په شتون کې چې د ولسي۔وگړو ددې روان قتل عام زياتره پېښې پټېداى نه شي نو په اړه يې مجبوراً کورنۍ او نړيوالې رسنۍ، خبرونه او راپورونه خپروي چې له همدې لارې نړۍ ددې روان حالت نه خبرېږي خو متاسفانه چې د مظلوم ولس پرضد دې روان وحشت باندې ټوله مهذبه نړۍ چوپه خوله ده او پدې اړه نه د نړيوالې ټولنې او نه هم د نړيوالو مسئولو ادارو له لوري کوم مناسب عکس العمل رامخې ته کېږي حال دا چې د بهرنيو ځواکونو په مرسته د کابل اداري له لوري د ولس پر ضد د وحشت رامنځته شوې ټولې پېښې مستندې دي ځکه چې د هرې پېښې نه پس پخپله د هماغه سيمې خلک مظاهرې کوي؛ د شهيدانو جسدونه لويو سرکونو او يا نږدې بازارونو ته را وباسي؛ لاريون کونکي چې د رسنيو سره غږېږي يا يې په خواله رسنيو کې ويډيوگانې خپرېږي ښه په روښانه ټکو ښکې د گوډاگيو ځواکونو د حملو او وحشت قصې کوي او په جهر وايې چې نړۍ دې راشي ودې گوري چې دا طالبان دي که کوچنيان، مېرمنې، بوډاگان، د مدرسې، مکتب او پوهنتون زده کونکي؟

چې د سیمې ټول خلک وواېي چې ټول وژل شوي ملکي وګړي دي؛ جسدونه یې هم سرکونو او بازارونو ته راوباسي او کورنیو او بهرنیو رسنیو ته دعوت هم ورکړي چې راشئ پخپله یې مشاهده کړئ! نو ددې نه به مستنده خبره بله څه وي؟

اوس خو د هېواد د داخلي چینلونو له لورې په جوړو شویو ګردو مېزونو کې ټول بې طرفه شنونکي تر بل هر وخت دولت ته زیات غصه دي؛ پرې سخت انتقادونه کوي او ښه په جهر ټول وايي چې پدې عملیاتو او بمباریو کې ټول په ټوله ملکي خلک: بوډاګان، کوچنیان، ښځې، د مدرسې، پوهنتون، او مکتب زده کونکي ځوانان او استاذان وژل کېږي.

کورونــــــه، جوماتونــــــه، مکتبونــه، بازارونــه، مدرســې، کلینیکونــــه او حتـــی خیریــــه موسســــات لــــه بمبـــار کېـــږي سوځول کېږي او له منځه ځي.

د کابل رژیم اوس په کلي ډول ارځ ته شوی او لـه مرګاني انروا او تجرید سره مخ دی.

اوس د ټـولې نـړۍ توجـه اســـلامي امــــارت تــــه ده او د امریکایانو پـه شـمول هـیڅ یـو هېواد د کابل رژیم طرحو او

خبرو ته غوږ نه نیسي، او غوږ نیول ورته د وخت ضیاع بولي.

نه کابل ته د بهرنیانو ګرم ګرم سفرونه شته، نه په خارج کې د افغانستان د رواني جګړې د تودوالي او پراخېدو لپاره هغه بیلابېل کنفرانسونه شته چې اشرف غني او ډاکټر عبدالله به ورتلل او ځو ځو میاشتې به یې د هغو ناستو په لاسته راوړنو شخوندونه وهل او نه هم د امریکا او ناټو د غړیو هیوادونو د نورو تازه دمو عسکرو د لېږلو وعدې شته بلکې امریکا خپلو ټولو ځواکونو د ویستلو لپاره نېټې ټاکي او د ناټو نور غړي هېوادونه هم اعلانونه کوي چې ژنګه افغانستان ته یوځای تللي وو داسې به ترې یوځای راووځو!

غلامې اداري ته چې د اسلامي امارت د سیاسي او عسکري پرمختګونه د زغم وړ ندي او ترخنګ یې د طالبانو د تندریزو بریدونو په مقابله کې د دفاع توان هم په کلي ډول له لاسه ورکړی نو د خپل شکست غچ له افغان ولس نه اخلي او د شپو په چاپو او بمباریو کې یې د کوچني، لوی، نر ښځې، ځوان او بوډا د امتیاز پرته په ډېرې بې دردۍ وژني او بیا اعلان کوي چې دومره طالبان مو ووژل حال دا چې ددوئ د هرې شپې ترسره شویو عملیاتو نه پس خلک په سبا ددوئ پر ضد مظاهرې کوي او د مړو جنازې هم سرکونو او بازارونو ته راوباسي خو دوئ پرې هیڅ غوږ نه ګروي او په ځینو مواردو کې ایله همدومره وایې چې څېړنې به وکړي.

بهرني ځواکونه او د کابل اداره به زموږ ولس څکه وژني چې ورنه سخته کرکه لري؛ پرې شپه او ورځ بد وايي او په مقابل کې یې د اسلامي امارت نه کلک حمایت کوي.

خو عجیبه دا ده چې د غربي نړۍ هغه ولسونه چې ځان د بشر د حقوقو د دفاع اتلان بولي او په خپلو هېوادونو کې د ولس پرضد د دولت د یو کوچني اقدام په رامنځته کېدو نړۍ په سر راخلي دلته پدې ستر وحشت نه یواځې دا چې چپه خوله دي بلکې د مالي او سیاسي تائید له امله پدې روان وحشت کې من وجهٍ شریک هم دي.

د لویدیځ د شرم نه ډکې چوپتیا نه زیاته د تأسف وړ د ملګرو ملتونو چوپتیا ده.

د ملګرو ملتونو اداري د امنیت شورا په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او نورو بشري سرغړونو د څارنې په غرض د (یوناما) دفتر پرانیست، که څه هم دغه دفتر وخت په وخت د ملکي تلفاتو په اړه یو نیم غږ پورته کوي؛ راپورونه یې هم خپرېږي خو متأسفانه چې د ملګرو ملتونو دغه راپوررونو کې بې طرفي په پام کې نه نیول کېږي، نو څکه دا راپوررونه تش راپوررونه وي هیڅ نتیجه پرې نه مرتبه کېږي؛ نه د ملکي تلفاتو مخنیوي ته

پاملرنه شوي او نه هم پدې اړه کوم عملي قدم پورته شوی چې دا د افغان مظلوم ولس سره د نړۍ ډېره ستره جفا ده.

د نړۍ ټول ویښ فکري مسلمانان پدې نظر دي چې امریکا او نور لویدیځ مسلمانانو ته د انسانانو په نظر نه ګوري.

د انساني حقوقو د ساتنې او بشردوستۍ خبرې او قوانین د مسلمانانو لپاره ندي او نه یې هم په اسلامي نړۍ کې تطبیق مطلوب دی بلکې دا د غرب لپاره دي او په غرب کې تطبیقېږي.

مونږ چې په افغانستان کې د غاصبو غربي ځواکونو او د دوئ د ګوډاګیو ملېشو په لاس په تېرو ۲۰ کلونو کې د بې ګناه مظلومو مسلمانانو قتل عام او پر دې ټول قتل عام او وحشت د غربي دولتونو او ادارو چوپتیا ته وګورو نو دا فکر سل په سلو کې سم دی چې مسلمانانو ته دوئ د انسانانو په نظر نه ګوري.

ټول افغان ولس وایي چې ملکي تلفات د بمباریو، شپنیو عملیاتو او د توپونو د ړندو انداختونو په اثر رامنځته کېږي چې شپني عملیات، ړانده بمبارونه او د توپونو انداختونه ټول ګډو ځواکونو یاني بهرنو او ګوډاګیو عسکرو کړي یا د امریکایانو په مرسته د کابل اداري عسکرو کړي، خو د (یوناما) د هرې ربعې، دوو ربعو او پوره کال راپورونو کې نه بهرني ځواکونه او نه هم د کابل اداري عسکر په ګوته کېږي؛ یوناما د خپل هر راپور په جوړولو کې اشغالګرې قواوې او د کابل اداره له پامه غورځوي؛ په ډېرې کمې فیصدۍ کې یې راولي او داسې ښکاره کوي لکه چې ډېر ملکي تلفات د طالبانو په بریدونو کې رامنځته کېږي حال دا چې طالبان نه په کلو بمبار کوي، نه شپنۍ چاپې وهي او نه هم په کلو توپونه وروي.

لرې به نه ځو اسلامي امارت چې د کله نه د الفتح عملیات اعلان کړي ځوک دې وښایي چې ددوئ له لورې یو ملکي وګړی وژل شوی وي او یا ددوئ په اړه د ولس له لورې د افغانستان په کوم ګوټ کې شکایت شوی وي حال دا چې د اشغالګرو او ګوډاګي اداري پرضد هره ورځ د ولسي وګړو له لورې مظاهرې کېږي.

د کابل اداري په پلوۍ کې د تبلیغاتو لپاره روزل شوي وجدان پلورونکي وي او که د دواخان مینه پال په څېر سپین سترګي ویاندان وي یو خو دې یو کوچنی داسې ثبوت وړاندې کړي چې د کومې سیمې خلک پر مجاهدینو د ولسي وګړو د وژلو ادعا لري او پر ضد یې اواز پورته کړی وي!

امریکا چې هیڅ یوې نړیوالې ادارې ته اجازه نه ورکوي چې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د جنګي جرمونو په اړه څېړنې وکړي نو ویلی شو چې د ملکي تلفاتو په محتویو کې د (یوناما) راپورونه هم د همداسې یوه فشار په نتیجه کې تیارېږي چې دا ډېر د افسوس مقام دی. رښتیا دا ده چې امریکا د خپلې زورواکۍ، د تسلط له لارې د ملګرو ملتونو او په ځانګړي ډول د امنیت شورۍ حیثیت او د بې طرفۍ دعوې د جدي پوښتنې لاندې راوستې دي.

د ملګرو ملتونو اداره که رښتیا هم ازادي لري نو باید نور د امریکا له فشارونو نه ځان راوباسي.

د امنیت د شورا پرېکړې که رښتیا هم د امریکا په حکم نه وي نو په افغانستان کې دې د ولسي وګړو د قتل مسئله جدي ونیسي؛ د ملکي تلفاتو د محتویو لپاره دې جدي ګامونه پورته کړي؛ خپل مسؤلیت دې په مسؤلانه ډول ترسره کړي او په افغانستان کې دې یې عاملین په ګوته او مجازات کړي.

د افغانستان مظلوم ولس له ټولې مهذبې نړۍ نه غواړي چې ددې وحشت پر ضد راپورته او په خپلو دولتونو فشار راولي ترڅو د افغانستان نه بې له قیدو شرط نه خپل ځواکونه وباسي؛ د ګوډاګي اداري د تائید نه لاس واخلي او افغانان پرېږدي چې خپلې پرېکړې پخپله وکړي.

سعد کتوازی

د بایډن او د هغه د ادارې د ماتې ...!

میاشت وړاندې د اشغالګرو اجرتي قاتلانو او د هغو خیره خورو عسکرو چې د غلامۍ سر یې د ملا تر تیره خوړند دی د خپلو اشغالګرو بادارانو پر ملتیا د خوست په صبریو ولسوالۍ کې څو ورځې پرلپسې څلور ځایه پر ولسي- اهدافو چاپې، هوان بریدونه او بیا بمبارۍ وکړې چې په ترڅ کې یې د بې ورسه او ناتوانه مېرمنو، تنکیو ماشومانو، لوړ پوړو ترهګر! تي رودونکو او د مور په خېټه کې اولاد پر ګډون۱۷تنه ولسي وګړي شهیدان او ګڼ نور ژوبل شول.

دا ډول پېښې په تېر۲۰ کاله او بیا د سولي روان دوه نیم کلن بهیر سره هم مهاله د هېواد په ګڼو سیمو او ولایتونو په ځانګړې پلازمېنه کابل، هلمند، کندهار، میدان وردګ، ننګرهار، کنړ، کندز، ارزګان، فاریاب او بدخشان کې د اشغالګرو، کورنیو مزدورو عسکرو- پولیسو- اربکیانو، ۰۱-۰۲-۰۳قطعو، داعشي ملېشو، تش پر نوم نامسئوله زورواکو، غلو مافیاوو او ضربتي ملېشو له لوري رامنځته شوې چې د خوست هغه یې نه لومړۍ وه او نه هم بنايي وروستۍ وي، خو بیاهم تر ټولو دردونکې او په مجاهد ولس او با احساسه ځوانانو غمېدونکې همدا وه، په خواله رسنیو کې طالبانو او طالب پلوو هم پرې تر بلې هرې پېښې زیاته خواشیني ښودلې او په خورا جوش او جذبه یې د دروند غچ غوښتنې او طالب وياند د نغد غچ اخیستلو ژمنې کړې وې چې بیا طالبانو د یادو ملېشو پر مشهور او مرکزي ځاله کمپاین باندې دوه ورځې پرلپسې توغندیز بریدونه وکړل او ورسره یې د کندهار هوايي ډګر هم د توغندیو پر مټ په نښه کړ.

دغه ملېشې له هغه وروسته چې څومیاشتې وړاندې د خوست کشف آمریت او ځانګړې قطعې باندې طالبانو سرتېري بریدونه وکړل او بیا د خوست اړوند زاړه میدان دروازه کې یې د یوسرتېري بریدګر په برید کې د څلورو امریکایي روزونکو په ګډون د یادو ملېشو ګڼ افراد له منځه یووړل، په خوست، پکتیا او پکتیکا کې یاد ځواکونه تر بل هر وخت وتکول شول چې وروستی وار یې له دې وحشت څو اونۍ وړاندې په صبریو ولسوالۍ کې د هغې ټولي خپل و چې پر طالبانو د چاپې هڅه یې کړې وه، خو طالبانو پرې وار مخکې او درنه مرګژوبله یې ور واړوله او اوس د دغو ملېشو له لوري د صبریو وحشت په ښکاره د همدغې ماتې غچ ښودل کېده.

د یادو ملېشو یوه ځانګړتیا له اشغالګرو مستقیمه روزنه، مرستې او تنخواوې ترلاسه کول دي، تلفات او مړي یې هم د اشغالګرو د هغو په څېر پټ ساتي او کورنیو ته نه ور کول کېږي، یو وخت چې ټرمپ د ځواکونو له ایستلو وروسته دلته د یو شمېر ملېشو پرېښودلو خبر ور کړی وه، د څېړونکو په اند همدا د خوست کمپاین/ضربتي ملېشې وې چې ټرمپ حساب پرې کاوه، په دې وروستیو کې هم رسنیو خبر ور کړی چې اشغالګرو یو شمېر ځواکونه دلته پټ ساتلي او ستانه کړي یې نه دي، بنايي رسنیو ښودلي دغه شمېر پټ شوي اشغالګر

ځواکونه د همدې کمپاین ملېشو په چوکاټ کې او د هغو ترمنځ وي.

له دې وړاندې هم هغه مهال چې د ځینې کورنیو ګوډاګیانو او امریکایي ویته زېږېدونکې بلیک واټر کمپنۍ ترمنځ د یو قرارداد هڅې افشا شوې؛ په تخار کې د یادو قطعو د شپنۍ چاپې یو ټولی طالبانو تر رسا برید لاندې نیولی او د بلیکواټر پوځي مهمات یې ترې ولجه کړي و چې ورسره د کابل ادارې د ۰۱- ۰۲- ۰۳قطعو په لیکو کې د بلیکواټر اجرتي قاتلانو شرک لګېدلی وه، اوس په داسې حال کې چې ویل کېږي د خوست ملېشو سره په کمپاین کې اشغالګر ځواکونه نه اوسي یاهم جلا استوګن دي، بیا هم یې له همغه ځایه د طالبانو د توغندیزو بریدونو په غبرګون کې شاوخوا غرونه پر توغندیو ویشتلي چې ښيي په کمپاین کې له ملیشو سره د اشغالګرو شتون ترڅنګ د طالبانو په یادو بریدونو کې تلفات هم ور اوښتي وي.

که د خوست له ضربتي ملېشو سره کمپاین کې یاهم ورسره ګډ د اشغالګرو د نه شتون خبر رښتیا هم شوي وي او بیا هم هماغه د طالبانو په توغندیزو بریدونو کې اشغالګرو تلفات ور اوښتي وي، دا خپله د رسنیو ور کړی خبر او د هغو له لوري په هېواد کې د اشغالګرو ځواکونو د پټ شتون ښوودلې اندېښنې پر ځای او دغه ادعا یې په اثبات رسوي.

له دې ور هاخوا که وکتل شي؛ د صبریو وحشت د دوحې تړون څخه د سرغړونې یوه تر ټولو بوږنونکې بېلګه ده چې د طالبانو له وسلوالو تحرکاتو پرته څو ورځې پرلپسې په تش لاسي ولس د دغو ملېشو چاپو، بریدونو او بمباریو دوام وکړ او پکې یې اشغالګرو ملتیا کوله، دا هم جوتوي چې یادې ملېشې نه یوازې دا چې په خپله ځاله کې ترمنځ پټ اشغالګر لري، بلکې د دوحې له تړون څخه په سرغړونو کې یې هم اشغالګر مستقیم مله دي او ښایي له همدې دوو لاملونو پر دغو ملېشو حساب هم کوي.

که په ضربتي ملېشو کې اشغالګر ځواکونه پټ او جذب شوي وي او له امله یې د ترمپ په تعقیب اوس بایډن هم حساب پر کوي، نو په داسې حال کې چې نوموړی د افغانستان او په ټوله کې د بهرنۍ پالیسۍ په اړه له سختو ننګونو سره مخ او په شش وپنج کې ښتی د خپلو اشغالګرو ځواکونو پر ملتیا د یادو ملېشو پر مټ د صبریو وحشت ترسره کول د هغوی د راتلونکې رول ازمایښت ترڅنګ دا هم ښايي چې د بایډن د نا اعلان کړې جنګي ستراتېژۍ پیل وي.

له بلې زاویې که وکتل شي خوست د طالبانو د یو تر ټولو ځواکمن قوماندان او د هغوی د مشر برحال مرستیال ملا سراج الدین حقاني اړوند کسانو د نفوذ سیمه ګڼله کېږي چې اشغالګر یې د امتیازي ځواك له امله د حقاني شبکې پر نوم ځانګړی ځواك او ډله یادوي، نو د صبریو وحشت چې اشغالګر او تر ټولو نږدې ملېشې یې پکې په مستقیم ډول ښکېلې دي د طالبانو د دغه قوماندان د ننګولو په مانا کېدای شي.

خو طالبان او په ځانګړې حقاني د ډېر لوړ زغم، پوهې او درایت څښتن او شرائطو ته هم ښه پېر متوجې دي، نو په داسې نزاکتونو او د حقاني په مشرۍ د افغاني او اسلامي تاریخ یو تر ټولو د پام وړ تعهد او تړون پر نقض ننګونې لکه چې ولیدل شول خپل تعهد او تړون ته د هغوی پر ژمنتیا کوم اغېز نشي-پرېباسلای او نه به هم په داسې شرائطو کې پر یادو ملېشو او ورکې جذب شویو اشغالګرو د راتلونکي رول ناکامه ازمایښه کومه پایله ور کړي، بلکې چې شته شرائط نه د دا ډول ننګونو او نه هم د دا ډول ازمایښو دي، یوازې د ناکامې پالیسۍ څپو اخیستي بایډن او د هغه د ادارې د ماتې پیغام یې ګڼلای شو.

حقاني او د هغه اړوند کسانو ته چې له تړون وړاندې ۱۸ کاله شرائط برابر ول، هغه کارنامې یې ترسره کړې چې خپله اشغالګر یې پرې د ځانګړي ځواك په توګه یوه تر ټولو ځواکمنه ډله پېژني، د تړون له رامنځته کړیو شرائطو په استفاده یې ځواك تر مخکې لا پیاوړی او غښتلی کړ او د همدې ځواك او د حقاني د ښه درایت له امله خوست په داسې حال کې هم تر

ټولو امن ولایت دی چې د اشغالګرو د یادو وحشي ـ ملېشو یواځینی مرکز ګڼل کېږي، نو چې د مې لومړۍ نېټې پر راتلو له یادو شرائطو ووځي، هغه مهال به ته د ننګولو وي او تـه هـم پرې د ملېشو او اشغالګرو د ازمایښ.

سرچپه په دې وروستیو کې چې یـادې ملېشـې طالبـانو وټکولې، پـه لـومړي وار د کشـف پـر آمریـت، وروسـې د زاړه میدان دروازه کې را ټول شویو ضربتي ملېشو بانـدې د طالـب بریدګرو د بریدونو په مهارولو کې پاتې راغلل او په وروستي وار یې د صبریو د چاپې هڅـه خـورا لـه مـاتې سره مـخ شـوه، طالبـانو یـې پـر مـټ یـادې ملېشـې لـه ور کـې جذب شـویو اشغالګرو سره وننګولې او ځپله راتلونکې ورتیا یې پرې دلتـه هم و ازمایله، د صبریو د وحشت په غبرګـون کـې یـې پـرې پـه توغندیزو بریدونو بیاهم وننګول، خو د اشغالګر دښـمن ځـواب لا هم دا و چې یواځې غرونه پر توغندیو وولي او بس.

د راتلونکې لپـاره تیـاري پـه اړه مـوده مخـکې حقـاني د طالبانو مسئولینو ته په ویتا کې په خورا ډاډه لهجه دا هم ویلي: (که اشغالګر ترون ماتوي مات دې یې کړي، د اسلامي تـاریخ هر ترون کفارو مات کړی، دا دې هم دوی مات کـړي. د همـدې ویتـا پـه اوږدو کـې وایـي: لـه ۱۵ کالـه مخـکې مـو پـه ډېـر کمزوري حالت کې په کمزورو امکاناتو، خو د ایمان پـه قـوت سره مقابله وکـړه، اوس خـو الحمـد للـه (د دې ترخنـګ) ځپلـه ټیکنالوجي لرو، تحدیث بالنعمة او د (و اعدوا لهم ما استطعتم من قـوة) پـه ډاډ یـې وایـم چـې داسې الات مـو جـوړ کـړل او جهادي لښکر مو په فکري او عصري وسائلو داسې سـمبال کـړ چې د تېر وخت ارمان به وکړي... هغـه ورځ مجاهـدینو ۸ ورون برابرې کړې وې، اهداف یې هم تیار و، خو ما ورته وویـل چـې صبرا...)

وراندي وایي: (زموږ لخوا معاهده سـاتل زمـوږ تنـزل او ضعف نه دی، بلکې... موږ که جهاد روان کړی دی، په شریعت مو جاري ساتلی او که خبرې مو رواني کړې، هم پـه شریعت مو رواني کړې دي، موږ خانونه شریعت ته حوالـه کـړي، مـوږ ته طبیعت نه؛ شریعت معتبـر دی... اوس دا سـوال پیـدا کېـږي چې درګرد امریکایان، ناټو اتحادیان چې کومې غلطۍ کـوي او له توافق لیك څخه سرغړونې کوي، مثلاً: یـو ځـای کـې چاپـه واچوله. بل ځای کـې یـې بمبـار وکـړ... دا زمـوږ د مجاهـدینو غیرت نه مني.

خـو شـیخ صـاحب حفظـه اللـه وایـي: مـوږ پـه شریعت منګولې لګولې، موږ ته د اسلام مقدس دین معتبر دی، د اسلام په تاریخ کې چېرته هم مسلمانانو معاهده نه ده ماته کړې، بلکې کفارو نقض او سرغړونـې تـرې کـړې، بیـاهم کـه چېـرې مـوږ معاهده ماتوله، نو په غدر او دوکه به نـه وي، څرنګـه مـو چې ټوله دنیـا د معاهـدې لاسـلیکولو پـه مهـال را جمعـه کـړې وه، همدغه شان به بیا نړۍ را جمعه کوو چې مـوږ پـه دغـو ټکـو درسره معاهده کړې وه، اوس چې تا ماته کړه، زموږ لخوا هـم د پـلاني تـاریخ څخـه وروسته درسره ماتـه ده... کـه مـوږ لـس ولایتونه په دوکه فتحه کړو، دا زموږ لپاره هیڅ کامیابي نه ده، چې الله تعالی پرې ناراضـه وي، د اسـلام او مسـلمانانو تـاریخ پرې داغداره کېږي).

د صبریو په وحشت پسې اوس چې بایډن د دوحې د ترون پر نقض د ځواکونو ایستلو موده څو میاشتې اوږده اعلان کړې دا هم د نا اعلان شوې هغې ډول جنګي سـتراتېژۍ پـه مانـا دې چې ټرمپ د ځپلې ولسمشرۍ په لومړیو کـې د شـپږو میاشـتو لپاره اعلان کړې وه، خو له ناکامۍ وروسته یې له طالبانو سره مذاکرې ته را وراندې شو، ورسره دا چې د امریکا دفاع وزارت منلې چې تر سپټمبر پورې د پاتې ځواکونو خونـدې ایسـتلو پـر نوم نوي ځواکونـه او الـوتکې هـم را لېـږي، هماغـه د اوبامـا د ولسمشرۍ په لومړیو کې د۳۰۰۰۰ځواکونو را لېږلو چې د هغه یوه لویه تېروتنه او د ناکامۍ پیل وګڼل شوه تکرار دی، نو پـه دا ډول شرائطو او داسې حـال کـې چې رقیـب یـې (ټرمـپ) د متحد ایالتونو او امریکایي ولس د ځواکونو سـتنولو او افغـان جګړې پای ته رسولو امیدونه او هیلې د پوره کېدو تـر درشـله رسولې وې، بیاهم که بایډن په تورو نوموتو د اوبامـا او ټرمـپ

هغه ناکامې ستراتېژۍ تکراروي، تو که له يوې خوا به خورا پر درنه ورته پرېوزي، له بلې خوا بـه د متحدو ايـالتونو پـاتې حيثيت هم له خاورو سره برابر او د امريکايي ولس سربېره بـه ځان او امريکا لانوره هم نړۍ ته بدنامه کړي.

بوش خو که پر افغانستان د نړيوال ائتلاف پر مټ د بريـد تېروتنه وکړه، په خپل خيالي لومړۍ رتبه مادي ځواک غولېدلی و او دلته د مالي، ځاني او سياسي زيانونو ترخه غړپونه يې تـه و کړي، وروسې اوباما که د۳۰۰۰۰ لازياتو ځواکونـو رالېږلـو تېروتنه وکړه، خو د بوش پر زين کړي خـره سپور و او د واک د وروستيو غورځو پورځو يې بيا کار ور نکړ او که ترمـپ شـپږ مياشتينۍ جنګي ستـراتېژي اعـلان کـړه، خـو پـه خپلـې هغـې سادګۍ ياحماقت چې له امله يـې د بايـډن اداري د دانفـورډ پـه څېر جګړه مارو قوماندانانو هم تپرايستلای شو، په ولسمشرانو کې د حماقت ريکارډ لري او ټوله نړۍ يې شاهده ده، خـو بيـاهم يې د واک له نيمايي تـر وروسـتۍ شـېبې د متحـدو ايـالتونو او امريکايي ولس د هيلو او اميـدونو لپـاره کـار وکـړ او د پـوره کېدو تر درشله يې ورسولې.

خو اوس په داسې حال کې چې نه د امريکـا هغـه مـادي ځواک، نړوال رعب او د سيالو قدرتونو ملاتـړ پـاتې چـې بـوش پرې غولېدلی و، نه په هغه کچه اشغالګر ځواکونه او د هغـوی د جګړې هغه روحيه پاتې چې په تمه يې اوباما لازيات رالېـږل او نه د ترمپ جنګي ستـراتېژي او ټـول حماقـت کـار ور کـړي، بلکې لا د سوال او زاريو سوله ايز حل ته يې اړ کړ، لـه دې ور ها خوا امريکا او امريکايي چـارواکو د افغانسـتان پـه اشـغال کې ټولې ترخې هم غـړپ کـړې او اوس شرائـط هـم پـه بشـپړه توګه د طالبانو پر لور او پر مټ يې طالبان د اشغالګرې نړۍ يو ستر سيال ګرځېدلي، که بايډن د هماغه ناکامو تجربـو تسلسـل روان سـاتي، پـه طبيعـي او بـديهي ډول د ځواکونـو ايسـتلو د پراخېنې فرصت چې طالبانو ور کړی او ترمـپ ور پـرې ايښـی پر له لاسه ور کولو ځان او اداره يې د متحدو ايالتونو تر ټولـو ناکام، بې کفايته او مـاتې خـوړلې پـه ګوتـه کـوي چـې دغـه

وروستی اعلان او د هغه پر بنسټ مبهمه پاليسي- يـې لـومړی ځرک دی.

دا چـې د دوحـې تـړون مـاتول، جنګـي سـتراتېژي او د ځواکونو ايستلو پر ځای يې لازيـانول درې واړه د بايـډن د يـاد اعلان په ضمن کې راځي او بيا دا هرڅه او ټولې ستراتېژۍ لـه مخکې لومړی د جګړې په مانا او بيا وروسـې د طالبـانو لخـوا ناکامې شوې، دا ځل به يې بايډن په ناکامه تجربه کې د جګړې باپللو او ستراتېژي د ماتې تر څنګ هغه ګټې هم لـه لاسـه ور کړي چې د دوحې تړون کې خوندي دي او اخېر به هم اشغالګر د جګړې له لارې خپلې، ماتې خوړلي او سرټيټي وځي.

ورسره په دې صورت کې طالبان اړ نه دي پر پاتې بهرنيو ځواکونو بريدونه ونکړي، بلکې له سياسي، حقوقي او اصـولي اړخه يې کولای شي، خپل حق يې ګڼي او تابيا يـې هـم ورتـه نيولې چې د څېرونکو پـه انـد لـه املـه بـه يـې د پـاتې بهرنيـو عسکرو ژوند له جدي ګواښ سره مخ وي، همدا راز بيا طالبـان اړ نه دي چې په راتلونکي کې القاعدې او بلې جهادي ډلې تـه ځای ور نکـړي، د امريکـا ملاتـړو هېوادونـو تـه ګـواښ پېښ نکـړي، پـه سيمه ييـزه او نړيوالـه کچـه متحـد ايالتونـه ونـه ګوابنې، د هغوی پوځي او سياسي تحرکات ونـه ننګـوي، د يـو اسيايي ځپلواک هېواد د نړوال سياسي ځـواک پـه حيـث لـه ابـر قدرتونو د دفاعي سيستم پېرلو- د ايټمي هستې رامنځته کولـو او د خپلو هـر ډول اقـداماتو پـه اړه سـپيناوی او وضـاحت ور کړي، د ملګـرو ملتونـو سـازمان اصـولو او پرېکـړو تـه التـزام ولري، او...

د بايډن د اعلان او د نورو ځواکونـو را لېږلـو تـر څنـګ لوېـديځو رسـنيو او ليکوالانـو خبـر ورکـړی چـې نومـوړي د افغانستان جګړه پای ته نه رسوي، بلکې قـراردادي ملېشـو تـه يې سپاري، ورسره هم مهال داسې مالوماتونه هم ترلاسه شـوي چې په هېواد کې د اشغالګرو شمېر د هغـه چـې ښـودل کېـږي دوه برابره او له دې هم زيـات دی، کـه حقيقـت ولـري، نـو دا د دوحې د تړون خلورم نقض دی چې د بايډن اعلان يې پـه ضـمن

کې لري، بل خوا ممکن دغه قراردادي همدغه صفر يو او کمپاين ملېشې وي چې پکې به ياد پټ شمېر اشغالګر هم جذب وي او بل ښايي اشغالګر د غواکونو پټې شمېرې د تازه دمو غواکونو په نوم په داګه کړي.

خو دا هم ښايي چې د دغه پټ شمېر عسکرو پر تراو بايډن له ټرمپ او د هغه له جګړه مارو سلاکارانو د مخالف نظر په لرلو غواړي د يادو عسکرو رول قراردادي ملېشو ته نقل او له دې فرصته په استفاده ښکاره او پټ عسکر بشپړ وباسي، نو که نور عسکر را لېږي، د همدې پټ شمېر عسکرو چې ايستل به يې د مئ تر لومړۍ نېټې رښتيا هم ستونزمن او د مسئولانه ايستلو لپاره يې تر سپټمبر د مودې غځولو اړتياوي ترڅو همدا پټ عسکر پکې په اسانۍ و ايستلای شي، خو پر مټ يې د ترون ماتېدل د اشغالګرو د هر غدر لاره پرانيزي چې پيل يې همدا د ترون ماتول وي او بيا د هيڅ پېښې احتمال نشي ردېدلای.

له همدې امله طالبان اړ دي چې پر ترون له سره غور وکړي او د اپرېل۳۱مې د شپې۱۲بجې۵۹دقيقې او۵۹ثانيې پوره کېدو سره سم له۱۴مياشتې کلك تعهد او د هغه پر بنسټ څنډ وروسته د مئ مياشتې پر لومړۍ نېټه پر اشغالګرو غواکونو يو ځل بيا بريدونه پيل او د بايډن د اعلان پر غوښتنه پاتې موده له خپل لوري ور غوځه کړي. له هغه وروسته چې ترون مات او طالبان هغه ته پر التزام مکلف نه دي، که اشغالګر ونه وځي، جګړه کوي او رښتيا هم قراردادي ملېشو ته جګړه سپاري، ډېر د دې امکان شته چې بيا اشغالګر د پاتې عسکرو ايستلو هره لاره ورکه کړي او له امله به يې د ښکاره او پټ شمېر ټولو عسکرو ژوند له ګواښ سره مخ وي.

ځکه که له يوې خوا به طالبان نوې او زوروره جګړه پيلوي، له بلې خوا له ترون څخه د سر غړونو غچ به اخلي او له درېيم لوري به د مذاکراتو پر نوم وخت ضائع کولو، له سوله بېزې لارې د غواکونو ايستلو په پلمه پر بهرنيو غواکونو د بريدونو څنډ او بيا په پای کې د دوحې ترون هم بشپړ ماتولو قضايي او تلافي هم ښايي وکړي، همدا لامل به وي چې المان او ځينې نورو هېوادونو د وتو هڅې چټکې کړې او برطانيې ته هم امريکا خبرداری ورکړی چې غواکونه دې له ټاکلې مودې دوه مياشتې وړاندې ستانه کړي.

په هر رنګ طالبانو چې اوس د جګړې، سياست/ډيپلوماسي او ژمنو ته د کلك تعهد ټول ميدانونه ګټلي، اړ نه دي د بايډن له اعلان، د دوحې پر ترون له سره غور او د مئ له لومړۍ نېټې وروسته د خپلو پرېکړو په اړه سپيناوی ورکړي، يا بايډن او د هغه اداري ته نوي آفشنونه/غوراوي وړاندې کړي او يا هم د چا د سر خلاصي زحمت وکړي، طالبانو د متحدو ايالتونو د وخت له اداري سره ۱۴مياشتې موده منلې، له پای ته رسېدو سره سم يې د بايډن اعلان د لغوې په مانا دی، نور هرڅه پر هغه، د هغه پر اداره او امريکايي ولس اړه لري، خو ښايي دلته يې د قراردادي ملېشو ازمايښه جګړه هملته پر کور پسې ور ننباسي.

د دوحې ترون که وي او که مات شي، ورته په خپل کلك تعهد او ژمنتيا طالبانو په تاريخ کې د افغانانو د يو نه هېرېدونکي وياړ په حيث ثبت کړی، له ماتېدو وروسته پېښې، فتحې او پرمختګونه به يې لا زيات وياړ دنګ او تاريخ زرين کړي، د اسلام په تاريخ کې چې کوم ترونونه شوي، د کفارو له لوري له ماتېدو سربېره يې لا تر اوسه په تاريخ کې د وياړ په توګه پاتې کېدو راز همدا دی، نه د مسلمانانو ترون ته د کفارو په ژمنتيا د هغه وياړ لوړ شوی او نه يې پر نه ژمنتيا حيثيت بايللی، بلکې د کفارو حيثيت يې يا ژغورلی، ياهم له خاورو سره خاورې کړی او پرې خپل حيثيت يې دنګ شوی... پای

....په تيرېسي
م: شمس....

غامدیت...
د اوسني عصر لويه فتنه...

دغامدي څو فکري تضادات:

احاديثو باندې په غور کولو کې تضادات:

غامدي ته «اصول جوړول او اصول ماتول» څه دومره سخت کار ندی البته هغه نور د اصولو منلو او رعايتولو ته ورېولي خو خپله يې پروا نه ساتي او نه يې لحاظولو ته خان ژمن بولي، تردې چې هغه اصول چې نوموړي پخپله د خان لپاره جوړکړي دي پر هغو هم نه ودرېږي او نه يې لحاظوي.

په احاديثو باندې د بحث و استدلال لپاره غامدي دا يو اصول بيان کړی دی چې د هغه اړوند باب ټول روايتونه په مخکې اېښودل پکار دي او بيا د هغو په اړه رايه جوړول پکار دي ليکن د مرتد په سزا کې خپل دا اصول يې يومخ له پامه غورځولي دي نوموړی ليکي:

څلورم څېز دا دی چې د هرحديث د مدعا تعينولو پر مهال د هغه باب ټولو روايتونو ته کتل پکار دي، په څلونو داسې کېږي چې يو تن د حديث يو مفهوم اخلي خو کله چې د هغه باب ټول روايتونه وکتل شي نو هغه مفهوم بلکل په بو بل صورت کې راوځي. (ميزان ۷۳ مخ دوهم چاپ ۲۰۰۲ز، اصول ومبادي ۷۲مخ، ۲۰۰۵)

خو کله چې د مرتد معامله راغله نو پر هغه باندې د بحث او استدلال کولو په وخت کې يې د هغه باب څو احاديث پرې اېښي دي، يواځې يو حديث يې اخيستی دی او خپله ناسمه رايه يې جوړه کړې ده نوموړی وړاندې وايي:

د ارتداد د سزا دا مسئله محض د يوحديث مدعا د نه پيژندلو په وجه پيدا شوې ده د ابن عباس رضی الله عنه روايت دی، دا حديث په بخاري کې داسې نقل شوی دی: «من بدّل دينه فاقتلوه»کوم سړی چې خپل دين بدل کړي هغه قتل کړئ، زموږ فقهاء بالعموم يو حکم عام گرځوي د کوم اطلاق چې د هغوی په اند پر هغو ټولو خلکو باندې کېږي کوم چې د رسالت د زماني نيولي تر قيامت پورې په دې زمکه باندې چېرته اسلام پرېږدي، د هغوی په رايه هر مسلمان چې پخپله ازادانه خوښه کفر غوره کړي هغه به ددې حديث له مخې قتل کولی شي. (برهان۱۳۹مخ، ۴ چاپ ۲۰۰۶ جون)

غامدي صيب وړاندې نور جارست کوي او ليکي:

خو د فقهاوو دا رايه صحيح نده، بيشکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حکم ثابت دی خو زموږ په نزد دا حکم عام نه و، بلکې يواځې تر هغو خلکو پورې خاص و په کومو کې چې د رسول الله بعثت شوی و او د کومو لپاره چې قرآن مجيد کې د«اميين» اصطلاح استعمال شوې ده (برهان ۱۴۰مخ۴چاپ ۲۰۰۶)

ددې وروسته بیا وایي: زموږ د فقهاوو غلطي دا ده چې هغوی د قران وسنت د خپلمنځي ربط نه د حدیث مدعا فهمولو پر ځای هغه عام وګرځاوه او د هر مرتد لپاره د مرګ سزا وټاکله او په دې توګه یې د اسلام په حدودو او تعزیراتو کې یوه داسې سزا اضافه کړه کومه چې په اسلامي شریعت کې ثبوت نلري (برهان ۱۴۳مخ، ۴چاپ، ۲۰۰۶)

ګورئ! د مرتد د سزا په باره کې غامدي صیب یو حدیث مدار ګرځولی دی او په دې معامله یې بحث او استدلال کړی (او هغه هم د عربي لغت خلاف معنی اخلي) او په دې باب کې په شته لاندینو احادیثو یې سترګې پټې کړې دي:

۱ـــ صحیح بخاري او صحیح مسلم کې متفق علیه حدیث دی چې:

عن عبد الله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايحل دم امرىءٍ مسلمٍ يشهد أن لا اله الا الله، واني رسول الله الاّ باحدى ثلاث: النفس باالنفس، والثيب الزاني، والمفارق لدينه التارك للجماعة) [صحيح البخاري، رقم ۲۸۷۸].

د حضرت عبد الله (بن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ) نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د هیڅ مسلمان وینه تویول روا نه دي، کوم چې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی پرته بل معبود نشته او دا چې زه د الله تعالی رسول یم ماسیوا د دري صورتونو څخه: یو دا چې هغه څوک قتل کړی وي، دوهم دا چې هغه واده کړی زاني وي او دریم دا چې هغه دین پریږدي (د مسلمانانو) له ډلې ووځي.

همدا حدیث د صحیح بخاري نه علاوه صحیح مسلم، سنن ابي داود، جامع الترمذي، سنن نسائي، ستن ابن ماجه، سنن دارمي او مسند احمد کې هم موجود دی، او د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه علاوه د حضرت عایشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا او د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه هم روایت شوی دی.

۲حدیث: غامدي د مرتد سزا په اړه په یو بل حدیث هم سترګې پټې کړې دي هغه دی د سنن ابي داود حدیث:

عن ابي امامة بن سهل قال: كنا مع عثمان و هو محصور فى الدار مدخلمن دخله سمع كلاممن على البلاط الخ

ابو امامه بن سهل رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت کوي چې زه او نور کسان د عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره یوځای وو، کله چې هغه پخپل کور کې کلابند و، د هغه په کور کې یوه لاره وه چې د هغې دننه ولاړ سړي به د کور په بام باندې د ولاړو خلکو خبرې اوریدلی شوې حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هلته راغی د هغه رنګ تغیر کړی و، هغه بیرون ووت او ویې فرمایل: اوس دا خلک ماته د قتلولو اخطارونه راکوي موږ عرض وکړ: امیرالمؤمنین! تاته د دوی په مقابل کې الله کافي دی بیا یې وفرمایل: دوی ما ولې قتلول غواړي؟ ما درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې د هیڅ مسلمان وینه حلاله نده سیوا ددې دري صورتونو څخه چې یوصورت وي ۱ـ هغه د اسلام راوړو وروسته کفر غوره کړي (مرتد شي) یا د واده وروسته زنا وکړي، یا څوک په ناحقه قتل کړي...

نو په دې توګه غامدي دا روایت له پامه غورځولی دی او د خپلو اختراع کړي اصول یې هم له پامه غورځولي دي چې له امله د فکري تضاداتو ښکار شوی دی او پخپله هم بې لارې شوی دی او هم د نورو د بې لارې کولو کوښښ کوي.



ايا امام زهري غير ثقه راوي دی؟

د غامدي له تضاداتو څخه يو بل تضاد دا دی چې مشهور محدث او فقيه «امام ابن شهاب زهري رَحِمَهُ ٱللَّهُ» غير ثقه او ناقابل اعتبار راوي هم ګرځوي خو بيا هم د هغه نه په روايت شويو احاديثو باندې استدلال هم کوي.

لکه غامدي چې د صحاح په مشهور حديث: «سبعه حرف» باندې بحث کړی دی د هغه حديث د يو راوي امام زهري په باره کې يې ليکلي دي چې:

د هغه (امام زهري) هيڅ روايت هم بالخصوص په دغه ډول اهمو معاملاتو کې د قبلولو وړ نشي کېدای (ميزان ۳۱مخ ۲چاپ ۲۰۰۲ز)

دلته غامدي امام زهري غيرثقه او ناقابل اعتبار راوي ګرځولی دی او د هغه د هر روايت له قبلولو څخه يې انکار کړی دی، حالانکه ابن شهاب زهري محدثينو، فقهاوو، د جرح و تعديل ايمه وو، ثقه بلکې اوثق، او د اعتبار وړ رواي ګرځولی دی.

لکه ابن حجر عسقلاني د «تقريب» په ۲ټوک ۲۰۷ مخ، امام ذهبي د «ميزان الاعتدال» ۴ټوک ۴۰مخ، او امام ابن حبان د «کتاب الثقات» ۳ټوک ۴مخ کې ثقه او د اعتماد وړ راوي ياد کړی دی.

د تعجب وړ خبره داده چې غامدي پخپل کتاب «ميزان» کې امام زهري غيرثقه او غير معتبر راوي ياد کړی دی او بيا د همدې کتاب په هر باب کې يې د هغه په درجنونو مرويات صحيح منلي او پخپل حق کې يې په هغو استدلال هم کړی دی.

د مثال په توګه: د ميزان په لاندې ځايونو کې غامدي د امام زهري رَحِمَهُ ٱللَّهُ په روايتونو استدلال کړی دی:

۱ـ په ۱۷۱ يم مخ کې د کافر او مسلمان د وراثت په باره کې د صحيح بخاري ۶۷۶۴ حديث.

۲ـ په ۲۵۴ مخ د جهاد د اجرو ثواب باره کې د صحيح بخاري ۲۷۸۷ حديث.

۳ـ په ۲۹۷ مخ کې په حدودو تعزيراتو کې د خطا قتل باره کې د صحيح بخاري ۱۴۹۹ حديث.

۴ـ په ۳۳۷ مخ کې د قسم او کفارې په باره کې د ابوداود ۳۲۹۰ حديث.

نو په دې توګه غامدي په شکاره فکري تضادات لري، لکه يو طرف ته امام زهري غيرثقه او غير معتبر راوي ګڼي خو بل ځای کې بيا هغه ثقه او معتبر راوي ګرځوي او د هغه په روايتونو استدلال کوي نو له هغو ناپوهانو څخه چې په غامدي پسې روان دي پوښتنه کوو چې آيا دا اصول پرستي ده که خواهش پرستي؟

شکاره ده چې غامدي هيڅکله کوم د باور او اعتماد وړ ديني عالم ندی، هغه يواځې د غربي مستشرقينو کتابونه مطالعه کړي دي او د هغوی نه په خطا فهم اخيستو سره يې په مسلمانانو کې د الحادي افکارو او عقايدو خورولو ته ملا ترلې ده بايد مسلمانان د داسې يو کم علمه انسان په نرمو خبرو او جالبو ويناوو تير نه وځي او د اسلامي شريعت د تفسير او تعبير په لړ کې د اسلامي امت په پخوانيو ايمه وو او علماوو باندې اعتماد نور هم ټينګ وساتي.

نور بيا...

د اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو ساتونکي ځواک ته اړتیا

عبد الله بن عمر بن العاص رضي الله عنه ستر عبقري سیاست پوه و، د رومیانو په غدرونو، چالاکیو او شطارتونو ډیر ښه پوهېد، ځکه یې یو ځل اسلامي لښکر ته په خپله وینا کې داسې وویل: ((آسونه مو ښه ماړه او خروب ساتئ، څاربه یې کړئ، ساتنه یې وکړئ او قدر یې وکړئ ځکه دا له دښمن څخه ستاسې ډال دی او د همدې په برکت غنیمتونه لاسته راوړئ.))

یوازې په وینا بسنه نه کوي بلکه عملي اقدام کوي او ورته وایي: ((یوه شئ زه د سړیو په څېر ستاسې آسونه هم ننداري ته وړاندې کوم، چا چې بې موجبه خپل آس ډنګر کړی وي هغومره به یې وظیفه ښکته کوم.))

وړاندې ورته وایي: ((یوه شئ چې تاسې تر قیامته پورې په رباط کې یاست ځکه شاوخوا مو دښمنان زیات دي، د هغوی زړونه ستاسې خاورې ته هوسیږي ستاسې زمکه د لوی خیر، فصلونو، معدنیاتو او برکتونو څخه مالا مال ده.)) تاریخ مدینة دمشق

د عمر بن العاص رضي الله عنه دغې وینا ته موږ افغانان نن صبا ډیر اړتیا لرو، چې باید په حافظه کې یې نقش وساتو او عمل پرې وکړو، ځکه د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت د دې لامل شوی چې وخت پر وخت له بهرنیو یرغلونو او مداخلو سره مخ وي.

یو لور ته د مقابلې لپاره د افغانانو نه چمتو والی او د دفاع لپاره لازم تدابیر او اسباب نلرل، او بل لور ته د وخت حاکمانو او ځواکونو د یرغلگرو په صف کې درېدل د دې لامل شوي چې افغان ولس له ډول ډول کړاوونو او ناخوالو سره لاس او گریوان او غمیزه یې لسیزو ته وغزیږي.

د بهرنیو یرغلونو پر مهال په اسلامي او ملي روحیه روزل شوی ځواک نه لرلو څخه په استفادې یرغلگر راولاړ شوي له خپلو غلامانو څخه یې باندونه تنظیم کړي او د ملي مختارې یې ورسره سرېښ کړی او د افغانانو وژنې ته یې په شا ټپولي دي چې ښه بیلگه یې د امریکایي ښکیلاک له نطفې څخه د زیږیدلو پوځي بنستونو ده.

خبره یوازې تر بهرنیو یرغلونو او مداخلو پورې محدوده نه ده په کور دننه هم افغانانو ته د دښمن سازی هڅه روانه ده، د سي آي اې وحشي ملیشې، مذهبي جگړو اور ته د لمن وهلو لپاره په موخه تشکیل شوې ملیشې او داعش د راتلونکي هغه چیلنجونه دي چې که افغانان یې د تسخیر او مهار کولو لپاره مناسب ځواک ونلري له یو ستر ناورین سره به مخامخ شي.

له نیکه مرغه داسې ښکاري چې د جهادي مقاومت مشرانو دا ضرورت درک کړی، او په اسلامي او ملي روحیه د روزل شوي ځواک د تنظیم او انسجام لپاره یې هڅې ګړندی کړي، په دې وروستیو کې موږ د فاتح ځواک په نامه پر پوځي مانورو او تکتیکونو احتوا کوونکو دوه فلمونو شاهدان یو، چې د طالبانو د اسلامي تحریک له لوري ننداري ته وړاندې شول او د طالب جنگیالیو د عالي نظم او دسیپلین ښکاروندویې یې کوله. په فلمونو کې د طالب مشرانو له پیغامونو جوتیږي چې هغوی د دغسې یو قوي ځواک تنظیم، تجهیز او په پښو درولو ته پوره متوجه دي او په هیڅ صورت ورڅخه تېریدونکي نه دي.

ځکه د تیرو دوو جهادونو د ملیونونو شهیدانو د ارمانونو تحقق او په ټوله کې د اسلامپالو بقاء تر همداسې یوه ځواک پورې تړلې ده.

د لبنان یو تن عالم سراج الدین زریقات یو کال وړاندې پر خپل تیلګرام چینل لیکلي و چې د لبنان مفتي حسن خالد د لبنان صدر اعظم رفیق الحریري ته یو ځل وویل:

((که غواړې په لبنان کې اهل السنت (سنیان) وساتې، نو لازمه ده چې د سنیانو یو پنځوس زره کسیز ځواک تشکیل کړې.

رفیق حریري د مفتي حسن خالد دغه خبره ونه منله نتیجه یې هغه ده چې له دیرش کالو راپدیخوا یې مشاهده کوو.))

متو چې د دې ځواک په تنظیم، تجهیز روزنې او سمبالونې به ډیر زیات لګښت راځي خو دې هر څه ته له غاړې کیښودلو پرته بله چاره نشته، د نړۍ ټول هیوادونه تر ټولو زیات لګښت په دفاعي او پوځي چارو کوي او د دې ثمره یې هم ترلاسه کړې او د دښمنانو له شر څخه یې ځان خوندي ساتلی.

عید را اوّل به خانه شهدا ببریم

محمد داود مهاجر

جهاد یکی از فرایض بزرگ دین است، که بخاطر احیا و زنده نگاه داشتن این شاهرگ اسلام، جوانانی از خود گذشته و فداکار، جان های خود را دو دسته تقدیم کردند، اولاد خود را یتیم و همسران خود را بیوه نمودند و به عهد خود تا آخرین قطره خون خویش، ایستادگی نمودند.

آیا می دانید که آنها، وفادار و ایثارگر از دنیا رفتند و نوبتِ وفا و ایثار را به من و شما گذاشتند!

آنها رفتند و جان را در طبَقِ اخلاص گذاشته تقدیم دین و دفاع از ناموس ما کردند. آن ها جان دادند تا ما زنده بمانیم. آنها ترک اولاد خود کردند، تا اهل و اولاد ما محفوظ بمانند. آن ها زنان خود را بیوه کردند، نه بخاطر اینکه دوست شان نداشتند، بلکه بخاطر اینکه عیال من و شما در آرامش و امنیت باشند، تا اینکه دشمنان اسلام به سوی آنها نگاه چپ نیاندازند.

آنها رفتند و زنان خود را بیوه کردند؛ آنها رفتند و روی بچه‌ها و دلبندان خود نام یتیم و پسران شهید گذاشتند؛ آنها بر قله‌ی ایثار، غیرت و گذشت پا گذاشتند.

اما من و تو در کدام پله غیرت پا گذاشته ایم؟ دروازه کدام یتیم و خانواده شهید را باز کرده و خوشی عید را به خانه های آن‌ها برده ایم. به خدا قلبم می‌تپد و اشکانم دیگر قرار ندارند.

خوشی عید آمد و خانه شهید در ماتم است، بچه‌های شهید به سفره و لباس‌های دیگران چشم بسته و با خوشی آنان تبسم می‌زنند؛ اما اینکه خود لباس نو و جدید داشته باشند را فراموش کرده اند. چون پدر ندارند. پدر شان قربانی حفاظت از خانه ما شده است.

اما، آیا ما غیرت را می شناسیم!؟ معنای وفا را دانسته ایم!؟ احساس تنهایی همسر و اولاد شهدا را درک کرده ایم، زمانیکه در صبحِ عید، ژولیده موی و با چهره ای غمدیده به دَستان سرخ فرزندان دیگران نگاه می کنند؟!! آه ! یا الله ما را بیا مرز.

صبح عید است و خوشی سرتاسر کوچه ما را فراگرفته است، غیر از دوتا خانه، که غم و ماتم سرای آن ها را به تاریکخانه ای تبدیل کرده است.

آری، خانه شهید، خانه ابر مرد تاریخ، خانه شیرمرد اسلام، خانه ای که پر از غیرت بود. آری، خانه شهید.

بیائیم و عید را اوّل به خانه شهدا ببریم، بیائیم و اوّلین لباس را به جسم نازنین بچه های شهدا بپوشانیم، بیائیم و اولین خانه ای که پر از خنده است، خانه شهدا باشد، بیائیم و اولین بوسه را بر رخسار فرزند شهید بزنیم، بیائیم و در روزهای اول عید، کنار درب خانه شهدا را از رفت و آمدِ خود، ازدحام درست کنیم، تا هیچگاه احساس تنهایی نه کنند؛ بلکه همه اهل کوچه به آنها غبطه بخورند، که بهترین کالا را پوشیده اند، رشك ببرند که خانه شهید چقدر پر رفت و آمد است.

اگر بچه‌های من و تو در روز عید یک لباس دارند، بچه‌های شهید دوتا و سه تا لباس داشته باشند، یکی تو برده باشی، یکی من و یکی ملا امام مسجد ما.

بیائیم و وفاداری را زنده کنیم. آنها وفا کردند ما نیز وفا کنیم، زیرا «هل جزاء الإحسان إلا الإحسان» عوض و پاداش خوبی فقط خوبی است. احسانی که شهدا در حق ما کرده اند بعد از پیغمبران شاید کمتر کسی از مخلوقات، چنین احسانی بر ما کرده باشد.

امیدوارم تمام کسانی که این کلمات شکسته را می خوانند، به خواندن اکتفا نکنند و از همین حالا دست به جیب و رو به خانه شهید شوند، تا باشد که در روز قیامت در پهلوی شهدا برای ما نیز جایی پیدا شود.

اتحاد

شهید مولوي اخترمحمد زاهد – تقبله الله –

اتحاد لره قایل حاکم قران دی
اعتصام بحبل الله عظیم بیان دی

ځانځاني لوی هلاکت او ورکېدل دي
اتحاد باندې قایم زمین اسمان دی

د ګبین مچیو جوړ چې اتحاد کړ
قدر وړیې په هر ځای کې لوی کاروان دی

اتحاد ځیني اغیار واړه لړزېږي
اتفاق ته روعب ورکړی پاک سبحان دی

متفق اشخاص که لږ وي؛ تري خطر وي
په نفاق باندې هر فرد ورک له میدان دی

اتحاد کې مشر کشر تعظیم کېږي
ځانځاني واله ذلیل ګډ په نیران دی

د خپل مشر اطاعت هم بیا واجب دی
د نبي په احادیثو کې عیان دی

مسلمانو! اتحاد باندې ملبوس شئ
د اخترمحمد په زړه کې دا ارمان دی

shahamat



د (ثالث عمر) په نوم مهم او تاریخي کتاب چاپ شو!

دا کتاب پیاوړي لیکوال او شاعر قاري عبدالستار سعید صاحب له ډېرو هڅو او خواریو وروسته په خپلو هنري ګوتو په ۵۲۰ مخونو کې لیکلی چې د لیکنې ژبه یې روانه او پسته ده.

د " ثالث عمر" کتاب د افغانستان د اسلامي امارت د مؤسس مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له زوکړې تر وفاته، د هغه ژوند، مبارزه، جهاد او د اسلامي امارت پنځه کلنه دوره، کارنامې او قیادت په خپله محتوی کې رانغاړي.

د ثالث عمر کتاب د ملا صاحب د ژوند ټول ابعاد څېړي، ګڼ رازونه او اسرار یې چې مخکې نه و ویل شوي، په پوره تدقیق او تحقیق سره راوړي او د لوستونکو په وړاندې یې په استناد ذکر کوي.